شهامت

شپږم کال لومړی گڼه پرلپسې ۳۲ گڼه جمادي الثاني – رجب المرجب ۱۴۳۲ هـ ق، جون ۲۰۱۱ م

طالبان یوغښتلی خواک

سرکوزي چا مات کړ؟

امریکا د پوځي ډگر تر څنگ د سیاسي او اخلاقي پلوه هم لاسته راوړنې نه لري

ولسي جرگې د کوم صلاحیت له مخې ستراتیژیک تړون تصویب کړ؟

عملیات "الفاروق" سنگریان توحید

روږ گان د فطري جهادي احساسات و وطن

در بیرون از کنفرانس شیکاگو چه میگذشت ؟!

د بادغیس ولایت د جهادي مسؤل سره مرکه

عظیم الشان قرآن بیا وسیزل شو !!

د میړمنو فرایض او وظایف

په امریکایي پوهنتون کې د اسلام ضد مواد و تدریس او اهداف

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

شپږم کال لومړۍ ګڼه، پرلپسې 33 ګڼه، جمادي الثاني - رجب المرجب 1433 هق، مې 2012 م

د امتياز خاوند:

د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير:

ابو ظهير

کتنپلاوی:

شاهدالله "حقاني" لطيف عزم
حسن "علوي" بلال "وحيد"
نعيم "صافي" عابد مجاهد

بيـه:

يوه ګڼه 15 افغانۍ او 20
کلدارې په پاکستان کې

تخنيکي مسؤل:

زرملوال او حقمل

يـادونـه

شهامت له سرمقالې پرته د نورو ليکنو
مسؤليت په غاړه نه اخلي

لـړليـک

ګڼه	عنوان	مخ
1	سرليکنه	1
2	در بيرون از کنفرانس شيکاګو چه ميګذشت	3
3	ولسي جرګې د کوم صلاحيت له مخې استراتيژيک تړون..	6
4	طالبان يو غښتلی ځواک	9
5	د ناټو سر مشريزې د ناستې پرمهال کوړنې او بهرنې کوابنونه	10
6	د فرانسې سر کوزې چاپمات کې	12
7	د حق او باطل پلويان په نړيوال جال کې	14
8	محافل عروسي در کابل	20
9	جنګ فکري از ديدګاه فيلسوف شرق	23
10	د بادغيس ولايت له جهادي مسؤل سره مرکه	27
11	بار غم عشق	32
12	اسلامي هيوادو کې د اسلاميت او مغربيت ترمنځ کشمکش،	37
13	ګلورنې پاڼې	42
14	د عظيم الشان قرآن تاريخ	44
15	په برتانيه کې د اسلام د تيز خپريدو د مخنيوي هڅې	50
16	تعليم او تربيه ستون فقرات کشور ميباشد	54
17	ضد ستراتيژيک بازنګ خطر	56
18	روزګان باد غطري جهادي احساساتو وطن	57
19	قدس د تاريخ په رڼاکې	59
20	عظيم الشان قرآن بيا وسيزل شو	63
21	عمليات الفاروق سنګرېان توحيد	65
22	په امريکايي پوهنتونو کې د اسلام ضد موادو تدريس	67
23	غزلې	71
24	و.... کشتار غير نظاميان قانونمند شد	76
25	د مېرمنو فرايض او وظايف	78
26	شهامت دار الافتاء	80

ادرس: کابل ګارته پروان عقب سينمای بهارستان   بريښناليک: Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

N

امريکا د پوځي ډګر ترڅنګ د سياسي او اخلاقي پلوه هم لاسته راوړني نلري !!!

بې له شکه دامريکايې ښکېلاک د ظلم او جبر ببري په ړوبيدو ده اودمؤمن افغان ولس دخوښيوسباؤن په راختودی ، په ټول هيواد کې دسترو قربانيواوبې دريغه سربښندنو په برکت دامريکا اوناټووحشت پال عسکر د ښپېړي ماتي اوکلابندۍ په حالت کې قرارلري ، دامريکا پاليسي جوړونکې ماغزه د سخت ذهني اضطراب اودار په روحيه خپلو پوځيانوته دتشو نمايشي ناستو اوجعلي جريانونو په عنوانولو دمورال ورکولو وروستۍ هڅې کوي !

په دې لړ کې د بن دلومړۍ کرغېړني ناستي څخه نيولي دلندن ، توکيو استنبول ، ليزبن کابل اوشيکاګو تراوسنۍ ناکامي ناستې ټولي بې نتيجې اودکومي لوي لاسته راوړني پرته پای ته رسيدلي ولي چې دغه ټولي غورځې پرزې اوجريانونه سل په سلو کې دښکېلاک دپاتېښت اودوام اجندا لاندي دهغوئ د ګټووټو اوسياستونوپه محور څرخيدلې له دي وجي دکومي لاسته راوړنې پرته يې پای ته رسېدل منطقي اوحتمي وه .

دسياسي چارو کتونکو په اند : دټېرو يولسو کلونو شاليد ته په کتو امريکا نه تنها افغانستان کې له پوځي پلوه دشکست اوماتي سره مخ ده ،بلکي نړۍ کې يې اقتصادي ، سياسي ، اواخلاقي اعتبار هم دلاسه ورکړی ...!

يا پربل سپيناوي امريکا نه يواځي دشاوخواه پنځوسوهيوادو پوځونو"لوی جمع غفير" په راوستو ونه توانيده چې دجهاد اومقاومت پولادي سنګرونه يې "خدای مکړه " مات اوځپلي وای ،بلکې تېروېښواوجرياناتوته په پام امريکا اوناټوته کومه داسي سياسي لاسته راوړنه هم نده په نصيب شوې چې حساب پرې وشي.

البته ددغوټولو سياسي ناستو اوجريانونو دننه زيات ترکيزپه دې راټول و "چې امريکا اوناټو راتلونکي کې دننګونوسره مخ دي اوبس " دشيکاګوناستي ته د اوباما دياس اوفرياد نه ډکې وينا هم ددي پرته بل تعبير اوپيغام نه درلود چې "دوئ دخپلوټولو اشرباڼوپه ګډون دافغان ولس په مقابل کې په هغسي شکست او برخه لېک اخته دي په کوم چې په ۱۹۷۹ز کې افغانستان ته دننوتو وروسته دشوروي سري لښکري اخته شوي وي .

بله دپام وړنکته دا ده چې له افغانستانه دعسکرو دايستلو مهال ويش په سر دناټو غړو هيوادو ترمنځ دپټو اختلافاتو ناندريز ظهوراوباماته هغه مهال سخت ټکان ورکړچې کله يې ووېل : "مونږ ټول يوځواک يو اوديوه بل سره څنګ په څنګ ولاړيو !"او دفرانسي ولسمشر (فرانسوا اولاند) يې په ځواب کې په څرګندوټکيو کې و ويل :دپوځونو دايستلوپه اړه پرېکړه

روستی. اوحتمي ده، په دي اړه نورو مذاکراتوته اړتیانشته ، اودادهرهیواد ولسي موضوع ده ، اودولس ترراپیو پوري اړه لري ، داچې فرانسه یوځپلواک هیواددی پریکړه یې کړي ده چې د۲۰۱۲زکال ترپایه هرو مروځپل ټول عسکر لـه افغانستانه وباسي !

ددي نه دانتیجه په لاس راځي چې دناټو غړي هیوادونه نور نه غواړي چې افغانستان کې دمجاهدینو دتندریزو بریدونوپه وړاندي تم شي ، اونه هره ورځ دځپلوعسکرویي ساري درنه مرګ ژوبله زغملای شي ، هوډ یې کړی چې په روان جنګ کې دامریکاله ملګرتیانه کېني ، هغوئ دامریکالخواه تاکل شوي مهالویش ته اعتبار نه ورکوي ،هم په راتلونکې کې به ځپلي پریکړي پخپله کوي !

هغه وخت لاړدی چې په هره پریکړه اوهرتصمیم نیولو کې دامریکا خوښه اورایه چلیده ، اوس امریکا دهغه دریځ اوموقف نه راغورځیدلي ، چې ویلي ... داپه رسمیت پیژنم ! اوهغه نه ..." نړۍ کې خلک وایي :امریکایان څوک دي چې دټولي نړۍ دبرخه لیک واک ولري !

دامریکادننه هم دعامه ذهنیتونوقاطع اکثریت په کلکه دغه ناروا جنګ غندي ، دشیکاګوناستي پر مهال ټولي نړۍ لپدل چې دښار په لارو،کوڅو او واټونو کې خلکوپه قهرجنواحساساتودروان جنګ په ضد ناري وهلي ،هم داراز دامریکا اوبریتانیې په څو ښارونو کې هم دروان جنګ په ضد لاریونونه وشول. اودشیکاګو په کانفرانس یې غړ وکړ چې په سملاسي توګه دي له افغانستانه دعسکروتل تصویب کړي اوافغانان دي آزادپرېښودل شي څو دځپل هیواد چاري پخپله جوړي اورهبري کړي !

دا هرڅه زمونږ ددې دریځ پخلی کوي چې امریکا په پوځي ډګر کې دماتي خوړو ترڅنګ کرار ، کرار ځپل سیاسي اعتبار هم دلاسه ورکړی ، بل پلو دسیمې په کچه هم دامریکا موجودیت مشکوک اواندیښني ورګډل کیږي ، ښکاري چې په راتلونکې کې به امریکا دسیمې هیوادونه دګنو چېلنجونوسره مواجه کړي ، نوله هر لحاظه دلته دامریکا اوناټو دایمي موجودیت دهیڅ هیواد اوهیڅ ولس په ګټه ندی، ددي لپاره شدیده اړتیا ده هغه هیوادونه اوټولني چې دامریکاڅخه ملاتړ کوي، پکاردی هغوئ پخپل کردارله سره بیا فکر وکړي ،هغوی باید دامریکا دملاتړ په ځای ځپل ولسونه دامریکایې تاړاک نه ازاد کړي

او که امریکااو ائتلافي ځواکونه وتلوته اړ نکړای شول ، نو نه یوازې داچې افغانستان به دځپل راتلونکي برخه لیک له ټاکلونه هم داسې محروم پاته وي ،بلکي ټوله سیمه به دهغه دبرخه لیک سره مخ شي ،پکاردی خامخا امریکا اوناټو دافغانستان له اشغاله لاس په سر شي اوپه دی لړ کې نور د"لیت اولعل " څخه کاروانخلي !!

در بیرون از کنفرانس شیکاگو چه میگذشت ؟

الیاس عاصم

درمورد داخل تالار کنفرانس شیکاگو که دراین اواخر دایرگردید صحبت های زیادی صورت گرفت ،مطبوعات و خبرنگاران به گونه مبالغه آمیزآن را جلوه دادند ، مگرآن چیزیکه در چند متری همین کنفرانس جریان داشت ، هیچ کس به آن توجه لازم نه کرد ، درحالي که ترجمانی واقعی حالات ناتو ، ایالات متحده امریکا وجنگ در افغانستان را همین جریانات بیرون تالار کنفرانس به گونه روشن توضیح و تشریح میکرد ، درآنجا به هزاران تظاهرکننده جمع شده بودند و آشکارا خوهان خروج نیروهای امریکا وناتو از افغانستان بودند ، تظاهرکننده خشمگین شعار میدادند که نه ناتو را میخواهیم ونه هم جنگ را ، جالب از همه این بود که در این تظاهرات عساکریکه از عراق و افغانستان بازگشت کرده بودند نیز شرکت کرده بودند .

عساکر امریکای زمانی که به استیج می آمدند همه شعار میدادند که:

No Nato, No War, We don't kill for you no more

نه ناتو را میخواهیم ونه جنگ آنهارا ، ما بخاطرشما دیگرمردم را نه میکشیم.

منفي رويه:

د دی نوي اوپېچلي حالت نه دوتو لپاره په قدرتي تو ګه دري دريځونه غوره کېدای شي لومړی دريځ يارويه منفي اوسلبي (negative) ده مطلب داچې اسلامي نړی ددي تهذيب دټولو فوائدو اولاسته راوړونو نه يومخ انکار وکړي او دهيځ يوي ښې يابدي خبري اوريدوته يې غوږونه نه باسي ،خپل ځان تري لري،بې پرواه اوګوښه کړي ،نه ورنه کومه ګټه واخلي او نه يې هغو علومو اوفنونوته لاس وروغځوي ، په کومو کې چې غربيانو ته تفوق اوبرتري په برخه ده ، په طبعياتو، رياضياتواودټيکنالوجي په څېر علومو کې هم دغرب نه ګټه اخيستل پر ځان حرامه او "شجره ممنوعه " وګرځوي ، دنويو الاتو ماشينونو، دژوندانه دتو کيو اوسامانو نو له قبلولو څخه هم انکار وکړي.

ددي دريځ **طبعي اوشرعي حيثيت:او راتلونکې پايلې**:

ددي دريځ قدرتي نتيجه ددي پر ته چې اسلامي نړی بېر ته پاتي اودژوندانه دروان کاروانه ځان وروسته کړي بله نشي راوتی ،په دي سره به دپاتي نړی سره داسلام نړی راشه درشه اواړيکې قطع شي او په يوه محدوده اوحقيره جزيره کې به بنده پاتي شي، چې دشاوخواه دنيا سره به يې هيڅ پيوند نه وي لګيدلی ، په بحر کې داسي ګني جزيري موندل کېږي ، خوپه وچه کې ددغسي جزيرو موندل ناشوني دي ،او دبشري فطرت سره (چې هغه دخپل چاپېر ياله لږ ډير اغېزمن اوګټه اخلي) په جنګ کولو به هېڅکله هم بری ونه مومي.

ددي ټولو حقايقو څخه علاوه دغه دريځ يارويه د کوتاه لرليد زيږنده هم ده ، په وجه يې په فطري ځواکونو اووسائلو کې تعطل راتلای شي اودادهغه دين ربښتني ترجماني اوتعبير ندی کوم چې په کائناتو کې دعقل اوتدبر په کارولو زورراوړي ، اوپه مفيدو علومو کې داستفادي ترغيب ورکوي ، کوم دين چې دساتني اودفاع لپاره دبدنيتو اوسيالو حريفانولخوا دتېري په وړاندي دمحتاط اوسېدو په غرض خپلو منونکو ته حکم کړی دی، عظيم الشان قرآن کې الله (ﷻ) فرمايي، ان في خلق السموات والارض واختلاف اليل والنهار لايت لاولي الالباب ٠الذين يذکرون الله قيما وقعودا وعلي جنوبهم ويتفکرون في خلق السموات والارض ربنا ماخلقت هذا باطلا سبحانک فقنا عذاب النار ٠(آل عمران ۱۹۰-۱۹۱) پر ته له شکه داسمانو اوځمکې په پيدائښت کې اودشپي ورځې په يوبل پسې راوستلو کې دعقل خاوندانو لپاره (دحق پېژندني) لوي نښې دي ، هغه دعقل خاوندان چې په هيڅ يوه حال کې هم دالله (ﷻ) له ياده نه غافل کېږي، په ولاړه ، ناسته اوملاسته (په هرحال کې دالله په ياد کې ننوتي وي) اوهغوئ دځمکې اواسمان په پيدائښت غور کوي ،(ددي ذکروفکر نتيجه داروځي چې په هغوئ دحق پېژندلو دروازي بير ته شي ، هغوئ چيغه کړي) اي زمونږ پروردګاره ! داهر څه تا پيدا کړي دي ، دابي له شکه بيکار اوعبث ندي پيداشوي يقينا ستا ذات ددي نه پاک دی چې يوعبث فعل وکړي ، خدايا مونږ داور دعذابه (چې په راتلونکي ژوند کې راځي) وژغوري !

بل ځای په عظيم الشان قرآن کې دي :

واعدوا لهم مااستطعتم من قوة ومن رباط الخيل ترهبون به عدو الله وعدوکم (الانفال ۶۰)

این عساکرکه همه لباس نظامی به تن داشتند ، یک یک سوی ستیج می آمدند وبه لهجه ٔ قهرآمیز مدال های نظامی خویش را می کندند وآن را به سوی تالار کنفرانس شیکا پرتاپ می کردند ومیگفتند اینهای تان را پس بگیرید !

یک عسکر زمانی که مدال خویش پرتاب میکرد گفت: من از مردم عراق و افغانستان بسیارمعذرت میخواهم بخاطریکه من کشورهای آنها را ویران نموده ام.

جوسن هورد که ده سال در اردوی آمریکا به حیث داکتر فعالیت کرده بود گفت:

این است من آن مدال را که به افتخار خدمت در جنگ جهانی علیه تروریزم به من داده شده بود ، بخاطرغمرازی ام با مردم عراق و افغانستان پرتاب میکنم ، وی افزود :

من از آن ویرانی و تخریب عمیقا متأثرهستم که به دست ما در این کشور ها وسائر نقاط جهان صورت گرفته است.

یک نظامی دیگر امریکایی هنگام مصاحبه خود با تلویزیون (دیموکراسی ناو) گفت: جنگ علیه تروریزم اصلا وجود ندارد ،ما برضد مردم افغانستان جنگ می نمایم . به علت همین جنگ مردم افغانستان با طالبان یکجا شده اند .

به بعضی از عساکر تا سه میدال افتخاری داده شده بود ، مگر هرسه آن را به سوی تالار کنفرانس شیکاگو پرتاب کرده با صداهای تشویقی تظاهر کننده میگفتند : این مدال ها به ماهیچ ارزش ندارند آن را پس بگیرید .

نظامیان هنگام پرتاب مدال ها که با کف زدن تظاهر کنندها استقبال میشدند میگفتند : این مدال ها به ما هیچ معنی ندارند ، آن را پس بگیرید ، بعضی ها میگفتند که برما مردم بیگناه وملکی را میشکتند ،بعضی ها میگفتند که رفقای شرین خود را دراین جنگ از دست داده اند وبعضی ها میگفتند سران ما به ما دروغ گفته بودند وما را در یک جنگ نامعلوم مصروف نگهداشته اند .

بعضی نظامیان مدال های خودرا (چتلی) وبعضی ها آنرا دروغ می پنداشتند وآنرا در حالت کف زدن هزاران تظاهرکننده سوی تالار کنفرانس شیکاگو درحالت خشمگین پرتاب میکردند .

قابل یادآوری است که این همان مدالها اند که به نظامیان مذکور (به افتخار خدمت آنها درجنگ علیه به اصطلاح تروریزم جهانی) داده شده بود .

یک نظامی با بسیار صراحت گفت: من به هدف غمرازی ام با مردم ، افغانستان ، عراق ، فلسطین وسائرکشورهای اشغال شده مدال های جنگی ام را سوی تالار کنفرانس سران ناتو پرتاب میکنم ،باز مدال افتخاری خویش را به سوی کنفرانس شیکاگو که حامد کرزی نیز در داخل آن وجود داشت پرتاب کرد.

پرتاب مدال های افتخاری (که آنرا روی خدمت درجنگ علیه به اصطلاح تروریزم کسب نموده بودند) به دست نظامیان امریکای به سوی کنفرانس سران ناتو پرده را از شکست اردوی امریکا و باختن مورال آنها برمی دارد و نتایج کنفرانس شیکاگو را که اداره کابل سرنوشت آینده کشور را وابسته به آن میدانست چنان برزمین میزند مثلیکه همان مدال های عساکر در روی خاک افتاده بودند .

ولسي جرګې دکوم صلاحیت له مخې استراتیژیک تړون تصویب کړ؟

شاهد غزنیوال

دجوزا دمیاشتې په شپږمه نیټه دشنبې په ورځ دکرزي رژیم په اصطلاح ولسي جرګې په غوڅ اکثریت سره دکرزي او اوباما ترمنځ لاسلیک شوي استراتیژیک تړون منظوراودممدې میاشتې په ۸ نیټه دوروستي تصویب لپاره ددکرزي دولت دمشرانو جرګې ته وړاندې کړل شو. په کابل کې دامریکې سفارت دکرزي تر دفتر له مخه د ولسي جرګې دامخه وستایله او هغه یې د افغانستان د ملي ګټو لپاره یوغوره اقدام وګاڼه .

خو له دې سره جوخت بیا په کومه ورځ چې په اصطلاح دولس استازیو دملت په کورکې استراتیژیک تړون تصویب کړ په هماغه ورځ ددغه تړون دلاسلیکوونکي هیواد ځواکونو(امریکایانو) دپکتیا ولایت د ګردې ځېرې په ولسوالۍ کې دیوه کوراته تنه ولسي وګړي دبمبارد په ترځ کې ووژل.

ولې دولسي جرګې دغه تصویب ته په رسنیوکې دومره پراخ انعکاس ورکړل شو؟

دتش په نوم ولسي جرګې لخوا داستراتیژیک تړون تر فرمایشي تصویب وروسته دامریکې په تمویل ایجادشویو رسنیو دې خبر ته په دمره شد اومد انعکاس ورکړ چې نیږدې ټولو چاپي ، غږیزو او انځوریزو رسنیو خپل خبري سرویسونه ددې خبر خپرولواو دهغه په اړه دمشخصو نظریاتو راغونډولوته وقف کړل.

که څه هم چې په اصطلاح ولسي جرګې دخپلو مصوباتویه لړ کې نورهم ډیرې داشاني مصوبې تصویب کړي خو دهغوئ یوې هم په کورنیو او بهرنیو رسنیو کې داشانې تودانعکاس نه دی ښکاره شوی ، داچې د پارلمان دغه تصویب ولې له داسې تاوده استقبال سره مخ شو هغه معلوم وجوهات لري .

تر ټولو ښکاره لامل یې دولسي جرګې غږیوته په کابل کې دامریکې دسفارت ورکړل شوی دستوروه چې له ارګه راښیولې بیا تر اجرائیه اومقننه قواوپورې په ټولو دولتي ارګانونو دهغه اجراء واجب التنفیذ بلل کیږي او هیڅ څوک هم تري دسرغړواې توان نه لري . که داخبره نه وې نو ولسي جرګې خو نورې هم داشانې هڅې اوپریکړې کړې چې ترننه پورې همداسې غیر مرعي الاجراء پاتې او څوک دیادولو صلاحیت هم نه لري .

ولسي جرګې داستراتیژیک تړون متن په پټوسترګو تصویب کړ.

دخپلواکو افغاني سیاست والو دڅرګندونو له مخې ددغه په اصطلاح استراتیژیک تړون ترتیب او په هغه کې ځای ښوي ټول مندرجات لومړی دامریکایي پوځي چارواکو لخوا ترتیب شوي .بیا پښتواودري ته ژباړل شوی او دولسي او مشرانو جرګې تر تصویب له مخه داوباما لخوا په کرزي باندې په توره شپه کې تحمیلا لاسلیک شوي . چې په دې اساس داوباما اوکرزي له لاسلیکولو وروسته دولسي جرګې تصویب او عدم تصویب هیڅ ارزښت نه لري . دولسي جرګې اوسنا غړیو او همدارازدهیواد نوموتو سیاسي کارپوهانو له رسنیو سره په خپلو

 څرګندونوکې په مکرر ډول داخبره کړې چې داستراتيژيک تړون په مندرجاتو کې نه يواځې داچې افغاني مصالح په پام کې نه دي نيول شوي بلکې اصلا دغه په ترتيب کې هيڅ افغان برخه نه ده لرلې ، اود تړون هرڅه امريکايانو په خپله خوښه ترتيب کړي او بيايې دغه ژباړل شوي متن په کرزي په لاسليک کړي .

دغه خبره افغاني سياسي کارپوهانو داستراتيژيک تړون دموافقې لپاره دراغوښتل شوې لويې جرګې دانعقاد په مهال هم کوله او اوس يې هم کوي . له تير يونيم کال راهيسې چې دامريکايانو لخوا داستراتيژيک تړون خبره راپورته شوی امريکايانو هيڅ افغان لوري ته دا اجازه نه ده ورکړې چې دکرزي او اوباماتر لاسليکولو ترمخه دې ددغه سند متن وګورې.

په دې اړه دتير کال په نومبر مياشت کې دهمدغه استراتيژيک تړون دموافقې لپاره دکرزي لخوارابلل شوې لويې جرګې وياندې صفيه (صديقي) دياده جرګې د داتريدو په دوهمه ورځ دمطبوعاتي کانفرانس په ترڅ کې ژورناليستانو ته په صراحت سره داويل چې امريکايان نه غواړي داستراتيژيک تړون متن دجرګې دبرخوالو په واک کې ورکړي . دصفيه صديقي دغه خبرې اوس هم دخبري رسنيو په آرشيفونو کې موجودې دي . http://www.bbc.co.uk/pashto/afghanistan/2011/11/111116_hh-jirga-us.shtml

همدارازکله چې دتړون ترلاسليکولو ترمخه دکرزي امنيتي مشاورډاکټر سپينتا ولسي جرګې ته دهمدغه تړون دموافقې په غرض ورغی او هغوئ ته يې دتړون په اړه معلومات ورکول هالته يوشمير وکيلانو له نوموړي څخه دتړون دمتن غوښتنه وکړه خو سپينتا هغوئ ته په ځواب کې وويل چې ضروري نه ده چې تاسو داستراتيژيک تړون متن وګورئ؛ ځکه اوباما او نورو امريکايي چارواکو هم هغه نه دی کتلای!!!؟ اوداچې اوس مونږ ددغه سند متن امريکاته ليږلای نو مونږ کولای شو تاسو ته په شفاهي ډول دهغه دجزئياتو په اړه معلومات درکړو.
http://www.8am.af/index.php?option=com_content&view=article&id=20660:1390-05-01-16-33-37&catid=1:title&Itemid=553

ولسي جرګې ته د جمهور رئيس د ملي امنيت سلاکار (رنګين دادفر) او مشرانو جرګې ته د بهرنيو چارو وزير (زلمي رسول) ددغه تړون متن ورنکړ او فقط هغه نکات يې په خوله ورته وويل کوم چې وېل يې غوښتل.

داوباما اوکرزي دتړون له لاسليکولو راهيسې تراوسه په يوه مياشت کې دافغانستان په بيلابيلو ولايتونوکې ترڅل زياتې داپيښې رامنځته شوې چې هالته خپله امريکايانو ددغه تړون اساسي ماده ترپښو لاندې کړې ولسي خلک يې وژلي ، دهغوئ دکورنو دحريم سپکاوی يې کړی او په هغوئ يې بمبارکړي.

تر دې چې دپارلمان لخواد تصويبولو په مهال هم دپارلمان دمنشي عبدالستارخواصي په شمول يوشمير وکيلانو دجرګې له رئيس عبدالرؤف ابراهيمي څخه العاجا وغوښتل چې ترتصويب له مخه دې يو ځل دتړون متن هغوئ ته دکتلو لپاره په واک کې ورکړل شي ،خوبيا هم دهمدغو وکيلانو خبره ونه منل شوه او همداسې په ناوېلي او ناليدلي حال کې دتړون په تصويبولو رايه اخيستل ترسره شول.

http://taand.com/index.php?mod=article&cat=c66&article=33535 دغه جريان درسنيو په مخ کې ترسره اوخپله دجرګې وکيلان هم تری هيڅ انکار نه کوي.

داستراتيژيک تړون مواد له افغاني مصالحو سره په ټکر کې دي.

دهیواد خپلواک محسین او سیاسي کارپوهان په دې توافق نظر لري چې داستراتیژیک تړون زیاتره مواد له افغاني مصالحو سره په تناقض کې دي.

دبیلګې په توګه په دغه سند کې په افغانستان کې دپاتې کیدونکو امریکایي ځواکونو د شمیر په اړه هیڅ وضاحت نشته . لهذا نه دغه ګونګتیا او نه وضاحت ځخه په استفادې سره امریکایان کولای شي هرڅومره ځواکونو چې دوئ وغواړي په افغانستان کې پاته کړي .

همداراز داچې په دغه سند کې دپاتې کیدونکو عسکرو دندې او وجائب نه دي مشخص شوي نو همدغه امریکایي عسکریه په افغانستان کې دمیشتیدنې په مهال هرڅه چې زړه یې وغواړي په خلاص مټ ترسره کولای شي.

همداشان په دغه سند کې په حقوقي لحاظ دامریکایي متخلفو لوسرغړوونکو عسکرو دمجازات په اړه هیڅ نه دي ویل شوي . چې هغوئ په دکوم هیواد دمقرراتو تابع وي . او دتخلف په وخت کې به څوک هغوئ محازات کوي لهذا هغوئ به بیاهم په بشه ډاډه زړه داسې جرائم ترسره کوي لکه په تیر مرحله کې چې دکندهار په زنګاوات سیمه کې ترسره او جنایت کاره عاملین یې په بشه آرامه فضاکې تر امریک ورسول شو.
http //www mosalehaimeli org/index php?option=com_content&view=article&id=974 2012-05-02-20-27-38&catid=42 2011-01-09-20-03-22& temid=65

امریکایان داستراتیژیک تړون د موادو دلومړنیو ناقضینو په توګه .

داوباما او کرزي دتړون نه لاسلیکولو راهیسي تراوسه په یوه میاشت کې دافغانستان په بیلابیلو ولایتونو کې ترشل زیاتې داپیښې رامنځته شوې چې هالته خپله امریکایانو ددغه تړون اساسي ماده تر پښو لاندې کړې ولسې خلک یې وژلي ، دهغوئ دکورنو دحریم سپکاوی یې کړی او په هغوئ یې بمبار کړی.

په داسې حال کې چې دا هغه اساسي شرط دی چې هم دلویې جرګې برخوالو ، هم دپارلمان او سناغړیو هم کرزي او هم خپله اوبامادهغه په اهمیت او پلې کولو ټینګار لري ، خو ددې ټولو باوجود دستراتیژیک تړون له لاسلیکولو بیا دولسي جرګې تر تصویبولو پورې په داړول سرغړونو کې خپله دامریکایانو په اعتراف تر ۳۰ تنه زیات ولسي وګړي چې ډیری یې ښځې او ماشومان دي ووژل شول . او په راتلونکي کې هم هیڅ داسې تضمین نشته چې سرغړوونکي امریکایان دي له دغو سرغړونو ځخه راوګرځوي او دوسي وګړو په وژنودي صرفه وکړي

خلاصه :

پښتانه وايي لکه غرهغسي کربوړی . داچې ولس مشر کرزي په توره شپه (دافغانستان دخوب په وخت) اوباماته په پټوسترګو استراتیژیک تړون لاسلیک کړ ، نو دهغه ولسي جرګه به ولې هغه په پټوسترګو نه لاسلیکوي .

دپه اصطلاح وسي جرګې ولس دبښمنه غړی به دامریکا په دستور حتما هغه څه ترسره کوي کوم چې یرعلګر امریکایان یې د زور او ډالرو په وسیله تري غواړي ، خو دپیژندل شویو حقوقي مقرراتو له مخې داشغال تر سیوري لاندې دهیڅ اشغال شوي هیواد تحمیلي معاهدات او تړونونه نه هرډول قانوني او حقوقي مشروعیت څخه بې برخې او په بین الدولي تعاملاتو کې هیڅ ډول قانوني اعتبار نه ورکول کیږي.

داشغالګرو امریکایانو لخوا دافغانستان اشغال دټولو ملي او بین المللي مقرراتو له مخې یو ظالمانه او نامشروع عمل . او په دغه اشغال شوي هیواد کې په مجموعي توګه ټول نظام له قانوني مشروعیت څخه بې برخې ده . په اصطلاح ولسي جرګه چې ددغه ګوډاګي نظام یوه برخه بلل کیږي دمجموعي نظام په څیر له هیڅ ډول قانوني او حقوقي اعتبار څخه برخمنه نه ده ؛ ځکه نامشروعیت خپله یوه حقوقي نقیصه ده او دحقوقي مقرراتو له مخې هیڅ نقیصه لرونکي مرجع دمکمله مشروعو مصوباتو دتصویبولو او منظوروقانوني صلاحیت نه ري.

طالبان یو غښتلی ځواک

شاهد

د اسلامي امارت دجهادي، سیاسي او فرهنګي پیاوړتیا ریښتینې تصویر هغه انکار نه منونکی حقیقت دی چې پخپله پرغلګر امریکایان یې هم دخپلو پلمو په هنداره کې ویني. دامریکې په کانګرس کې د دې هیواد دمشرانو او استازو د جرګو ستر تي مشرانو په خپل یوه تازه راپورکې کښلي چې ((د ۲۰۱۰ م کال نه راوروسته طالبان نور هم پیاوړي شوي)) (د ډبل فایستین) او (مېک واجرز) د دې هیواد د دواړو غونډو مشرتوب په استاري توب یوه اړوندي راپورکې په ډاګه یو داسې انځور ښودلی چې طالبان یې پکې دیوه غښتلي ځواک په توګه پېژندلي او د دوی غښتلتیا یې دخپل ځان لپاره د ډېرې اندېښنې وړ ښودلې ده

داسلامي امارت دجهادي ځواک پوځي وړتیا هغه وخت ډاګیزه شوه چې د (الفاروق) په نوم یې دخپلو پسرلنیو بریدونو پیلامه دکابل دوهم (شاه شجاع) ته دیوې داسې جرم دسز په ورکولو سره وکړه چې له امله یې دافغانستان دخرڅلاو او دتلونکې نسل دعلام کېدو تیوري اختتل شوې وه. دکرزي د دې نه بخښونکې جرم پایله کې به خدای ج مکره ، دافغان ولس اسلامي حریت او ملي خپلواکي تر جدي ګواښ لاندې راشي او له امله به یې داحریت پال قام لس کاله نور هم داحتمال اوزولو په ولچکو کې ترلی وي

له کوم شک وتردد پرته چې داسلام د دوهم خلیفه په مبارک نامه پیل شوي (الفاروق) عملیات دومره خپونکي وه چې په صطلاح د سر تېزمک ترون پتپل شوي بریا او ورسره په ناموجهه توګه ترل شوي هیلې یې تر کلک ګواښ لاندې راوستې او په عین وخت کې یې د دې وطن فروش ترون طراحانو ته دا پیغام هم ورکړ چې د دې ترون برخلیک به هماغه دروستو د ترون په شان وي چې افغاني کمونستانو سره یې لاسلیک کړي او د دوی د دار پروخت یې د ترون توره سیاهي دآمو سیند لاهو کې شوه

دافغانستان ماضي ته په کتو د دې هیواد خپو علام ضمیره مشرانو دخپلو واکمنۍ د بقا لپاره کله نا کله د سي معهدي له نیو لګرو سره لاس لیک کړي چې خیني په خپل محموم برخلیک اخته او په ابدي مرګ مړي شوي او خینی نور لا هم په ولس کې دیوه ناسور تپ غوندې درملنه تلرې او دکیسه یې پاتې شوي مواد و غوندې یې بهرنیو اغیرې دولسونو دهلاکت او طبعي ناروغیو سبب شوي دي

له انګریزانو سره دیعقوب خان د (ګندمک) او دعبدالرحمن خان تړونونه او هم د شوروي سکیلاک سره دافغاني کمونستانو معاهدې یې دبیلګو په شکل یادولی شو. داسلامي امارت له موافقې پرته دخپلواکۍ دېدو ټپ د ترون دروړ ن (2012) زکال د من دمیاشتې دلومړۍ نیټې په تورو شپه کې په پټه وداععان ولس نه په علا دکرزي او اوباما لخوا پداسې حال کې امضاء شو چې جزیات یې نه ولس ته او نه هم کرزي مشېرته څرګند دي

دواسلامي امارت نه یوازې په اعلامیه کې د دې ترون مخالفت وکړ، بلکې د پوځي ځواک په قدرت یې حملو یې د دې ترون سره خپل ډاګیز مخالفت اعلان کړ

طالبانو خپله پوځي وړتیا او سیاسي موضعګیرۍ وښوده او دالفاروق دعملیاتي بهیر په پیلېدو سره یې ګوډاګیان او د دوی بادارانو په لوحرو کي پټ کړل او د دې عملیاتو په پیلېدو سره یې یو وار بیا د اسلام، جهاد او خپل ولس سره دیوو لې ثبوت وړاندې او داسلام او حوري دښمنو ته یې د دې پیغام ورکړ چې که تاسو هرڅومره کاغذي ترونونه هم امضاء کړئ او دبل میشتیدنی نوي طرحې هم جوړې کړئ پایله کې مو سرنوشت د ماتي او فرار وي او افغانستان ستاسو هیشتني تاتوبی هیڅکله نه دی

دناټو سرمشریزې دناستې پرمهال

کوني او بهرني ګوابنونه !

خبیر

دامریکې دشیکاګو په ښار دافغانستان په باب دناټوغونډه اودافغانستان اوسیمې په کچه نانډرۍ روانې وې ، پولیس هم له زرګونو هغو مظاهرچیانو سره په لاس اوګریوان وو چې غوښتل یې ترپیو لوټه د ښکره کړي چې دناټو غونډه دولسونو درایو په خلاف ده اوهم دترې دغوراټول شوو چارواکو ته داخرګند پیغام واوروي چې دافغانستان اشغال او جګړه هیڅ مجوز او مشروعیت نلري او به هم دزور او جبر له لارې چیرته شخړې او لانجې حل او ګټلي دي

که څه هم دمې دمیاشتې په۲۰ نیټه دناټو دناستې له امله دشیکاګو ښار د منیتي اډیښنو او دلاریون کوونکو دتودو احساساتوله وجې په یوه پوځي کلا اوچوني او ښتي وواو دناستې له ګردچارچاپیره څخه پولادي او او سپنیز دیوالونه تاو شوي وو ، خو په هغې سربیره لاریون کوونکو چې شمېر یې زرهوو ته رسیده او زیاتره یې دافغانستان او عراق دجګړې امریکایي عسکر وو ویې کولای شول چې خپې دیوالونه مات او دغونډې دوداني حدودو ته ځانونه نیږدې کړي. داسې هم ویل کیده چې دامریکا ولسمشر وباما دلاریون کونکو له ویرې داستوګنې هغه ځای پریښود چې دهغه لپاره غوره شوی وو ا

مظاهره چیانو په خپلو معقولو لیکل شوو پوسترونو کې یولړ داسې شعارونه لیکلي و زمزه کول

(ناټو فقیرنور په فقر اخته کوي او پیوډال نور پیوډال او شتمن کوي . دامریکا او برتانیې ولسونه په سختو قتصادي ستونزو کې راګیر او نظامونه یې په مالي بحران کې ډوب دي دوی دې د فغانستان جګړې پای ته ورسوي او دهغې جګړې لګښتونه دې دخپلو ولسونوپه درد ولګوي او له افغانستان څخه دې خپل پوځونه ر وباسي ، اوس هغه وخت رارسیدلی چې امریکا اوناټو له افغانستان څخه یرغلګر پوځونه وباسي ځکه جګړه دوی بایلودې ده . دناټو او امریکا یې قواوو له لاسه په افغانستان کې ښځې ، ماشومان او بې ګناه ملکي وګړي وژل کیږي . داوباما ټولې ژمنې ناسمې او تیرایستونکي دي او د سې نو ......)

د هغه په ړړه پورې شعارونه وو چې دغونډې د۲ ورځې ناستې په اوږدو کې مظاهرچیانو ډیر په زغرده ښکته پورته کول اودشکاګو غونډه یې ترپوره شعاع اوګواښ لاندې ر وستي وه

دهغې په څوا کې دشیګاګو دغونډې داخلي فضا هم له کشمکش ، مایوسیو او نانډریو ډکه وه ، پاکستان هغه هیواد وو چې افغانستان ته یې له خپلې ځمکې نه دناټو داکمالاتو دتیریدو په وړ ندې خپل درانه شرایط درلودل او دغونډې پرمهال له یوه نه هم په شتشو

.دپاکستان مهم شرطونه داوو چې امریکا دې ترهرڅه وړاندې دپاکستان په خاوره باندې دهغه هو یې برید له امله بښنه وغواړي چې دروان کال دنومبر

په‌میاشت دپاکستان په (سلاله) چیک پوست باندې ترسره کړې‌وه او له امله یې دتوموري هیواد ۲ درجنه سرتیري وژل‌شوي وو ، دغه ډول دپکستان بل شرط دپاکستان په قبیلي سیموباندې دامریکا دبې پیلوټه الوتکو مخنیوی وو . ددې ترڅنګ یوه بله مهمه غوښتنه لدې ورسته دناټو دهرې لارې او کانټیر له امله د۲۵۰ ډالروپه ځای ۵زره ډالرو ټکس ورکول‌وو چې باید پاکستان ته ورکړل شي . دپاکستان ددغو شرایطوپه مقابل کې ناټو او امریکا کلک دریغ ونیوه اومنلوته یې تیارنشول . چې دغوناندریو اوشرایطو دتوموري ناستې فضا ترډیره ځایه کړکیچنه او مختله کړې وه

دغونډې یو بله بې خوندې‌خپله داوباما . ضد او نقیض وینا وه . او باما دخبروپه یوې برخې کې دافغانستان جګړه پای ته رسیدلي وبلله‌اووی‌ویل چې افغانستان دجګ او جګړې مرحله تیره کړې او اوس په هغې لسیزي ننوتلې چې دجګړې ځای‌باید سوله او بیارغونه ونیسي . خو بې حفظي او یاسرتمه اوباما بیا دخبرو په یوله بله برخه کې دنوي لسیزي په اوږدو کې دتودې جګړې اوټکونکي جنګ تاکید هم‌وکړ . دناټو له غړو هیوادونو څخه یې وغوښتل چې په دغه لسیزه او دجګړې په نوې مرحله کې مهمه ونډه واخلي . پوځیان په افغانستان کې پریږدي او لړترلږه دافغانستان لپاره هرکال ۴ ملیارده ډالر بسپنه ورکړي

دشیکاګو په غونډه کې یوبل داخلي تاوترخوالی داوه چې دفرانسي ولسمشر (اولاند) دامریکا او دناټو ټول ټکیدات بې ارزښته وبلل اوپه زغرده یې وویل چې له افغانستان څخه د همدې کال ترپایه دفرانسوي پوځیان‌ټول یوه‌نه په شاتلونکي پریکړه ده . اولاند . زیاته کړه چې اوس دادفرانسي یوه ملي موضوع ګرځیدلي چې حتما به له افغانستان‌څخه خپل عسکر راوباسي او په دې اړه دامریکا او ناټو وړاندیزونه کومه مانا نلري !

له بلې خوا افغانانو هم . دشیکاګو دغونډې پرمهال له ډلیرو او ماپیلو رسنیو په متعددوخبرو اومرکوکې دتوموري ناسته دتیروګنو غونډوپه څیر بې ارزښته وبلله او ددې پرځای چې افغانستان ته خیر او خوشالي راوړي اوجګړه پای ته ورسوي دنوو جګړواوناورینوبنسټ یې کیښود . دافغانانوپه خبره اوبما دخپلې وینا په ترڅ کې دنوي لسیزي جګړې ته اشاره وکړه . چې داپه خپله دافغانستان لپاره دشیکاګو د پلید وعزایمو ثبوت وړاندې کوي

رحیمي

دفرانسي سرکوزي چامات کړ؟!

دفرانسي دولسمشرۍ‌په ټاکنو کې دسرکوزي په شکست نړۍ کې مسلمانان خوشال ښکاري ، څنګه چې دټاکنو په ورځ داخبر نشر شو

چې په فرانسه کې سرکوزي شکست وخوړ په زیاترو اسلامي هیوادو کې مسلمانانو یوه بل ته دمبارکۍ پیغامونه ولېږل، په خاصه توګه دشمالي افریقا په عربي هیوادو کې خو یو لوی شمېر خلکو په اتڼونو اوددولونو په غږولو دسرکوزي دشکست خبر بدرګه کړ! پوښتنه داده چې دسرکوزي په شکست مسلمانان ولې خوشال شول؟ حال داچې دهغه ځای ناستی هم داسې څوک ندی چې هغه دې دسرکوزي برعکس دمسلمانانو خواخوږی اودوست وي! هغه هم دسرکوزي پشان سپین رنګه انګریز دی؟ چې داسلام اومسلمانانو سره دانګریزقوم دښمني، عداوت، اوتعصب کومه پټه اوپناه خبره نده.بیا ولې مسلمانان دیوه انګریز په شکست اودبل په بري خوشال شول؟

دنړیوالو چارو کارپوهانو په اند: دسرکوزي په شکست دمسلمانانو دخوشالۍ لوی لامل دسرکوزي هغه اسلام دښمنه کړه وړه دي چې پخپله دوره کې یې په مسلمانانو باندې ددغه هیواد زمکه سورتنور ګرځولې وه. هغه له زړه نه دمسلمانانو سره په دښمنۍ باور درلود اوپه زړه کې یې اسلام دښمنه جذباتو موجونه کول

دسرکوزي حکومت په دوره کې ښوونځیو اولیسو ته مسلمانو نجونو لپاره دپړوني په وړو اوحجاب کولو بندیز ولګېده، ددې ظالمانه قانو مثال دنړۍ په بل هیڅ هیواد کې نشته

په دې لړکې دقانون دپلي کولو وروسته سرکوزي اودهغه حکومت فکرکاو چې ددې قانون له لاره به فرانسه کې میشت مسلماني میرمنې ودار شي اودپړونو په سرکولو څخه به لاس په سرشي، هم دقانون څخه دسرغړونې په صورت کې یې درنه مالي جرمانه ټاکلې وه. خوهغه وخت ټول ناهیلي شول چې کله مسلماني میرمنې دهر ډار اوبیم څخه لاپروا بیرون ووتې خوهېڅکله یې سرونه لوڅ نکړل اونه دفرانسوي دولت قانومنلو ته تسلیم شوې...

دکتونکو په اند دفرانسي مسلمانان به هېڅکله هم دسرکوزي ددورهغه ظلمونه دیاده ونه باسي، چې په ډیر ظلم به ددغه هیوادپولیسو په ډیر تحقیر اوتذلیل په اسلامي حجاب کې پټې میرمنې دسرونواومخونو لوڅولو ته اړیستې!

تردې چې په ښوونځیو اولیسو کې په زده کړو دبوخت انجونو میندو هم نشوای کولی چې په حجاب کې ورسره تر ښوونځیو لاړې وای، په ښوونځیو اولیسو کې په نجونو بندیز و چې اوږده کالي به نه اغوندي، په ځای به یې لنډ اوغربي لباس په تن کوي، ددې وروسته سرکوزي پلان درلود چې په فرانسه کې د حلالو خوړو په پلورلو اوپېرلو بندیزولګوي، څومسلمانان دحلالو خوړو په ځای حرامو خوړو پیرلو ته اړشي

سرکوزي ددې لپاره چې په فرانسه کې خپل مقبولیت نورهم سیواکړي، لیبیا کې دقذافي په ضد جنګ دهغه په پرزولو اوبیا یې په وژلو کې کلیدي رول ترسره کړ.دفرانسي جنګي الوتکو دقذافي رژیم په پوځ پرله پسې بمباردکاوه، تردې پورې چې هغوئ یې شاتګ ته اړیستل، وروسته دقذافي دولت دړنګولو ټول مسؤلیت سرکوزي ددې لپاره په غاړه واخیست څو په فرانسه کې دعیسویانو زیات ملاتړ ترلاسه کړي اوخپل شکست په بري بدل کړي

دفرانسي په شمالي ښار "رویېن" کې زیږدلی اوددغه هیواد نوی غوره شوی ولسمشر "فرانسو اولاند" په ۳۲کلنۍ کې دفرانسي په سوسیالست ګوند کې ګډون کړی، په ۲۳کلنۍ کې دپارلمان غړی غوره شوی په ۹۱ زکې دسوسیالست ګوند ترقیادت یې ځان ورسا و، په ۲۰۰۸زکې چې کله دفراسو اولاند میرمنې او دسوسیلست ګوند کاندیدې ډیکولاې سرکوزي په مقابل کې شکست وخوړ نواولاند ترې جلا شو وروسته داولاند نوم دفرانسي دمشهورې ورځپاڼې "پیرس پیچ" ژورنالستې ویلرې سره واخیستل شو اودواړه اوس دواده پرته سره یو ځای ژوند

کوي . دفرانسي دولسمشري ځوکۍ ته دکاندیدو څخه وړاندي " فرانسو اولاند" دخپل ګوند دنه هم دسختو ننګونو سره مخ شو اوپه مشکله یې نورو سیالانوته ماته ورکړه ،اوله هم هغه ځایه یې دسیاسي پوهي ارمونه پیل شوه خوبیاهم هغه په دي وتوانیده چې ۷۱ کاله وروسته یې دښي لاسو سیاسي غلبه پای ته ورسوله

فرانسه په اروپا کې هغه یوازینی هیوادی چې دنورو اروپایي هیوادونو په پرتله یکې دمسلمانانو شمېر دهربل اروپایې هیواد نه زیات دی په دي اړه دیوی شوي سروی له مخې ؛ په فرانسه کې نیږدي شپږ ملیونه مسلمانان میشت دي، چې زیا تره یې دمراکش ، تونس اوالجزائر څخه لاړدي . اسلام په فرانسه کې دویم لوی دین دی . خوددي بارجود سرکوزي دمسلمانانو په ضد جارحانه عزائم لرل . په اوسنیو ټاکنو کې دسرکوزي دشکست بل عمده لامل دفرانسي خراب اقتصادي وضعیت دی . اودویم دمسلمانانو اونورو لږکیو لخواه دسرکوزي دملاتړ څخه لاس اخیستل دي ولي سرکوزي دخپل واک په موده کې دمسلمانانو په ګډون دلږکیو سره ډیره بدبرخورد درلود . هغه ددي په ځای چې حکومتي چاري ورغوي . اوپه اړه یې خپل پام زیات کړی وای هغه خپله تووله انرجي داسلام اومسلمانانو په ضد قوانینو جوړولو لورته ګرځولي وه . دفرانسي دخلکو لخواه دهغه نه داپوښته پرځای ده چې ایا دمسلمانانو دنجونو دسرونو نه پړوني ښکته کول په حجاب بندیز لګولو دفرانسي داقتصادي پیاوړتیا سره څومره مرسته وکړه ؟ او دمسلمانانو دنجونو لخواه دپړونو په سرکولو یې دجوماتونو په سر منارونه جوړولو دفرانسي اقتصادته کوم دول زیانونه اوګواښونه پیښ کړي وه ؟ داټاکنو څخه وړاندي سرکوزي ته جوته شوي وه چې دی دمسلمانانو دملاتړ نه محروم دی . ریښتیا داچې دسرکوزي ظالمانه کړنو دفرانسي مسلمانان اتحادته مجبور کړل . اوداریل به پرځای وي چې :سرکوزي ته مسلمانانو شکست ورکړ . !!!که دمسلمانانو لخواه دسرکوزي مخالفت نه وای شوی اوهغه ته یې دپخواه پشان رایي اچولي وای نوشاید له شکست سره نه وای مخ شوی ،دفرانسي میډیا هم داومنله چې سرکوزي مسلمانانو اونورو لږکیو مات کړ . ولي هغه دمسلمانانو په ګډون دلږکیانو په ضد سخت دریغ لاره چې له دي امله یې په ملاتړ کې کمی راغی په خاصه توګه دهغه لخواه دمسلمانانو میرمنو په حجاب بندیز لګول دحلالي غوښي په پیر اوپلور دندیزهڅه. په فرانسه کې دنوي تابعیت اخیستني قوانین سختول هغه ګامونه وچې سرکوزي یې دشکست سره مخ کړ ،اوس تازه دافغانستان په باب شیکاګو کې جوړ کانفرنس کې دفرانسي نوي ولسمشر (اولاند)لخوا دامریکایانو داغوښتنه ردشوه چې .فرانسه دي له افغانستانه دعسکرو په ایستلو کې بیړنی ګام نه اخلي ، چې په ځواب کې یې دفرانسي ولسمشر وویل:هیوادیې دروان کال ترپایه خامخا به له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي ښکاره ده چې فرانسو اولاند داټاکنو کمپاین پرمهال ژمنه کړي وه چې له ټاکل کېدو وروسته به خپل ټول عسکرورغواړي ،هم یې لاپه کوله چې په موټر سایکل به دخپل کار دفترته ځي ، نوی غوره شوی ولسمشر دسخته دریځه سرکوزي په پرتله نرم دریځه دی . اوډیر لږ غړیږي دفرانسي مسلمانان ورته هیلمن دي چې هغه به دسرکوزي ددوري تور قوانین لغوه کړي .دهغه پشان به سخت دریغ غوره نکړي اوداعتدال مسیر به ونیسي !

د حق او باطل پلویان په نړیوال جال کې

سید سعید

په دې وروستیو کې یو ځل بیا نړیوال جال (انټرنټ) د حق او باطل د پلویانو ترمنځ په افغانستان کې د اشغال او په وړاندې یې د جهاد ارونددسرې جګړې تود ډګر دی. د باطل پلویان پرله پسې د مجاهدینو پر ضد پوچ تبلیغات کوي. د بنګېلا کلګرو کنار و په وړاندې روان في سبیل الله جهاد فساد بولي (العیاذبالله). مجاهدینو ته هغه نومونه کاروي چې د واټیکان، پنټاګان او جاسوسي شبکود جاسوسانو، جنرالانو او کار دینالانو له خوا ورته وضع شوي دي. (لکه ترهګر، بنسټپال، افراطي، اورپکي، انتهاپسندان او) دوی بیچاره ګان !! له خپله انده د پېښو تحلیل نه شي کولای، هر څه چې یې بادار ان وایي «بې چون وچرا» یې ورسره بدرګه کوي او پر بنسټ یې استدلال !! کوي. اَن ډیر ځله خوبې بادار انو دیوې لندمهالي تبلیغاتي موخي لپاره کومه ناپرېته توغولې وي، خو دوی یې کلونه کلونه وروسته هم هماغه بابولالي زمزمه کوي په داسې حال کې چې بادار انو یې وخت لا هماغه خبره اخیستې وي او په رسنیو کې یې د هغه برعکس نوي لاپې ویشتلې وي. دوی د مسلمان په جامه کې زیاتره وخت په خپلو لیکنو کې یو څو هغه پوچې او کلیشې جملې او کلیمې کتار کړي وي چې د اسلام دښمنان یې د مسلمانانو لپاره استعمالوي. په تیره بیا د معاصر و مستشر قینو له لیدلوري او د سیکولریزم په پیروي د اسلامي احکامو پلي کېدل تر وخت تېر او د یو ویشتمې پیړۍ د تمدن له کاروان څخه څوارلس سوه کاله شاته تګ ګڼي. په اسلامي شعایر و او ثابتو نصوصو: حجاب، قصاص، جهاد، هجرت او شهادت ملنډې وهي.

خودالله تعالی ځانګړې نصرت دی چې د باطل لښکر و ته یې هر وخت په هیواد کې داخل او بهر د حق د پلویانو په لاس کلکه ماته ور کړې ده. د مناقشې او منطق په میدان کې یې داسې هېښ کړي دي لکه د تودې جګړې مجاهدینو چې په مدر نو وسلو بار دښمن په داسې یو کړنګ کې راګیر کړی وي چې نه پښې ترې سپکولی شي او نه هم مرسته ور ته رسیدی شي. د دغه ډول افرادو په سر کې زاره کمونستان او یایې زامن دي چې پرون یې د سوسیالیزم ډول ته اتڼ کاوه خو نن بیا کپیټالیزم ته ناڅي. په بل عبارت هغوی چې د پخواني شوروي اتحاد په مړینه یتیمان شول نن د امریکې غلامان دي. په یادو شوو او ساتو سمبال یو هم «سرلوڅ مرادزی» دی چې وخت ناوخت د مجاهدینو د بدنامولو ناکامې هڅې کوي، مجاهدین د پردیو ګټو ساتونکي معرفي کوي. د نیواکګرو په وړاندې روان سپېڅلي ملي پاڅون نورو ته منسوبوي او حتی داسې سپکې سپورې ورپسې لیکي چې قلم څېني شرمیږي خو د نوموړي وجدان پرې ویاړي !!. سرلوڅ د ډاکټر رحمت ربي زیرک یاد «خوار طالب او مست خان د تاریخ په پیچومي کې» لیکنې ډیر غوصه کړی دی او د «طالبان او شر ګډي روشنفکران» تر سرلیک لاندې یې د اسلام، ولس او هیواد پر ضد پر غلګر و ته د چوپړ په موخه لیکلي دي چې:

له بده مرغه موږ په ټولنه کې داسې روشنفکران لرو چې له طالبانو زیاتې تیاره اندیښنې لري. دوی که څه هم په شکاره د ډاکټر، پروفیسور، پوهاند، څېړونکي او په دا شان نورو نومونو خاوندانه غټوي او پر سوي دوی په دې اند دي. د مدني ارونو پر ځای

باید ټولنه د طالبانو په دود رهبري شي. دوی غواړي یو سوچه اسلامي نظام چې هلته په سلو کې سل اسلامي شریعت چې نه یې پخوا په تاریخ کې چا عملي بېلګه لیدلې او نه یې اوس چیرې په کوم اسلامي ملک کې پته لګي. د ۲۱ مې پېړۍ په نننۍ افغانستان کې هم پلي کړي او فکر کوي چې اوس هم افغانان د مدني نظام لپاره چمتو نه دي دیموکراسي، د وګړو انساني او مدني حقوق د ښځو حقوق، د بیان او عقیدې ازادي دا ټول د لویدیځ ارزښتونه بولي او په ختیځ اسلامي هیوادونو او افغانستان کې دا هر څه د دوی په ګومان پردي او ناآشنا څیزونه دي چې د چلښت وړ توب نه دي! نور شمېر یې بیا داسې انګیري او وایي ښه ونه شول چې د طالبانو لومړۍ واکمني هومره ژر نسکوره شوه. داسې دلایل، که چیرې طالبان په واک کې پاتې شوي وای افغانستان به یې ۱۴۰۰ کاله شاته بیولای وای. یا له افغانستان څخه به یې د هغه مهال دښته او له افغانانو به یې ددې دښتې شبانه جوړ کړي وای. بابیزه ګڼي د دوی په اند ملامتیا د هغه چا پر غاړه ده چې طالبان یې د منځنیو پیړیو د غوښتنو له پلیتوب څخه راوګرځول.

دلته غواړم د یوه روښنفکر اند کټ مټ راواخلم نوموړی لیکي « څکه ددغې خپل شوي خاورې تاریخ په یوه پیړۍ کې دوه لویې امپراطورۍ را وپرځولې او دادی نړیوال پانګوال نړیخور نظام هم هدلته ورو ورو نقسونه باسي. نوموړی لیکوال راپاڅېدلې طالبي خوځښت ملي مقاومت بولي او د امپراتوریو د نسکوریدا تر ښکلي سر لیک لاندې د طالبانو نادودو ته ملي رنګ ور کړی او هغه وستایي او له دې لارې جګړه توده وساتي. له بده مرغه داسې روښنفکران چې د طالبانو د نادودو په ستاینه نه مړیږي، لږ نه دي! یوبل یې لیکي چې. « په افغانستان کې د طالبانو مشران باید په دې واقعیت پوه شي چې نن د امریکې حکومت په «نړۍ وال کلي» (ګلوبل ویلیج) کې یواځینی مست خان دی چې هم وسلې لري، هم پیسې لري، هم نسغارې لري، هم محکمه لري، هم قاضي لري، او هم د دغو ټولو وسیلو د استعمال اراده لري. هم زرګر دی، هم جادوګر دی، هم فالګر دی هم تاویزګر دی، هم روان ګر دی هم دارو ګر دی، او هم سوداګر دی، په نړۍ وال کلي کې دغه دول مست خان ستاسې (طالبانو) په شان مخالفین چې د شخصیت ادعا کوي نه شي زغملی[۱].

دلته نوموړی لیکوال په طالبانو پورې، زړه تړي. د نوموړي په اند. طالبان چې افغانستان کې جګړه کوي ګوندې د خپل شخصیت د اعادې لپاره یې کوي. هغه څه چې لویدیځوال کوي هغه بیا طالبان نه کوي او په دې دول لیکوال هڅه کوي د لویدیځ نادودو په وړاندې یوازینی بدیل طالبان. خلکو ته وښلوي! دلته د طالبانو د شخصیت ادعا د افغانستان د واکمنۍ د نیولو په مانا ده امریکا او افغان دولت په ګډه باید د طالبانو په وړاندې له جګړې څخه لاس واخلي. طالبان ازاد پریږدي چې راشي په زور او جګړې سره واکمني تر ګوتو کړي او پر افغانستان د پیریانو او دیوانو پاچایي یوځل بیا واکمنه شي. یوبل روښنفکر بیا وړاندې ځي او لیکي « یوه اردو چې تر دې حده پردۍ او مزدوره وي، څنګه یې (ملي اردو) بللی شو؟ بلکې دا خو د صلیبي ایتلاف افغاني برخه ده چې د غربیانو د اهدافو د تحقق په خاطر د خپل دین او ولس په خلاف جنګیږي نوموړی لیکوال. طالبان او مذهبي توندلاري د دین او افغان ولس سره په تله کې یو شان تللي دي. نوموړی. طالبان د دین او ولس ساتونکي بولي او غواړي په خپل دې حکم سره د افغانانو او نړیوالو ستر ګو کې خاورې وشیندي!

د سرلوڅ د پورته کړښو په ځواب کې ښاغلي ش.حسین «له سرلوڅ سره څو سرلوڅي خبرې » په عنوان لیکي چې: د «سرلوڅ مرادزي» هغه لیکنه مې ولوستله چې سرتکي یې و «طالبان او شر ګډي روښنفکران». دا دول له سپکو سپورو ډک په ښکاره امریکایي پلوه د تیري او تجاوز په ګټه لیکنې او شر ګندونې څه لیږي نه وي او نه دي. خو سرلوڅ دا ځل د هیواد اشغالګرو او ورسره مزدور دولت ته د ښه خدمت په خاطر د خپل ډیر خوار له منطقه تش قلم ژبه د وطن هغو روښانفکرانو ته ور اړولې چې ټول ژوند او احساس یې له وطن او د وطن له انسان سره مینه او د خپل وياړلي تاریخ او ملي لوړ تاریخي هویت د خوندي ساتلو له پاره وقف کړیدی له تیري، اشغال او ورسره خونړي له فساده ډک ضد انساني او په عمل کې ضد بشري روان بهیر څخه ملاتړ، هغه ته

مشروعیت ور کول او خپلو خلکو او تاریخ ته شا اړول په هره پلمه چې وي یو ښکاره ملي ضد دریځ دی. دا چې پوځي تیري او تر لسو کلونو زیات پر دې اشغال افغانستان ته د سرلوړ په خبره دموکراسي، د بشر حقوق، د ښځو آزادي، مدنیت، پرمختګ، او دې ته ور ته څه راوړي دي که نه. دا خبره له ټولو موجودو تر خو واقعیتونو سره سره کیدای شي د هر چا د پوهې، تجربې، ټولنیزې پیژندنې، په روانو پیښو کې د ځانګړو پټو او ښکاره منفعتونو له مخې د بحث ور وي. خو که په بحثونو کې د مخالف نه ځغمل ځانته لوړه بیه ور کول او نور ټیټ او لویدلي ګڼل را منځ ته شي، نو بیا په طبیعي توګه د ارواښاد سید بهاوالدین مجروح په خبره د منطق ځای ځانځاني ښامار نیسي او دغه ښامار ژوند له ټولو ښو او بدو سره له ستوني تیره وي

د سرلوړ بې شمیره لیکنې مې په تیره بیا په افغان جرمن برښنا پاڼه کې لوستلې دي هغه د همدې برښنا پاڼې د امریکایي پلوه نشراتي پالیسي له مخې په ټول توان هڅه کوي چې د وطن اشغال ته مشروعیت او د اشغال دوام ته د امریکایي پوځي «تلپاتې» اډو په اړ تیا پر له پسې لیکنې وکړي. د ده ټول منطق پر دې ولاړ دی چې امریکایي او ناټويي اشغال (دی یې اشغال نه بلکې د «لویدیځوالو» شتون ګڼي) دموکراسي، د بشر حقوق د ښځو حقوق او دې ته ور ته هغه اوتې بوتې چې همدې اشغال جوړې کړي له ځانه سره لري او دا زموږ وطن ته هوساینه، پرمختګ او تمدن راولي. د دې سترو ښکرورو دروغو په ویاندي که څوک ووایي چې د استعمار او نوي استعمار او د پوځي ګلوبالیزم په ماهیت کې د مظلومو اولسونو له پاره دموکراسي او دې ته ورته څه نشته. نو هغه بیا سم د لاسه د طالبان ملاتړي بولي له دې سره سم طالبان له مخې د پنجاب او آی اس آی نوکران ګڼي او په وطن کې د لس کلن په ښکاره ملي مقاومت ټول زور هم یواځې له پنجابه بولي.

مخکې له دې چې د سرلوړ اصلي لیکنې ته ورو ګرځم له ده څخه څو پوښتنې اړینې بولم.

۱- د افغانستان ټول تاریخ د پردو په وړاندې د سر په بیه د مقاومتونو تاریخ و همدغه تاریخ دې اولس ته یو ځانګړی کر کتر ور کړیدی دغه کر کتر «میبی دې یم خو ژوندی دې یم» نښې ځغلي. دا سمه ده چې د وخت د شوروي اشغال په وړاندې پانګوالې نړۍ او سیمه ییز ولاسپوڅو یې د هغه وخت د «جهاد» شاته په دریدو ده نړیوال کمونیزم ملا ور ماته کړه. خو آیا په همغه حرکت کې هم زموږ د خلکو او اولسونو له لوري د تیري او تجاوز په وړاندې د پاڅونونو او مقاومتونو اصلي تومنه زموږ خلک او اولسونه وو...؟

۲- که لږ مخته لاړ شو د هند د مغولي امپراطورۍ، د ایران د صفوي خونړۍ واکمنۍ، او د انګلیسي نړیوالې امپراطورۍ پر خلاف زموږ د خلکو او اولسونو شاته څوک ولاړ وو؟ هغه وخت خونه پنجاب و، نه روس و او نه هغه فارس چې نن یې ایران بولي.

۳- آیا روانه واکمني په ښکاره د «لویدیځوالو» د جاسوسي شبکو د څو ښکاره جاسوسانو او د یو څو «جهادي» تنظیمونو یو پر دو جوړ کړې سهامي دوله مصلحتي شر کت نه دی؟

۴- پاکستان به یو اتومي قوت وي. خو نه د امریکا او پخواني شوروي او نننۍ روسي په شان ستر اتومي قوت دی او نه هغه ستر اردو ګان او پرمختللي پراخه جګړه ییز تخنیک لري کوم چې نوموړي زبرځواکونه او نوره پرمختللې نړۍ یې لري که په دې هیواد کې د دوخت د انګریزي استعمار، د استعماري نړۍ ستنې کېږې شوې او د شرق بلاک لوی او واړه هم دلته په ګونډو شول، نو بیا پاکستان او یا ایران څنګه کولی شي چې په دې خپل خوار لویدونکي توان د افغانستان د اشغال خبره وکړي؟ مګر دا جوړونه په خپله هم ستا د «لویدیځوالو» جوړونه نه ده. هغوی څه وکړي د دموکراسي، ګلوبالیزم د بشر د حقوقو، آزاد بازار، مدنیت او بیا جوړونې شعارونه یې بې اثره شول. جګړه خو هره ورځ یو شعار غواړي. که همدا د ایران او پاکستان د خطر خبره له حده زیاته ونه پړسوي نو بیا خونه اشغال د دوام دلیل موندلی شي او نه هم د دایمي امریکایي پوځي اډو جوړول کوم منطق ته رسي. آیا واقعیت همدا نه دی چې په دې شعار په سیمه کې دېیر یو په عمر دښمني کړي؟

۵– استعمار په هره بڼه چې وي اخلاق او جوړونه نه لري. پانګوال نظامونه اخلاقي نه بلکې دشپږ سياسي. د واکمنو کمپنيو د غوښتنو استازي او د واکمنې مالي اليګارشي اجرايي برخې دي. د پانګوالې نړۍ ګلوباليزم د شوروي واکمنې د وخت دولتي سياسي شوي انترناسيوناليزم ته ورته يوه لوبه ده. هغه هم په يوه پوځي سياسي غرور ولاړ د اولسونو د ملي کرکتر خلاف يوه ناروا جګړه وه او دغه هم تر هغه ډير رسوا او په سخت فساد اخته تر ټولو ډير خونړۍ سياسي پوځي غرور او ورسره د ملتونو د طبعي شتمنيو غارت دی. ويتنام ته يې څه ورکړل؟ عراق ته يې څه پربسودل؟ په فلسطين څه روان دي؟ له يوسل او ډيرشو کلونو زيات استعمار، لاتيني امريکا او توري افريقا ته کومه انساني هوساينه ورکړه؟ ولې د افغانستان په خلکو دومره مين دي چې خپل ټول په همدوی لورو؟ د دې خبرې منطق چيرته دی؟

د پوښتنو دا لړۍ پای نه لري. ما وغوښتل يواځې څو اشارې وکړم.

سرلوڅ د زماني د شيبو په خدمت کې ولاړ دی خو د ده د شرګډي روشنفکرانو» د طالبانو ملاتړي دي. څکه چې هغوی شيبو ته نه بلکې تاريخ ته ګوري. دا لنډه يادونه هم بايد وکړم چې د سرلوڅ. لوڅې توري لا تر ما نه دي را رسيدلي او ډير هغه وتلي په وطن مين روښانفکران يې تر دې تورو لاندې را پرڅولي چې ټولنيز وطنپال انسان سالار مقام او منزلت يې له هيچا پټ نه دی. سرلوڅ د پروني شوروي اشغال (البته دی اوس خپله هسې دورځې په نرخ هغه اشغال بولي) د لورو ګوندي کريو «کادر» و خو اوس هغه ته اشغال او دغه ته د وطن د ناجي په سترګو ګوري. دی ټول هغه روښانفکران چې د ده په شان فکر او ليکنې نه کوي تر سپکو سپورو لاندې نيسي خو هغوی د دومره لويې پوهې او لوی زړه خاوندان دي چې ښايي د سرلوڅ سپکو ته ځواب هم له خپل شان سره سم ونه بولي.

سرلوڅ ليکي: «دوی که څه په ښکاره د ډاکتر، پروفيسور، پوهاند، څيړونکي او دا شان نورو نومونو څاوندانه فتوې او پرسوي، خو هيواد کې دننه د لويديځوالو د ناوړو، په دولت کې د فساد او په دولتي واک کې د نظار شورا او جمعيت په غوړ ګډون د نيوکو په پلمه د طالبانو ملاتړ او لاسنيوي ته پناه وړي. دوی هڅه کوي چې د طالبانو ناوړو او کرغيړنو اعمالو ته د منلو نظرياتي جواز وتراشي او ټولنې ته د موجوده نظام د بديل په توګه طالباني نظام وروپيژني.» په همدې لومړي پراګراف کې داسې ښکاري چې سرلوڅ د رواني مزدورۍ په خيانت، وطن پلورنې، جنايت او فساد لړلې واکمنې په مړک ژاړي. ده ته د ده د «لويديځوالو» جنايتونه ناوړه دي. خو د طالبانو په نوم هر څه چې ډير يې پرديو او دولتي پرو پاګندو جوړ کړي کرغيړنې ناوړه دي بللي. پوښتنه دا ده چې د خلکو په ودونو، جنازو او په کورونو او کاريزونو کې دله ييزې له شميره وتي وژنې، پر ماشومانو او زړو جنسي تيري، د مسلمانانو د مقدس کتاب پر له پسې سوځونې، پر مړو ميتيازې کول، په کورونو د شپې له خوا ور ننوتل او د خلکو د شرف، ناموس او عزت لوټول او بيا وژل او شهيدان هم په يوه خونه کې را ټولول چې دا له زرګونو پيښو اوري د سرلوڅ له پاره ساده ناوړه دي. چې په دې لسو کلونو کې يې د ده لويديځوال ترسره کوي؟ او د دې په وړاندې مقاومت بيا کرغيړنه ناوړه ده. آيا سرلوڅ رښتيا هم باور لري چې ټولې دلارو او سرکونو پر سر چاودنې د طالبانو دي؟ مګر د شوروي راوستې واکمنې په دوران کې يې د تبليغاتو لړۍ او ورسره پلان شوې وژنې هيرې کړيدي ولې د نظارشورا او جمعيت په غوړه ونده څنګ زن تيريږي. مګر خبره دا نه ده چې د ده ډير ملګري له شمال ائتلاف سره وو او اوس هم هملته سر خوځوي؟

د سرلوڅ د ليکنې عنوان د ده دريغ ښيي. هغه د همدې دريغ له مخې څانته خپل منطق جوړوي طالبان کرغيړن او که چا د ده لويديځوال او د هغو پلاس جوړه شوې واکمنې وغندله. هغه شرګډي روښانفکران دي. په انساني او مکري ژوند کې کله چې يو څه له مخکې منل شوي وګڼل شي. د منطق ځای يو ليونی دګم نيسي دغه ليونی دګم ته دلايل هم جوړيږي. هغه دلايل چې يواځې څښتن ته يې ډير غوره بريښي. سرلوڅ په همدې لاره روان دی. د سرلوڅ د «لويديځوال» اختراع هم د پام وړ ده. هغه په ښکاره اوبن په بډو وهي. نه غواړي د امريکا تر مشرۍ لاندې د ائتلاف، ناټو او ناټو آيساف پوځي اشغال په ژبه راوړي. د ده لويديځوال په

خپله هم افغانستان یو اشغال شوی وطن بولي خو سرلوڅ د دې واقعیت پټولو ته د خپل منطق پر ستن جوړ وي. که له ده پوښتنه وشي چې: ستا دا «لویدیځوال» څوک دي. څو له لویدیځ نه راغلې میلمانه دي؟ چا رابللي؟ دادوه سوه زریزې په مرګوني جګړییز تر ټولو مدرن تخنیک سمبال لښکرې. دا د لسګونو جاسوسي سازمانونو تور جال چې په ټول وطن را خور شوی. دا د بلک واټر. سیتې او دیکچیني دلاس وحشي جګړه مار اجیر څواکونه. دا ټول میلمانه دي؟ څنګه کولی شو د دغو میلمنو وحشت په ساده نادودو او د دې په وړاندې زموږ د خلکو پاڅون په کرغېړن عمل تعبیر کړو د ده ځواب به څه وي. ؟

خو په دولتي واکمني کې د فساد خبره یواځې دا نه ده چې رشوتونه به وي. یعنې «مرستې» به یې لوټ کړي وي. د کار اهلیت او توان به نه وي پکاروړل شوی او دې ته ور ته څه. فساد ډېرې ژورې ریښې لري: جاسوسي د فساد مور ده. جاسوسان د ژوند په اوانه کې اخلاق نه پیژني. په عادي حالاتو کې د خپل وطن په استخباراتي کړیو کې کار کول یو ماموریت دي، خو پر دو ته جاسوس کیدل د وطن پلورنې لومړی خښته ده وطن یو مجرد او انتزاعي مفهوم نه دی وطن یو تاریخ. یو هویت. یو ځانګړی فرهنګ یو اخلاقي شخصیت دی. کله چې وطن پلورل کیږي یواځې خپلواکي. ځمکنۍ سلامتیا او ملي واکمني له منځه نه ځي. بلکې، تاریخ، هویت، معنویت، فرهنګ، اخلاق، سنتونه او عقاید یې ټول پلورل کیږي. د انسان وژنه در دوونکې ده خو د یوه اولس د فرهنګ او معنویت وژنه او له هغه څخه د خپل هویت. تاریخ. اخلاقو. کرکتر. او عقایدو اخیستل. اولسونه تاریخي ور کې ته بیایي. فساد د فحش په بنه کې. فساد د دروغو. فریب. ریا. تذویر او نیرنګ په بنه کې. فساد د شخصیت لویدنې او بې هویته کیدو او جاسوس کیدو په بنه کې. فساد د وطن پلورنې د اخلاقو د رواجولو په بنه کې او بالاخره فساد د ژوند د ټولو اخلاقي لورو د راپر ځولو په بنه کې باید ولیدل شي. د فساد پراخه دردوونکې برخه باید په همدې لورو کې وڅیړل شي.

دیوې ټولنې د تاریخي شخصیت بدلون په زور هغه هم د پردو په زور یو لیونتوب او یوه وحشت زیږونه ده زور زور زیږوي. هغه اولسونه چې د پردو زور یې مقاومت ته راباسي د جګړې او ناخوالو مسؤل نه دي. مسؤلین هغه دي چې جګړه یې تپلې ده د پردو تیري کوونکو وحشي کړنې کرغېړنې نه بللې خو د خپلو هر څه کرغېړن ګڼل یو عجیب منطق دی.

د طالبانو د پرمختګ ستر شعار یواځې دفساد وژنو. لوټ او بې امنیتي په وړاندې نه و. بلکې وطن د جګړه مارو په مخامخ سلطنتونو ایرول شوی و. هرچا خپلې پیسې. خپل بیرغونه او خپلې لښکرې او جیلخانې در لودلې او هرچا په خپل سر د وطن په سر له پردو سره معاملې کولې. دغه حالت دوطن د تاریخي یووالي پوښتنه رامخته کړه. دوطن د یووالي د ساتنې شعار د طالبانو خوځښت ته تومنه ور کړه. جګړه د وطن د یووالي تر خونړۍ ساتلو پورې د ور ځې په شعار واووښته. جګړه د وژنو په شکل کې ډیرې نورې ناروا وې هم لري. د ستر تاریخ لیکوونکي ویل دورانت دا خبره هم د یادولو ور ده چې که تاریخ د فاتحینو له خولې ولیکل شي هغه یو ړوند تاریخ دی. د طالبانو د کړنو تاریخ تر ډیره د امریکا انګلیس او وروسته د ناټو او آیساف د خولې تاریخ دی. د سرلوڅ په شان دیو شمیر افغان لیکوالو ډیرې خبرې هم همدغه تاریخ جوړې کړیدي یو شمیر افغان لیکوال یا څېړونکي دا خبره هم زمزمه کوي چې که د افغانستان خلک د استعمار په وړاندې. د وخت د شوروي اتحاد د لښکرو په وړاندې او دغه شان په ټول تاریخ کې آن د ساصاني او مغولي امپراطوریو پر خلاف نه وی دریدلي. افغانستان به اوس په دغه وروسته پاتېوالي کې نه وای. دغه اخیستنه یو حسن نیت ښیي. خو دغه شمیر کسان په دې نه پوهیږي چې ایډیال یو څه او واقعیتونه نور څه وي. ددې اخیستنو یو لنډ ځواب دا هم کیدای شي که همدا مقاومتونه نه وي. نو بنایي افغانستان به هم نه و. د افغانستان شتون د همدې مقامتونو زیږنده دی او همدغو مقاومتونو دغو خلکو ته همدغه دمقاومت تاریخي کرکتر ور کړیدی. یعنې داچې له تاریخ څخه یې درنه برخه همدا ده.

د سرلوڅ منطق دادی چې طالبان خپل سنتي اسلام غواړي او هغه دننني تمدن سره سمون نه لري. که څوک د طالبانو ملاتړ کوي نو هغوی همدغه د ځوارلس سوه مخکې پیړیو تاریخ ته ور ګرځي او دا په نن زمانه کې ناشونی دی. سرلوڅ ته باید ووایو چې

اسلام زموږ د خلکو سپیڅلې عقیده ده. اسلام سنتي او غیر سنتي نه لري. د اسلام مقدس کتاب همدغه قرآن دی. د هغه نوي کول او ستا د «لویدیځوالو» له «تمدن» سره په بله بیه اړول یواځې له اسلام سره نه بلکې له ملیونو مسلمانانو سره دښمني ده. دغه دښمني وینې او مرګونه زېږوي. آن ستا د خوښې ور پر دوو جوړه کړې واکمنې هم همداسې کاله ځان د اسلام تر نامه لاندې پټوي او په همدې خاطر یې د واکمنۍ نوم اسلامي جمهوریت دی. له سرلوڅ نه پوښتنه داده چې کوم اسلام ور ته خوندور دی، دغه چې «لویدیځوالو» او له هغو سره تړلو واکمنو جواسیسو او تنظیمي ډلو رامخته کړی که هغه چې طالبان یې په نوم سر ور کوي سر لوڅ څنګه دا منلی شي چې جمعیت اسلامي، اتحاد اسلامي، وحدت اسلامي، حزب اسلامي او نور چې په ښکاره د «لویدیځوالو» په جوړه شوې واکمنۍ کې د واک اصلي خاوندان دي، خپل اسلامي هویت داسې اړولی چې د لویدیځوالو له تمدن سره سمون وخوري؟ دغه بدعت له اسلام څخه اوښتون نه دی؟ دغه بدعت د تنظیمي شکمن هویت ښودنه نه کوي؟ په دغسې یوه شکمن هویت د افغانستان مسلمانانې پر ګټې باور کولی شي؟

سرلوڅ د طالبانو سره تیر وتنه دا بولي چې بن لادن یې امریکې ته ور ونه سپاره. باور لرم چې دی په دې پوهیږي چې د افغانستان د لاندې کولو طرحه نوې نه وه. دغه طرحه د سړې جګړې له پای ته رسیدو وروسته د مغرورې پانګوالې نړۍ د نړیوال پلان ستره برخه وه. د نړۍ دلاندې کولو خوبونه ډیر زاړه و. د نړۍ د جغرافیې اړول له همدې خوبونو سره تړلي و. په دې برخه کې که چا ملا محمدعمر هم امریکې ته سپارلی وای. پر افغانستان پوځي یرغل حتمي و. په لیبیا کې قذافي په دې تر ګواښ لاندې و چې د لاکروبي په پیښه کې د ده لیبیا یانو لاس درلود. له لسو کلونو څخه زیات هره ورځ لیبیا تر امریکایي هوایي او راکټي اور لاندې وه. او په زرګونو انسانان یې له لاسه ور کړل. په پای کې په داسې حال کې چې دهغې پیښې له اصلي واقعیت څخه هیڅوک خبر نه شول. قذافي امریکاته په ملیار دونو ډالره تاوان ور کړ څو خپل خلک وژغوري خو همدا چې له دې لارې امریکا او اروپا ته نږدې شو د خپل مرګ چیتي یې په خپل لاس لاسلیک کړه. تر دې مخوا د صدام پر خلیک هم همداسې و همدا چې لویدیځ ته ور نږدې شو د مرګ لاره یې خلاصه شوه.

دا خبره چې د ده لویدیځوال په افغانستان کې د نورو تیرو اشغالګرو په شان وروستي سلګي وهي هم سرلوڅ په ټیټکو رولي اولې تر لیه د خپلې ژبې کنترول هم نه کوي. دا یوه عقلي ناروغي ده. که داسې نه وي د ده لویدیځوال په خپله هم اوس دا خبره مني چې پوځ یې په خاورو لګیدلی دی. د پانګوالې نړۍ پر ګنیز خوځښتونه دغه جګړه دهغه یو په سلو کې ښیي چې هم په خپلو ۹۹ په سلو کې ناروا وې کوي او هم نور ملتونه دخپلو ګټو لپاره څپي. دنړۍ حالات اوس په داګه ښیي چې دپانګوال نظام دلویدوبهیر پیل شویدی امریکه او متحدین به یې یا له اشغالي جګړو په شا کیږي او یا به له ډیره لیونتوبه یوه نړیوال ناتار ته مخه وري. داشغال اوپوځي ادو جوړول همدې نړیوال ناتار ته ور دانګل دي. که دا ناتار زموږ په سیمه کې پیل شي لومړنۍ قرباني به یې افغانستان وي. سرلوڅ په ناربلې توګه همدې ژرندې ته اوبه ور سیخوي.

ښايي زبر کیار دیوه پوه وطنپال څیړونکي او لیکوال په توګه په خپلونورو لیکنو کې دخپلې ټولنې حالات د تاریخ او روانو واقعیتونو په رڼا کې انځور کړي وي او دا یې ویلې وي چې د روانې فاسدې پر دې واکمنې بدیل په طالبانو کې د لید ور دی. دا یو ساده نظر نه بلکې که دچا خوښ وي یا نه. له روانو حالاتو څخه یوجوړ شوی انځور دی. دغه واقعیت ته په کتلو د اشغال او روانې فاسدې واکمنۍ بدیل باید څه وي؟ که څوک همدغه پوښتنه د واقعیتونو په رڼا کې وڅیړي هغه باید د طالب پلوي او شر ګډي روښنفکران وګڼو؟ دا څه دول منطق دی. له امریکایي ناټويي دموکراسۍ نه مو توله زده کړه همدا ده؟ او که دا تاسو نه یې چې طوطي وار خبرې کوی. بلکې دا نور دي چې تاسو یې په څه تمه په خپلو وېندویانو اړولي یې؟

یک گزارش تحقیقی تلویزیون 1 نشان داده است که حد اوسط مصارف یک عروسی درکابل از 100 هزار افغانی تا 12 میلیون افغانی بوده است بیش از 8 میلیارد افغانی در 50 هوتل عروسی شهر کابل به مصرف رسیده است که این هوتل ها در مدت نه ماه شاهد برگزاری بیش از 16 هزار محفل عروسی بوده اند

در 9 ماه اول سال 1390 خورشیدی، شهروندان کابل، نزدیک به (9000000000) افغانی را صرف محافل عروسی کرده اند. هزینه آرایشگاه، گروه موسیقی، لباس و زیورات عروس شامل این مصارف اند

محافل عروسي در كابل

ارقام سخن میگوید منابع انترنتی

ین مصرف تجارت هوتل داری ر چنان رونق بحشیده است که در حال حاضر در کابل 46 هوتل دارای سالون های متفاوت اند که برای مراسم مختلف، روزانه حتی تا سه محفل نیز در برخی از این هوتل ها برگزار می شوند تجلیل از جشن عروسی، نامزدی، شب حنا، شب شش و دعوت ها شامل این مراسم اند

بهای یک وقت غذا برای یک نفر در محفل های خوشی در کابل بین 380 تا 1200 افغانی هست. ما شماری از هوتل داران گفته اند که ممکن این قیمت تا چند هزار افغانی بلند برود

به اساس این تحقیق بطور اوسط هر شبانه روز در شهر کابل، 60 محفل عروسی برگزار می گردد که حدود 60 هزار نفر در آن شرکت می کنند

از جمع این شرکت کننده ها، هفتاد درصد آنها که 42000 نفر می شوند، مردان می باشند و سی درصد، یعنی 18000 نفر آنرا زنان تشکیل می دهند

بر بنیاد معلومات مدیران هوتل ها، از جمع مردان 80 درصد یعنی 33 هزار نفر جوانان اند و تنها 20 درصد بزرگ سالان می باشند

یافته های این تحقیق نشان دهنده آست که در هر شبانه روز 18 میلیون افغانی مصرف غذای هوتل ها در کابل است. این مبلغ در هر ماه 540 میلیون و در 9 ماه به (4,860,000) افغانی می رسد

به اساس یافته های این تحقیق مصارف آرایشگاه، کرایه موتر گل پوش و تخت عروسی در هر شبانه روز در شهر کابل 6 میلیون افغانی است که این رقم در یک ماه 78 میلیون افغانی و در 9 ماه به هشت صد و دو میلیون افغانی می رسد.

- میانگین مصارف زیورات عروسی در هر شبانه روز شش میلیون افغانی است که در یک ماه به 180 میلیون افغانی و در 9 ماه به یک میلیارد و شش صد و بیست میلیون افغانی می رسد

- مصارف گروه موسیقی نیز معادل زیورات عروسی می باشد.

- کرایه لباس عروس در یک شبانه روز 18 لک افغانی و در یک ماه 54 میلیون افغانی و در 9 ماه به 486 میلیون افغانی می رسد

کرایه گروه فلم برداری در یک شبانه روز یک میلیون و دوصد هزار افغانی، در یک ماه 36 میلیون افغانی و در 9 ماه به 324 میلیون افغانی می رسد.

به اساس این تحقیق، در ماه های حمل تا قوس سال 1390 خورشیدی بیشتر از 16 هزار محفل عروسی درهوتل های شهر کابل برگزار شده اند که مجموع مصارف آن هشت میلیارد و نود و دو میلیون افغانی گردیده است

مصرف بالای محافل از چند سال بدینسو نگرانی ها را بوجود آورده اند که در این مورد وزارت عدلیه گفته است که آنها نیز متوجه مصارف بیش از حد عروسی ها در کابل و دیگر ولایات کشور شده اند و درین مورد تلاش خواهند کرد تا جلو این مصارف گزاف را بگیرند

به بنیاد این تحقیق، در جریان سال 1390 مصارف غذای عروسی ها تا 120 هزار دالر آمریکایی نیز رسیده است که بیشتر این عروسی ها مربوط به تاجران و مقامات ارشد حکومتی بوده اند

دراین میان چند محفل عروسی در شهر کابل مصارف بالای را داشته اند که می توان بترتیب زیر از این محافل پرمصرف سال 1390 خورشیدی یاد آور شد:

- مصرف غذای عروسی پسر یک بازرگان بیشتر از 120 هزار دالر آمریکایی

- مصرف غذای عروسی پسر یکی از وزیران کابینه بیشتر از 75 هزار دالر آمریکایی

مصرف غذایی عروسی پسر یک مقام لوی سارنوالی افغانستان بیشتر از 55 هزار دالر آمریکایی

این مصرف ها در محافل شادمانی شهریان کابل درحالی صورت می گیرند که بیشتر مردم این گونه مصارف را ولخرجی دانسته و از آن به شدت انتقاد می کنند

در این زمینه برخی از هوتل داران و پیشه ورانی که در بخش های آرایش کار می کنند، گفته اند که مصارف گزاف به عرف ناپسند تبدیل شده است

از سوی دیگر هوتل داران در شهر کابل، وزارت مالیه را متهم کرده اند که این وزارت از آنها دو بار در سال، مالیه می گیرد و به باور آنها این کار غیر قانونی و سنگین است. اما وزارت مالیه تاکید کرده است که آنها مطابق به قانون از هوتل ها مالیه می گیرند. برگزاری این شانزده هزار محفل در شهر کابل از سوی وزارت مالیه افغانستان تائید نگردیده بل مسوولان این وزارت آمار ثبت شده محافل عروسی ها ر

در شهر کابل، 5150 محفل در یک سال خوانده اند اما آنها بدین باورند که آمار دقیق برگزاری محافل عروسی به مراتب بیشتر از این امار ثبت شده، است

آنچه تلویزیون ا در این تحقیق دریافته است، نشان داده است که بهای غذا در سالون های عروسی همواره رو به افزایش بوده و هیچ مرجع برای کنترول آنچه قیمت گذاری های خود سر هوتل ها د نسته می شوند ، وجود ندارد

اما در میان این هوتل ها، برخی سالون های دیگری نیز هستند که بر علاوه بهای نان، کرایه سالون، تکس دولتی و کرایه پوش هر چوکی را به گونه جدا گانه از محفل داران می گیرند

وزارت عدلیه گفته است که آنها در طرح قانونی که به شورای وزیران فرستاده اند برای محافل عروسی قیمت های مشخصی را پیشهد کرده اند که پس ار تصویب شورای وزیران عملی خواهد شد

برنبیاد آمار های وزارت مالیه و شهرداری کابل، درآمد دولت از محافل و سالون های عروسی در بخش های زیر تنظیم می گردند

- 25 میلیون افغانی پول مالیه هوتل ها در سال 1390 خورشیدی

بیست و یک و نیم میلیون افغانی پول صفایی هوتل ها در سال 1390 خورشدی

- دونیم میلیون پول کرایه توقفگاه های هوتل ها در سال 1390 خورشیدی

- ده میلیون افغانی مالیه لوحه های هوتل ها در سال 1390 خورشیدی

مجموع ین درامد دولت در سال 1390 خورشیدی از مالیه هوتل ها 58 ملیون افغانی شده است. اما وزارت مالیه گفته است که آمار درآمد هوتل ها به مراتب بیشتر از رقم اند که مالکان هوتل ها به وزارت مالیه و شهرداری کابل گزارش داده اند

به اساس آمار ها درسال 1390 خورشیدی عاید سرانه افغانستان بالای 600 دالر امریکایی بوده است همچنان آمار های وزارت کار و امور اجتماعی نشان می دهند که میزان بیکاری در افغانستان بالای 35 درصد می باشد

از سوی دیگر آمار های نهاد های مالی بین المللی نشان داده اند که بیشتر از 40 درصد جمعیت افغانستان زیر خط فقر زنده گی می کنند و روزانه کمتر از یک دالر عاید دارند

به باور برخی از مردم و کارشناسان، بلند بودن مصرف عروسی در افغانستان سبب شده است تا شماری زیادی از دختران و پسران نتوانند به موقع عروسی کنند مردم به ین باور اند که مصارف گزاف عروسی ها سبب خرابی مناسبات میان عروس و داماد پس از عروسی ها شده و این موضوع به امر خشونت های خانواده گی افزوده اند و درکنار این در رشد فساد اخلاقی در کشور، نقش داشته است

جنگ فکری

از دیدگاه فیلسوف شرق :

علامه اقبال لاهوری

مولوی عبدالهادی "مجاهد"

نظریه وطرز تفکر اقبال در مورد (جنگ فکری) میان مسلمانان و غرب ازین لحاظ از اعتبار بر خوردار است که موصوف خود از میدان این جنگ برگشته، و همهٔ مراحل وابعاد آنرا بچشم سر مشاهده نموده است.

او آتش ین جنگ را به چشم سر مشاهده نموده. و با جنگنده گان طرف مقابل این جنگ شب وروز های را سپری نموده است او از نیات و اراده های پلانسازان و برنامه ریزان این جنگ آنجا درغرب اطلاع یافته، سپس آنرا دراشعار ونظریاتش منعکس نموده . تا امت خودرا از خطرات این جنگ آگاه سازد

اقبال درسرزمین خودش نزد (مستشرقین) غربی آموزش دیده . نظریات آنهارا خود معلوم نموده، و بعد زان رهسپار غرب گردیده ،ودراروپا با رهبران فکری وفیلسوفان غربی مدتی یکجامانده، و نظریات آنهارا در روشنی اسلام مورد ارزیابی وتحقیق قرار داده است.

او از غرب چیز های زیادی آموخته، اما خوشبختانه در دام غرب نیفتاده. وبه تعبیر خودش همانند حضرت ابراهیم علیه السلام از (آتش نمرود) زمان خودش به سلامت برآمده، چنانچه میگوید

طلسم عصر حاضر را شکستم　　ربودم دانه و دامش گسستم
خدا داند که مانند براهیم　　به نار او چه بی پروا نشستم

ولیکن این تنها اقبال است که ازین (جنگ فکری) نجات یافته. ولی مردمان زیاد دیگری را دیده که چگونه قربانی این جنگ گردیده اند، او میگوید

همه افسونی تهذیب غرب　　کشتهٔ افرنگیان بی حرب و ضرب

او قربانیان این جنگ را که شیفتهٔ غرب هستند، ودر هر چیز از غرب تقلید مینمایند، و بر راه او روان هستند، به برگشتن به آغوش اسلام توصیه مینمایند. و آنها را درس (خودی) می دهد، و به آنها تفهیم میفهمند که شما غرب را به شکل حقیقی آن نشناخته اید تنها با سرکشیدن چند جامی زخم آن از (خود) رفته و مدهوش گشته اید چنانچه میگوید:

بیا اقبال جامی از خمستان خودی درکش　　تو از میخانهٔ مغرب زخود بیگانه می آیی

سپس او پرده از روی چهرهٔ اصلی غرب برداشته ، و حقائق فلسفه غرب را به مسلمان فریب خوردهٔ چنین بر ملا میسازد:

یورپ از شمشیر خود بسمل فتاد — زیر گردون رسم لادینی نهاد

گرگی اندر پوستین بره ئی — هر زمان اندر کمین بره ئی

مشکلات حضرت انسان ازوست — آدمیت را غم پنهان ازوست

درنگ هش آدمی آب وگل است — کاروان زندگی بی منزل است

علم اشیا خاک مرا کیمیاست — آه ! در افرنگ تأثیرش جداست

او درمورد اینکه غرب چگونه با رفاقت ودوستی اش از یک انسان نیک وفرشته صفت نیز ابلیس میسازد. وچگونه از علم ودانش ابزار تباهی انسان را فراهم میکند چنین میگوید

علم ازو رسواست اندر شهرودشت -- جبرئیل از صحبتش ابلیس گشت

دانش افرنگیان تیغ بدوش == در هلاک نوع انسان سخت کوش

آه ! از افرنگ و از آیین او == آه !! از اندیشهٔ لادین او

اقبل به غرب زده گان وقربابیان (جنگ فکری) غرب د مورد (انسان دوستی !؟) و(حقوق شنسی !!؟) غرب چنین میگوید:

شرع یورپ بی نزاع قیل وقل -- بره را کردست برگرگان حلال

کشتن بی حرب وضرب آیین او -- مرگها از گردش ماشین او

اقبل نه تنها از حقیقت غرب پرده بر میدارد . بلکه تصویر واضحی از آنعده مسلمانانیر که درد م فکری غرب گیر مانده و قربانی (جنگ فکری) گشته اند . واینکه چگونه تعلیم غربی مسلمان غیور را به عروسکهای غربی تبدیل نموده .وهمهٔ دارایی اسلام را از آنها گرفته است،ما تقدیم میکند . و چنین میگوید

حکمت ارباب دین کردم بیان

حکمت ارباب کین را هم بدان

حکمت ارباب کین مکراست وفن

مکر وفن ؟ تخریب جان تعمیرت

حکمتی از بند دین آزاده ئی

از مقام شوق دور افتاده ئی

مکتب از تدبیر او گیرد نظام

تا به کام خواجه اندیشد غلام

شیخ ملت با حدیث دلنشین
برمراد او کند تجدید دین
وای قومی کشتهٔ تدبیر غیر
کار او تخریب خود تعمیر غیر
میشود درعلم وفن صاحب نظر
از وجود خود نگردد باخبر
از حیا بیگانه پیران کهن
نوجوانان چون زنان مشغول تن
در دل شان آروزها بی ثبات
مرده زایند از بطون مهات
دختران او به زلف خود اسیر
شوخ چشم وخود نما و خورده گیر
ملتی خاکستر او بی شرر
صبح او از شام او تاریک تر
هر زمان اندر تلاش ساز و برگ
کار او فکر معاش و ترس مرگ
منعمان او بخیل و عیش دوست
غافل از مغزند و اندربند پوست
قوت فرمانروا معبود او
در زوال دین و ایمان سود او
از حد امروز خود بیرون نجست
روزگارش نقش یک فردا نه بست
از نیاکان دفتری اندر بغل
الامان از گفته های بی عمل
دین او عهد وفا بستن به غیر
یعنی از خشت حرم تعمیر دَیر

سپس اقبال حکیم و فیلسوف از تأثیر منفی تعلیم ومکتب غربگرا شکوه میکند .وفرزندان (روشن فکر !!)، اما (تاریک ضمیر) آنرا چنین معرفی مینماید:

در عجم گردیدم و هم در عرب
مصطفی نایاب ارزان بولهب

این مسلمان زاده روشن دماغ
ظلمت آباد ضمیرش بی چراغ

در جوانی نرم و نازک چون حریر
آرزو در سینهٔ او زود میر

این غلام ابن غلام ابن غلام
حریت اندیشهٔ او را حرام

مکتب ازوی جذبهٔ دین در ربود
از وجودش این قدر دانم که بود

این زخود بیگانه این مست فرنگ
نان جو میخواهد از دست فرنگ

از فرنگی میخرد لات و منات
مؤمن و اندیشهٔ او سومنات

دین و دانش را غلام ارزان دهد
تا بدن را زنده دارد جان دهد

گرچه بر لبهای او نام خداست
قبلهٔ او طاقت فرمانرواست

اقبال حکیم که از زهر فلسفهٔ مادی غرب به خوبی آگاه است مسلمانان را از خطر اتباع اندیشه غربی خبر میدهد. و به آنها میفهماند که کسیکه یکبار ما (زهر فکری) غرب آلوده گردد اودیگر ز فعالیت به نفع مسلمانان به دور میگردد و از خیر بزرگی محروم میشود:

هوشمندی از خم او می نخورد
هر که خورد اندر همین میخانه مرد

بعضی غرب زده گانیکه اصلا فرق بین علم و فرهنگ رانمیدانند. وگمان میبرند که اگر آنها رسم و رواج و فرهنگ غربیها را تقلید کنند. و شکل. مظهر. لباس و فیشن خود را چون غربیها بسازند. آنها نیز همانند غربیها در بخش علم و فن پیشرفت خواهند کرد. و شرق نیز همسان غرب به اوج پیشرفت و ترقی مادی خواهد رسید

اقبال در مورد این تصور و خیال خام و فریبندهٔ شیفتگان غرب را چنین مورد خطاب قرار میدهد:

شرق را از خود برد تقلید غرب
باید این اقوام را تنقید غرب

قوت مغرب نه از چنگ و رباب
نی ز رقص دختران بی حجاب

نی ز سحر ساحران لاله روست
نی ز عریان ساق نی از قطع موست

محکمی او را نه از لادینی است
نی فروغش از خط لاتینی است

قوت افرنگ از علم و فن است
از همین آتش چراغش روشن است

حکمت از قطع و برید جامه نیست
مانع علم و هنر عمامه نیست

علم و فن را ای جوان شوخ و شنگ
مغز می باید، نه ملبوس فرنگ

اندرین ره جز نگه مطلوب نیست
این کله یا آن کله مطلوب نیست

فکر چالاکی اگر داری بس است
طبع دراکی اگر داری بس است

قبال در نهایت به فرزندان امت اسلامی توصیه نموده میگوید که نه گوهر غرب قابل نگهداشتن است، و نه مشک آن قابل بوئیدن، زیرا گوهرش مغشوش بوده، و مشکش از نافهٔ آهو نه، بلکه از ناف سگ است، و میگوید
گوهرش تفدار و در لعلش رگ است
مشک این سودا گر از ناف سگ است

دبادغیس ولایت جهادي مسؤل مولوي عبدالقدوس :

په بادغیس کې په تش لاس پیل جهاد اوس دبري پړاوونه لنهوي

مولوي عبدالقدوس چې ۲۸ کاله عمر لري دبادغیس ولایت دمقر ولسوالۍ اوسیدونکی دی ، نوموړي د افغانستان او پاکستان په بیلابیلو مدارسو کې خپلې دیني زده کړې ترسره کړې دي ، دغه راز یې د افغانستان په مختلفو سیمو کې جهادي مقدسه دنده هم سرته رسولې ده

مولوي عبدالقدوس چې په بادغیس کې دامریکا ضد جهاد داحیاء کوونکي شهید مولوي دستګیر له نږدې ملګرو څخه دی ، دهغو مجاهدینو له جملې شمیرل کیږي چې په ډیرو سختو شرایطو کې یې په تش لاس خو قوي ایمان سره دبادغیس په ولایت کې دامریکایي یرغل په خلاف جهاد پیل کړ

دجهادي دندې په مهال نوموړی څخه مهال د بادغیس ولایت د دره بوم ولسوالۍ دمسؤل په صفت دنده ترسره کړې و همدا وس په بادغیس کې دانفجاري موادو او استشهادي عملیاتو دمسؤل په صفت وظیفه اجراء کوي . له نوموړي سره مو په بادغیس کې دجهادي وضعیت په اړه مرکه کړې ده چې ستاسو پام ورته راګرځوو

پوښتنه محترم مولوي صاحب که له هرڅه وړاندې دبادغیس په ولایت کې دجهاد دپیل په اړه معلومات راکړئ . هلته جهادي خوځښت لومړی څه وخت او څنګه پیل شو ؟

ځواب : نحمده ونصلي على رسوله الكريم اما بعد

ستاسو دپوښتنې په رابطه باید ووایم چې کله امریکایانو په افغانستان یرغل وکړ او دنورو هیوادغوندې زیاتره شمالي ولایات دطالبانو له ولکې ووتل ، نو په دې وخت کې دنورو افغانستان غوندې په بادغیس کې هم پخواني جګړه ماران او ټوپکیان راپورته شول ، او په مؤمن او مجاهد اولس یې سخت مظالم ترسره کړل

دا زما دسترګو لیدلي حالات دي . چې لوټماران به د ۲۰۰ یا ۳۰۰ کسانو په شمیر کې په ولسي کلیو باندې ورغلل او په چا به یې چې دا شک راته چې له مجاهدینو او طالبانو سره خواخوږي لري ، نو کورونو به یې ورلوټ کړل ، سربېره له دې چې دوی هرڅه لوټل خو ډیره هڅه به یې په وسلو او مهماتو پسې وه ، او دا به مبالغه نه وي که ووایم چې دیرغلګرو بیو څو کلونو په بهیرېدو سره په بادغیس کې داسې هیڅ دپام وړ درنه یا سپکه وسله او مهمات پاتې نه شول ، چې مجاهدین یې دیرغلګرو په خلاف وکاروي او جهاد ته پرې ادامه ورکړي . دهمدې سختو حالاتو له مله وو چې له امریکایي یرغل وروسته څو کاله په بادغیس کې جهاد وځنډېده ، ځکه هلته سربېره له دې چې خلکو

جهـدي احساسات درلودل ، خو څـکه چې جنګ په وسله کـېږي ، هيڅ داسې شی بې په لاس کې نه درلود چې عمليات يې پرې کړي وای

په ۲۰۰۷ کال ما او د بادغيس پخواني جهادي مسؤل شهيد مولوي دستګير صاحب په هلمند کې درسونه ويل دغه رار مو په جهادي عمليتو کې هم برخه اخيسته . تردې وخته پورې په بادغيس کې هيڅ جهـدي عمليت نه وو شوي د اسلامي امارت لخوا مولوي عبد الرحمن حقاني صاحب د بادغيس لپاره تاره دمسؤل په حيث ټاکل شوی ، له هغه سره ترسلامشورو وروسته زه او مولوي دسګير صاحب د افغانستان له جنوب څخه بادغس ته دجهـد په نيت روان شوو ، په دې مهل موږ دومره تش لاسي وو چې حتی دسفر خرڅ (کرايه) مو په نيمه يې لاره راخلاصه شوه ، خو کله چې بادغيس ته ورسيدو هلته مو د بالامرغاب په ولسوالۍ کې دکارپيلولو پريکړه وکړه ، لومړی دوسلو دپيدا کولو لپاره د بالامرغاب دپنيرک په کلي کې يوه پخواني جهادي قومندان ته ورغلو چې دوسلو کومک راسره وکړي . هغه دې خير يوسي دوه ميله کلاشينکوف يې راپيدا کړل .بيا دهمدې ولسوالۍ دغورتو دسيمې مولوي بازمحمد صاحب يوميل راکټ راکړ . په دې توګه موږ يو څو نور ملګري هم دوخت په تيريدو سره پيدا کړل و په همدې درې ميله اسلحه باندې مو جهاد پيل کړ، يو وخت چې شمير مو ۱۲ کسـنو ته رسيدلی وو . لومړی مو په سيمه کې ددښمن ديوې NGO په ساتونکو بريد وکړ بله شپه مو د بالامرغاب په ولسوالۍ بريد وکړ او بيا مو په مختلفو پوستو بريدونو ته دوام ورکړ .لومړی مو کرونه يوازې دشپې کول خو دوخت په تيريدو سره مو غيمتونه ترلاسه کړل ، ملګري مو نورهم زيات شول او دوسلوله اړخه بسيا شوو . دلته نو بالامرغاب ته نږدې يو غرنۍ سيمه ده په نامه د (حوض کبود) دلته موږ مرکزيت جوړ کړ . او کله چې په بادغيس کې اوازه خپره شوه چې مجاهدين پيدا شوي دي ، نو په هره ولسوالۍ کې هغه خلک چې جهادی جذبه يې درلوده او يوازې همداسې يوه عرته نتظار وو هغوی هم دلته خان ر رساوو ، نو په دې توګه دمجاهدينو شمير هره ورځ په زياتيدو وو نو عمليات مو نورو ولسواليو لکه مقر ، دره بوم او نورو سيمو ته وغځول او ډيرې پراخې سيمې مو فتحه کړې . په دې وخت کې شهيد مولوي دسنګير صاحب زموږ عمومي نظامي قومندان وو ، په دې توګه په بادغيس کې جهاد پيل شو له دې نه دوه کاله وروسته مولوي دستګير صاحب دهرات په ولايت کې ددښمن له خوا ونيول شوو و شپږ مياشتې بندي وو ، خو کله چې راخلاص شو بيا دنوموړي په مشرۍ دبالامرغاب داکارو په سيمو کې هغه لويه واقعه رامنځته شوه . چې په هغه کې ددښمن دموټرو او مهماتو يو لوی کاروان زموږ لاس ته راغی . په ۹/۱۳۸۷ ۷ هـ ش نيټه په دې عملياتو کې ددښمن د ۴۵ موټرو له جملې نيمايي دمجاهدينو په لاس تخريب شول او نيمايي نور روغ رمټ ونيول شول ، په دې عمليتو کې ددښمن ډير عسکر هم موږ ژوندي ونيول او وسلې او مهمات خو مو دومره زيات په کې غنيمت کړل ، چې تراوسه پورې موږ په هماغو وسلو جهاد ته ادامه ورکوو ، په دې عملياتو کې موږ سه په لسګونو ميله سپکې وسلې ، هاوان ، هشتادو دو ، دهشکې ، ثقيل ماشيندار او نورې دول دول وسلې په لاس راغلې ، له دې وروسته په بادغيس کې جهاد په پوره قوت روان شو ، او داسې وخت راغی چې د بادغيس ۸۰ خاوره ددښمن له وجود څخه پ که شوه.

تراوسه پورې چې په بادغيس کې جهاد په پوره قوت سره روان دي ، که حقيقت وو يم دا دهمغو متقدمينو مجاهدينو دهمت ، اخلاص او قربانيو برکت دی ، چې په سختو حالاتو کې يې عزم متزلزل نه شو و دمجاهدينو رهبري يې وکړه په دوی کې دشهيدو شويو جهادي قومندانانو له جملې د مولوي دستګير صاحب ، مولوي اسمعيل

، معاون بازمحمد ، جمال الدين منصور ، عبدالرحمن اخندزاده ، مولوي سيد حکيم ، ملا مر لدين ، ملا فضل الدين ، مولوي داود ، مولوي عبدالرازق ، سيدعلي شاه آغا ، ملا سورګل او څيو نورو مجاهديو نومونه دي دولو ورږدي

پوښتنه . مننه محترم مولوي صاحب چې په بادغيس کې د سپرخوکلن جهادي سير په اره ډير په زړه پورې معلومات ر کړل ، که راشو تني وضعيت ته هم دا اوس په بادغيس کې جهادي وضعيت څرنګه رروئ ؟

ځواب : لله الحمد په بادغيس ولايت لکه تاسو چې خبريږئ ، د اسلامي امارت د مجاهدينو جهادي عمليات په پوره قوت روان دي ، په دې ولايت کې اوس د عامو خلکو اکثريت يې بالفعل يا بالقوه مجاهدين دي ، عام خلک چې په تېر وخت کې د خايي توپکيانو او يرغلګرو له مظلمو څخه په تنګ شوي دي ، وس مقدس جهاد د نجات يوازينی لاره بولي ، د جهاد په برکت د بادغيس مطلق اکثريت سيمې له دښمن څخه پاکې شوي دي ، د بالامرغاب ، غورماچ ، آب کمري ، سنګ آتش ، مقر ، قادس ، جوند او دره بوم په شمول په ټولو ولسواليو کې د اسلامي امارت مجاهدينو عملا شتون لري ، په زياتره ولسواليو کې د دښمن نفوذ يوازې تر مر کزو محصور دی ، که د شمير په لحاظ ووايو همدا اوس زمونږ د احصايي له مخې په بالامرغاب ولسو لۍ کې ۱۰۵۰ تنه ، په غورماچ کې ۵۰۰ تنه او په دره بوم کې ۴۱۹ تنه مسلح او هميشه جګړې ته اماده مجاهدين په جبهاتو کې شتون لري ، دغه راز په پاتې نورو ولسواليو کې هم د سيمې ضرورت او ظرفيت ته په پام سره زمونږ تشکيلات فعال دي له دې بالفعله مجاهدينو پرته د ضرورت په وخت کې د بادغيس ولس هميشه زمونږ تر څنګ ولاړ دي

په بادغيس کې يوازينۍ نقطه چې جهادي عمليات په کې کمزوري دي هغه د بادغيس ولايت مرکز د قلعه نو سيمه ده ، تر اوسه پورې په دې سيمه کې مجاهدينو داسې د پام وړ لاسته راوړنې نه دي درلودلې ، خو مجاهدين په پله پسې تلاش کې دي چې دې مهمې سيمې ته هم جهادي عمليات وغځوي



پوښتنه : په زياتره شمالي او شمال لويديځو ولاياتو کې دښمن ډير خله داخبره کوي ، چې د تيرکال په نظامي عملياتو او داربکيانو د پروګرام په توسط يې هلته د مجاهدينو خواک له منځه وړی ، په دې اړه که معلومات راکړئ چې په بادغيس کې د دښمن دا ادعا ، څومره صدق کوي ؟

ځواب : رښتيا هم دښمن د نورو شمالي ولاياتو عوندې په بادغيس کې هم عمليات کړي دي ، دغه راز يې داربکي سازي د عملي کولو هڅې هم کړي دي ، خو داچې له دښمن سره اولسي ملاتړ نه وو نو څکه يې د دول پروګرامونه بريالیتوب ته نه دي رسيدلي.

ددښمن د پراخو هوايي او ځمکنيو عملياتو په مقابل کې به شدید په آني توګه مجاهدینو بوه سیمه تخلیه کړې وه ، چې دا ډول د سیمو پرېښودل په چریکي جګړو کې یو معمول دی ، او تاکتیکي شانګ بلل کیږي ، خو مجاهدین بیرته هم غو سیمو ته ورګرځیدلي دي ، او دښمن یې په ډیرو تلفاتو سربیره له سیمو په تیښته هم ر کړی دی

دبیلګې په توګه ددره بوم ولسوالي مربوط دنخچیرستان غرني ستراتیژیکه سیمه چې دبادغیس څو ولسوالي سره نښلوي ، دښمن څه موده وړاندې په دې ځای کې سخت عملیات وکړل ، او دهوايي و ځمکنیو پراخو عملیاتو په ترڅ کې یې په دې سیمه کې ۲ پوستې جوړې کړې او تقریبا ۲۰۰ تنه عسکر او اربکیان یې په کې واچول ، خو څو ورځې وروسته کله چې ددوی عملیات ختم شول مجاهدینو په یوه ډلییز تاخاپي برید کې چې تقریبا ۳۰۰ تنو مجاهدینو په کې ګډون درلود ، ددښمن شپږ واړه پوستې له منځه یوړې ، ددښمن عسکر ب ووژل شول ځینې وتښتیدل او ځینې یې په چورلکو کې پورته کړل ، اوس دا سیمه په بشپړه توګه ددښمن له شتون څخه پاکه ده ، دغه راز په نورو سیمو کې هم چې دښمن په ځینو اطرافي سیمو کې پوستې جوړې کړې دي وس یې اکمالات ورته ګران دي ، ورځې تلفات یې ترېځوا ډیر شوي نو ځکه یې پله پسې تخلیه کوي ، ځینې کسان چې تیر کال ددښمن دعملیاتو په مهال ددښمن په صف کې دریدلي وو او اربکیان شوي وو اوس بیرته له خپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیمیږي ، داربکیانو په انفرادي تسلیمی سربیره ډیرځله دوی په ډلییز شکل هم تسلیمیږي ، دبیلګې په توګه دسږکال دجمادی الاولی په وروستیو ورځو کې دقادس په ولسوالي کې ددښمن ۵۰ تنه اربکیان په ډلییز شکل مجاهدینو ته تسلیم شول ، دا ډول پیښې په دې دلالت کوي چې هلته ددښمن ټولې هڅې په اوبو لاهو شوي دي ، په نظامي میدان کې هیڅ کومه لاسته راوړنه نلري ، او اوس یوازې همدا راډیویي تبلیغات ورپاته دي ، چې غواړي دخپلو مورال بایللو عسکرو مټې حوصلې پرې راټینګې کړي

پوښتنه : محترم مولوي صاحب که دبادغیس په ولایت کې دمجاهدینو دفعالیتونو په اړه کومه جالبه خاطره لرئ هیله ده راسره شریکه یې کړئ ؟

ځواب : دبادغیس په ولایت کې هم د ټول افغانستان غوندې په تیرڅوکلن جهاد کې مجاهدینو خورا درنې قربانۍ ورکړې دي ، هښتوونکي حماسې یې پنځولي ، او دجرأت او میړانې خور په زړه پورې یادګارونه یې جوړ کړي دي ، خو دا ډیر دافسوس ځای دی ، چې داسلامي امارت دمجاهدینو ټلپاتې حماسې او قهرماني همدا سې پاته دي ، او ډیرځله څوک ترې نه خبریږي ، زه په باور سره ویلی شم ، چې دافغانستان له لر وبر څخه همدا اوس دروان جهاد دمجاهدینو کارنامې که راټولې شي ، نو دا به داسلامي تاریخ یو بې سارې باب وي ، داچې تاسو په دې اړه له ماته پوښتنه وکړه ، زه به یوه پیښه یاده کړم چې دیوه ۱۲ کلن افغان ماشوم میړانه او جهادي احساسات ترې معلومیږي

څه موده وړاندې دبادغیس ولایت د دره بوم په ولسوالي کې امریکایانو عملیات پیل کړل ، امریکایانو ددې ولسوالي دکبلچې په سیمه کې تلاشي پیل کړې وه په دې کلي کې یو مسجد دی چې دمولوي پیر محمد صاحب په نوم یو سپین ږیری دیني عالم یې امام دی ، له دې ملا امام سره څو تنو کوچنې طالبان هم وسیږي چې دی ورته سبقونه وايي ، کله چې دې سیمې ته امریکایان راغلې نو ددې مسجد یو ۱۲ کلن طالب چې له ډیره وخته یې دامریکایانو په ضد دجهاد جذبه په زړه کې وه ، داېو ښه فرصت بولي ، نو دوبو ریبلو یو لور پیدا کوي او دجومات د دروازې له شا سره امریکایانو ته کمین نیسي ، کله چې امریکایي عسکر په جومات سر ورد ننه کوي ، دغه ۱۲ کلن

طالب په پوره قوت دامریکایي عسکر په مخ د لور گوزار کوي ، او په مخ یې وښتې راماتیږي . په دې وخت کې دغه کشر طلب دامریکایانو لخوا نیول کیږي . خو څرنگه چې ډیر ماشوم وو نو دکلیوالو په اصرار یې بیرته مریکایانو پریږدي . داسې نورې هم ډیرې جالبې پیښې شوې دي . چې بیانول یې دا یوه بیلگه به یې کافي وي

پوښتنه . مولوي صاحب که یوې عمومي موضوع او ورستنۍ پوښتنې ته راشو څو ورځو وړاندې درو ن میلادي کال دمی دمیاشتې په دوهمه دکابل حکومت له امریکایانو سره ستراتیژیک سند امضاء کړ ، چې تراوسه یې په اړه تبصرې روانې دي ، دبادغیس ولایت دیوه مجاهد په صفت دې موضوع ته تاسې په کوم نظر گورئ ؟



ځواب ، دکرزي لخوا چې کله دمی په دوهمه له بارک اوباما سره ستراتیژیک سند امضاء شو ، له همدې پیښې دری ورځې وروسته دمی په پنځمه امریکایانو دبادغیس ولایت دمرغاب ولسوالی دمنگام په سیمه کې دکوچیانو په کیږدیو بې رحمه بمباري وکړه چې په نتیجه کې یې ۱۴ تنه ښځې او ماشومان په شهادت ورسیدل او ۲ تنه نور ټپیان شول . دا پیښه په حقیقت کې م او دبادغیس ټولو خلکو ته دکرزي دسند لومړی لاسته راوړنه وه . ددې سند له امضاء وروسته حامد کرزي وویل چې اوس په افغانستان کې دبهرنیانو شتون قانوني شو . له دې څخه دا معلومیږي چې نوموړی به دبادغیس دپېښې گډه پوهیدو بې رحمانه قتل عام هم نور یو قانوني عمل بولي.

زما په نظر دا سند به نوره عملي کومه معنی ونلري ځکه امریکایانو تردې مخوا هم په زور او جبر راغلي وو ، ټول واک ددوی په لاس کې وو . کرزی یوازې یو کینټرول شوي گوډاگی وو او اوله دې وروسته هم ترڅو چې امریکایان په دې هیواد کې وي کیسه به همداسې وي . اما ددې سند په امضاء کولو سره یوازې دکابل گوډاگیو چارواکو خپل اصلي ماهیت افغانانو ته رسوا کړ . او دا یې ورته وښودله چې دوی تردې حده پست فطرته دي . چې دستراتیژیک سند په نامه افغانستان څرڅولی هم شي

زما په نظر دافغانستان اولس مجاهد او دین او استقلال مین اولس دی ، په دې اولس کې جهادي جذبه ژوندی دي او د استعداد لري چې بیرته له امریکایانو خپله خپلواکي ترلاسه کړي . کرزی هیڅکله دافغان مجاهد سرلوړي اولس نماینده نه شي بلل کیدی نو بناء ددې سند امضاء دبادارا او غلام ترمنځ یو خپل منځي معامله وه چې مږیوالو ته یې وړاندې کړه دافغانانو لپاره ددې ورته چې په اړه یې ډیر فکر وکړي

ـ مننه محترم مولوي عبدالقدوس صاحب

ـ له تاسو هم ډیره مننه بریالي اوسئ

بار غم عشق

طالب جان

څوارم مطالعه وکړم ، خپل ټول حواس راقابو کړم ، د کتاب البیوع څه ایې نورو کرښو ته ځیر شم تر یوځه ځایه وکړای شم په مطلب یې ځان پوه کړم . خو وروسته له ځانه ناخبره دویمې یوه درانه خوب له ځانه سره وړی یم . د خیال په دنیا کې مې ځانته یو ښایسته او بې ځاره جهان ودان کړی وي ، چې بوارې ږه او او ځوئیه راپانه دښکلي ملګري په کې هوس کوو . کله بیا دګللیو یارانو خوږلیو خاطرو بې سده کړی یم ، چې ناڅاپه راپه هوش شم . شاوخوا دسترګو له کوڅو وښارم ، چې دچا خو راپام نه دی . بیرته مې په څوږېدلي کتاب سترګې ولګې ، په دې وخت کې نو څه مصرۍ څه راپورې لګیږي چې

طالبه خدای که به ماهي . . .

خو ما دڅرمړ کې په ځای ځان نه دځوابدۍ احساس په مخه کړی . دا ځکه او په اصطلاح (موقوف علیه) کتابونه ګوره او دا نررو قیمتي شیبې ګوره چې په سوچونو او اندیښنو یې تیروو .

تیره ورځ چې یوه ملګري دخپل وطن نرڅه حالات دتیلفون په لیکه راته استورول په اخر کې یې زیاته کړه چې داسې حال دی او : نه ارام ګوره خوبونه دمخملو په بستر کې . . . غربو راته ودرید او ورته کړه مې داسې هم نه ده بلکې همه دچا خبره . ناسته یم له ناشره زړه مې په کندو کې دی . . موږ هم دموقوف علیه کتابونه را اخیستي او ودې مو اچولي وي . ظاهرا سه آسوده او مفځم ناست یو . خو ستومانه خیال مو هغه علته وي چیرې مو چې دښکلي حواړه ملګري ، خوږیدلي هیوادوال ، ماشومان ، پتیمې خویندې او وروڼه هره شپه دچاپواو بمبار له مخه هره مخ کیدونکي وي .

پیر محمد کاروان څو کاله وړاندې په یوه شعر کې

دلیل راوړي وو چي د افغانانو د شهادت برج اسمان ته رسیدلی دی نوري حسنې پرې نه راځي نو ځکه باید پرې اضافي ظلم او تجاوز ونه شي. خو موږ وینو چي دغه اسمانڅکلا هم نوري هسکیدا ته نه ایلیدونکي تابیا لري.

په تیرو څو ورځو کي مو په څلورو پیښو کې اوه اته ملګري شهیدان شول، هارون، مطیع الله، شمس الله، اکرم، بلال، مستقیم، یاسین او ... یو دوه نور ژوندي یادر که دي. د نیک محمد او ګل اکا ښایسته زامن یې ورخوا ښیمرګ کړل. او نور ډیر ګلیوال سپین ږیري او زلمي یې لاسترلي چوړلکو ته واچول، خو لاهم د کافر زور نه دی کم شوی، قوي اټکل شته چي لا ډیرې خوانۍ به تربارونو ځار شي.

کله دا سوچ راولویږي چي دا نورو مړي ولي له خوښې او افغانان له خوا شیني مري، دا هغه سوالیه ده چي د ډیری افغانانو د ذهن په تخته په یوه ډیر اېن نقش ده خو د ځواب په برخه کې یې اندونه سره ویشلي دي.

ځینې ستر ګي پټي کړي او بالکلیه حکم وکړي، چي افغانان بدبخته دي !! (نعوذ بالله) ځینې نور چي د جبر و مآل یې پورتني نظر نه راځي. په دې برخه کې لږ په هوس غریږي، دوی وايي افغانان بدبخته نه دي خانونه یې په حپله بدبخته کړي دي، ځکه دوی وايي (افغانانو تل د ملایانو په ژړنده اوبلي، د جدت پسندي، عصریت او عقل پالنې په ځای یې د بمستې پالنې، ارتجاع او عقب ګرایي لمن نیولې ده د طبیعي، مادي محسوسو حقائقو په ځای د دوی په ګومان په اوهامو پسې تللي دي. او په بده ورځ یې د وسلې او وسیلي په ځای توکل محض کافي شافي بللی. دوی وايي افغانان له همدې امله همیشه د چیغې په سر کې تللي. د مړی هرجابر او تجاوزګر ته لومړی دوی ورلاندې ولي، قرباني دوی ورکړې خو د ظلم او استبداد کمپله له تولې مړی توله شوې ده.

د دغه ډول صاحبنظرانو یو خصوصیت دادی، چي د خپلو زهرجنو نظریاتو شیره د کوکنارو ترګلانو لا په ښایسته الفاظو کي پیچلی شي چي ظاهرا د سړي زړه وړي خو په حقیقت کې په معنوي او عقیدوي لحاظ وربانه باور د سړي بیخ او بنیاد وباسي.

دغه ډله خلک چي زیاتره یې خانونه (روشانفکران) بولي، وايي چي په انسان کې د پریکړې دری محلونه دي. ګیډه، زړه او دماغ دوی وايي د ګیډې پریکړې له لوبه سره غلطې وي ځکه په تن پرستي بنا وي، په زړه او دماغ کې دوی یواري د انساني دماغ حپلوا که پریکړه واجب العمل بولي، ځکه دوی وايي له زړه نه کله ناکله احتهادي غلطي کیږي چي ددې لپاره دوی په هوش د حوش د غلبې اصطلاح کاروي، خو دوی دې ته نه ګوري چي زړه د ایمان محل دی.

لېږه دا چي دغه ډډویبي کته ګوری خلک هم د پخوانیو حکیمانو په څیر یواري په انساني دماغ او عقل اعتماد لري او د نقل په مقابل کې د عقل او قیاس پریکړې په ځای ورته بریښي، ددې ساده ګانو نظر که دقیق مطالعه کړو نو ورایه یې تردیره د شیطان له هغه رایې سره مشابه ده چي د (اسجد) الهي امر او نقل په ځای یې حپل دماغ او عقل د پریکړې لپاره کافي وباله، عقلي قیاس یې خوږ کړ چي (آدم

له خاورې پیدا دی، او زه له اور څخه، او اور له خاورې څخه غوره دی نو زه هم تر آدم غوره یم، نو سجده نه کوم) له همدې ځای څخه مولانا رومي صاحب وایي چې لومړی څوك چې عقل یې په نقل مقدم وباله ابلیس علیه اللعنت وو چې همدا یې دابدي هلاکت سبب شو.

راځم دافغانانو دنیك بختي او بدبختي په اړه دریمې رأیې ته، دریمه ډله وایي چې افغانان بدبخته نه بلکې دځمکې په مخ تر ټولو نیك بخته اولس دی، معنی داچې دغه نیك محمد آغا او ګل آغا نیك بخته وو، چې زلمي زامن یې په وینو کې لت پت شول، ماشومان یې وچیچل، دتورسرو کوټې یې پورته شوې، او دکورسرې یې په توره شپه په تورو چورلکو کې ترې یووړل شول.



سره له دې چې دغیمو لپاره به پورتنی مفکوره دخندا وړ وي، خو که سړی لږ هم په دې اړه کې دایمان ځلا ولري نو همدغه دریمه او وروستنی رأیه به ورته منطقي به ښکاره شي.



خوریدلي افغانان تر ټولو نړیوالو نیك بخته دي. په افغانانو متعال خدای جل جلاله څه نعمتونه لورولي چې په نورو نړیوالو یې دغو تصور هم نه دی پیررو کړی قوي ایمان، جهاد، شهادت، هجرت، دخدای تعالی په لار کې غور، ستوماني، زندان او نور کړاوونه څه څه دي، چې متعال څښتن یې په دنیا کې یوازې خپلو غوره نارولو مؤمنو بندګانو ته ورنصیب کوي چې په آخرت کې پرې دسترو او نلپانه انعامانو ثابیا لري.

الله تعالی زکریا علیه السلام د اره خولې ته سپخ کړ، ایوب علیه السلام یې په اوږد مهالي رنځ اخته کړ، یونس علیه السلام یې د ماهي دخیټې بندیوان کړ او خپل نارولی حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم یې د مکې او طائف داوباشانو د ډبرو د سنګسار کړ، دا په دې نه چې خدای نخواسته دوی د دې وړ وو، بلکې دا دالهي ازموینې دتکمیل تقاضا وه، دا لایتناهي کائنات خو الله تعالی هسې خوشې نه دي پیدا کړي بلکې دخلق وجه یې همدغه سترې الهي ازموینه ده چې له مخلوق خصوصاً انسانانو نه اخیستل کیږي.

دا آزموینه بیا داسانۍ او سختۍ بیلابیل مراتب لري، که څوك په اسانه امتحان کې ناکام شي نو سخت ته یې ضرورت نه پیښیږي نو ځکه الله تعالی په هغو چې له ایمان راوړلو یې سرغړولی وي، روژه هم نه ده فرض کړې، او که څوك ددې خاري آزموینې په بیلابیلو پړاوونو کې دکامیابۍ بخت ولري، نو خامخا به دلاسختو کړاوونو او پړاوونو سره مخ کیږي تر دې چې دایمان او همت نهایي ګراف یې معلوم شي، له همدې امله موږ وینو چې دالله تعالی د دربار تر ټولو مقربین همغه څوك دي چې په

دنیا کې یې دالهي امتحان ترټولو سختې صحنې او ستونزې لیدلې وې او په بریالیتوب تري وتلي وي دلته ده چې وایي (ان عظم الجزاء مع عظم البلاء)

زموږ یوه شهید ملګري به ویل چې جنت ته حو څه پوچ رود نه دی تللی ، داجبره که ظاهرا ساده ده حو ډیره لوی رمز په کې پروت دی هیڅوک دې دا ګومان نه کوي چې خدای تعالی هسې پیدا کړی او هماغسې یې وبښي ، الله تعالی فرمایي (آیا تاسو ګومان کوئ چې همداسې به جنت ته داخل شئ ، او الله تعالی به په تاسو کې مجاهدین او صابرین نه وي معلوم کړي ۱۴۲ آل عمران) مطلب داچې داسې ګومان مو بې ځایه ده بل ځای د سورة عنکبوت په یوولسم آیت کې الله تعالی له څو تا کیداتو سره فرمایي (الله تعالی قسم کوي چې خامخا به په دې امت کې مؤمنان او منافقان معلوموي)

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په بیا بیا امت ته همدا آزموینه وربه زړه کوي او د کامیابی راز ورښیې چې وایي ، الدنیا سجن المؤمن و جنة الکافر . . . حفت الجنة بالمکاره وحفت النار بالشهوات . . . دنیا د مؤمن بندیخانه او د کافر جنت دی . جنت په ستونزو پوښل شوی او دوزخ په خوندونو .

له دې څخه معلومه شوه چې دا دنیا دیوه متعهد مسلمان لپاره دارامی بستر او راحت محل نه ده ، بلکې یو پردی وطن او د پردیسی کور دی چې نه شایې ډیر زړه پورې وګڼي او داقامت نیت په کې وکړي .

بله دا چې که په انساني سوچ سره داسې فرض کړي چې ټول عمر دې په هوسایې او عیاشی کې ډوب او خوشاله وي ، هیڅ رنځ او اندیښنه دې ونه ګوري نو کیدای شي چې په پای کې خوشالي هم ورته بې معنی او یو رټولوونکی رنځ شي ، ځکه دریا په معنی سره همه وخت سه پوهیدلی شي ، چې کله یې تیارې سترګې ورتیې کړي ، او یا د شاتو خوږوالی د نورو په پرتله هغه څوک سه احساسولی شي چې یو ځل یې د حنظلو تریخوالی څکلی وي ، موږ په دې ویره یو کې ډیر داسې اولسونه وینو چې د خوښی او عیاشی ټول اسباب په کې مهیا دي خو بیا یې هم وګړي له زور ځمکان څخه ځانونه په ځپله وژني .

امریکا چې د نړۍ په سطحه داقتصادي ، اجتماعي ، اقتصادي او کلتوري پرمختیاوو بیلګه ده دبیلابیلو رواني ناروغیو کور بلل کیږي ، چې یوازینی علت یې له ځینې ونې عیاشي او عیش باري ده .

زما باور دی چې زورانه به په افغانستان کې په مقدس کې جهاد کې د ورو افغانانو په شهادت به رسیږي ، څومره امریکایان چې دایبر ، لیوتنوب ، بلډ پریشر ، ځانوژنو او نورو هنو له وجې ، ژوند له لاسه ور کوي ، علی هذا القیاس نوره نړۍ دروا خله .

خوله دې پورتنیو مسلمو حقائقو سره سره زموږ ځینې (روند اندي) دافغانانو د سرلوړي او متعهد ژوند په نسبت امریکایي ژوند او د سانفرانسیسکو د کوڅو لچرتوب د غبطې وړ یو داسې نعمت بولي چې باید ترلاسه یې کړي ، خو په مقابل کې د دیني اقدارو د ساتنې او افغان پت پالنې په معرکه کې په پړې راغلي ستومانی ورته بدمرغي بریښي .

غم، درد، کړاو او رنځ هغه څه دي چې باید نه وي، ځکه دا ټول هغه څه دي چې انساني طبیعت یې فطرتاً نه خوښوي، خو کله کله که همغو دردو او کړاو دیوه سپڅلي او ستر هدف لپاره وي نو بیا مغتنم بالشان حیثیت غوره کوي، هغه وخت به درد او غم درد بوج نه بلکې، دانسان پسول او دمیړونو دمیړانې محک بلل کیږي، تر دې چې بیا د سړیتوب او مروت تعریف هم له همدې ځایه سرچینه نیسي.

سخ دره په سر چې یې اغزی نه دی

ښکاري به هغری سکر هغری نه دی

افغانانو تل دغو ارزښتونو او مقدساتو د ترلاسه کولو او ساتلو په لاره کې خوړیدلي او دربدره شوي، چې په همداسې دریو قربانیو اوړي. په ځمکه یواځې دالله تعالی واک منل، یواځې دغه ذات جل جلاله بندګي مختارول، او دلله الامر ترنوع لندې ساه اخیستل هغه څه دي، چې د همدې مقصد لپاره په انسان کې روح پو کل شوی او ژوندی شوی دی. او که څوک دې ته واداره کیږي چې په دې حقیقت سترګې پټې کړي او طوعاً یا کرهاً په عقیدوي یا عملي برخه کې د مخلوق بندګي کوي نو په دې سره خو د ژوند بنیادي غایه او مقصد له لاسه ورکوي.

که حیره رانوله کړو نو د دریمې مفتي به رایې له څرګندولو وروسته به ووایو چې اصلاً دغه دلومړیو دوو رایو خلک چې په بختورو افغانانو د بدبختۍ تاپه لګوي، په حپله دیوې لویې بدبختۍ ښکار دي، هغوی لکه ځنګه چې په عقبی کې د سه انجام ته به نه شي کولای. په دنیا کې هم تل حپل ضمیر او وجدان ته د ملامتیا ښیښي په اوړه ګرځوي، ځکه دوی د بازار له نرخ او تول سره د چلیدو لپاره په تولو حقائقو خانونه کاڼه او راړنده کړي. دوی که څه ویني نو د بل په سترګو یې ویني. که د څه شي تصدیق یا تکذیب کوي هم حپل عقل او ادراک ته دوکه ورکوي، او دورځني مصلحت له مخې پرې حکم کوي، د دوی تول ژوند په دوکه، منافقت او تذبذب کې تیریږي. خیر، دوی ته دې همدا د دوی په اند (بخت) تلپاتې وي او ویاړلي افغان اولس ته دې الله تعالی نورهم توفیق ورکړي چې د خدای جل جلاله حضور ته په داسې حال کې ور شي، چې په تندي یې یواځې هغه ذات جل جلاله ته د سجدې داغ پروت وي، چې همدا رښتینی سعادت او بخت دی هغه چې حاصلول یې درانه درانه قیمتونه او دردونه له ځان سره لري.

تا مست نگردي نه کشي بار غم عشق

آري شتر مست کشد بار گران را

اسلامي هیوادوکې

داسلامیت او مغربیت ترمنځ کشمش!

لیکوال :داسلامي نړۍ مفکرعالم مولاناسید ابوالحسن علي "ندوي"رح – ژباړه : ابوظهیر

اوس مهال نږدې په ټولو اسلامي هیوادو کې یو ذهني کشمکش اویا له دې نه هم په ښه تعبیریوه داسې لویه ذهني جګړه روانه ده ، چې مونږ یې داسلامي افکارو اوغوره اقدارو اودغربي افکارو اواقدارو په مخامخ کشمکش اوجنګ تعبیرولای شو! داسلامي هیوادو پخوانی تاریخ اوله اسلام سره یې دپر ګنو اوولسونو ژور تړون اومحبت ،په کوم نوم چې یې دازادۍ جنګونه ګټلي ،یاد کوم څواک په مټ چې هغوئ د خپلې ازادۍ نه دفاع کړې، ټول دعوه لري چې ددوئ په خاروه یواځې اسلامي افکار اواقدار دشتون حق لري ، یواځې دهغه مسلک نه پیروي روا ده چې اسلام یې پلنه ور کړي...

خوددې بر عکس د کوموخلکو په لاسو کې چې داسلامي هیوادو دچارو واګې دي ، دهغوئ ذهني جوړښت دهغوئ روزنه اوپالنه ، ځاني اوسیاسي مصحلتونو په وجه غواړي چې پخپلو هیوادو کې غربي افکارو اوقدارو ته رشد اوپراختیا ور کړي، اودلویدیځ په پل ، پل واخلي ، هر دیني فکر ، ملي عنعنه،دژوند قوانین اوضوابط چې ددې مقصد دلاري خنډ ګرځي ، یکې له ترمیم اوتنسیخ نه کار اخلي ،لنده داچې هیوادونه اوټولني تدریجا(خو په قاطع عزم اوپرېکړه) دغربي تهذیب په قالب کې ځایول غواړي .

په دې لړ کې ځینې (اسلامي) هیوادو ددې یون څو پړاوه هم طي کړي ، او وروستي پړاوته یاخورسیدلي اویا ورلنددي ، اوځینې یې تراوسه لاپه فاصله کې دي خوشواهد اونښي وایې:چې ژربه دهغوئ دیپلتون پولي هم دغربي توپان ځپي له ځان سره په مخ کړي !

ځما په اند اوس مهال دا داسلامي هیوادونه ترټولو لویه اوحقیقي مسئله ده ، دا فرضي او خیالي مسئله نده ، داسلامي هیوادوکورنی کمزور تیاوي اودغربي تهذیب دغلبي اونفوذ کیفیت (چې بیلګه اوساری یې په بشري تاریخ کې نه موندل کېږي) دغربي هیوادو سیاسي اومادي واکمنی ټولو اسلامي هیوادوته دغه مسئله دیوي قوي پوښتني په توګه وړاندي کړې ! چې ورته ځواب ویل په ټولو پور دی ، اوددې سګنل پرته دهیځ هیواد بیړی حرکت نشي کولی ،چې اخر دغه (اسلامي) هیوادونه دغربي تهذیب په باره کې کوم چول دریځ غوره کوي ،خپله ټولنه داوسنې ژوند سره دهم آهنګ کولو ،دزماني د غوښتنو پوره کولو لړ کې کومه لار نیسي اوپه دې لړ کې ترځومره حده زیر کتیا اوزړور تیا ښودلی شي ؟ ددې پوښتنې په ځواب پورې داخبر تړلي چې دنړۍ په نقشه کې ددې قومونو درول ونده ځومره ټاکل شوی ، په دغو هیوادو کې داسلام راتلونکی به څه چول وي ،اودوئ په دې زمانه کې داسلام دنړیوال اوتلپاتې پیغام لپاره ځومره ګټور ثابتیدای شي ؟

دغه وخت راهیسي ددي خبري اړتیا محسوسېده، او ددي مسئلي علمي ، تاریخي څېړني ته اړتیا وه ، اوپه دي موضوع چې څومره لیکل اوڅېړنې شوي پرهغو باندي دیوه بې طرفه تاریخ پوه اودیوه حقیقت پال مفکر په توګه غور وکړم ، اوله افراط اوتفریط نه په ځان ژغورلودهغو څېړل ضروري وه ،ددي ترڅنګ داپه ګوته کول چې اسلامي ټولني (نه یوازې اسلامي عقاید ،اخلاق اوداژوندانه نظریه لحاظول ضروري دي ، بلکې دخپل منصب له پلوه ددعوت وامامت اود کائناتوداحتساب فریضه اداکول هم اړینه ده ،)د پرمختګ اودژوندله روان کاروان سره یوځای د تګ لپاره کومه لار غوره اومعتدله ده ؟نن ورځ ټول اسلامي هیوادونه په خاصه توګه نوي ازاد شوي اسلامي هیوادونه له بل هر څانه زیات ددي مخلصانه مشوري حقداردي ولي په دي لړ کې یوه وړه تېروتنه اوبې اعتدالي یې تر ډېرلري نه لري پوري غځیدای شي

یک لحظه غافل بودم وصد ساله راهم دورشد

په همدي جذبه مې ه تېر کال په عربي کې دیوي کوچنې مقالي لیکلو تابیا وکړه، چې دیوه ټوک (کتاب) بڼه یې ومونده ، اوبیا داکتاب د۱۳۸۳ه ق په شعبان (۱۹۶۳فروري) کې د "موقف العالم الاسلامی ، تجاه الحضارة الغربیة" (دغربي تهذیب په باره کې داسلامي نړۍ رویه) په نوم خپور شو اودعربي هیوادو علمي اودیني کړیو لخواه په تاوده هرکلي ویلو بدرګه شو اوهغوئ په زیاته لیوالتیا ولوست ، دهغوئ لـه منځـه ګڼو علماوو اوپوهانو زه په دي کاروستایلم ، بیا خما په ارزو ګران مولوي محمدالحسني څوک چې د "البعث الاسلامی "مدیردی ، (نوموړي ته الله ﷻ دژباړي اولیکلو بڼه په زړپوري سلیقه ورکړي اوپه خاصه توګه خما دلیکنو د اسلوب سره هم ښه بلد اواشنا دی) دعربي نه اردو ته وژباړه ، بیا ما په ژباړه دویم واري نظر تېر کړ ،په ګڼو ځایونو کې دتفصیل اوزیاتوني اړتیا هم پېښه شوه ، اوهم د دي مسئلي ځیني نوراړخونه هم روښانه کړای شول ،په دي اړه مې ځیني نوي معلومات هم لاسته راوړل ،چې هغو ته په کتنه یکې ځای پرځای زیاتوني وشوي ، ځیني ځایونه ترمیم اوحذف کړای شول ، نو په دي توګه کتاب دژباړي وروسته دوه واره زیات شو او ترڅنګ یې په علمي پانګه اوافادیت کې هم زیاتوالی راغی.

په عین هم دي زمانه کې زه اروپا ته په سفرلاړم ،هلته مې ددغه تهذیب داصلي مرکزیت په نیږدي لیدو ډیر مواد اومعلومات لاسته راوړل ،دلته له هغو نویو علمي کتابونونه هم استفاده شوي کوم چې دهغه ځای په علمي ټولنواو حلقو کې موندل کیږي ،اوس د هغو ټولو زیاتونو اواصلاحاتو سره یو ځای (په اسلامي هیوادو کې داسلامیت اومغربیت کشمکش) په نوم خپریږي ، هیله ده څنګه چې عربي چاپ په عربي هیوادو کې په زیاته لیوالتیا ولوستل شو هم داسې به په نورو هیوادو کې هم لوستونکې دځان په لور مایل کړي ، اوان شاءالله په انګریزي ژبه به هم ژر خپورشي.

دالله (ﷻ) نه غواړو چې هغه زمونږ داسلامي نړۍ واکمنو ته دخپلو نازکو مسؤلیتونو پوهه نصیب کړي او له الله تعالی نه دعا ده چې هغه دي زمونږدټولو اسلامي هیوادوواکمنو اومشرانو ته دخپلو درنو مسؤلیتونو دنزاکت حس په برخه کړي.

اسلامي نړۍ ته دغربي تهذیب ګواښ :

دنولسمي پیړۍ په منځ کې اسلامي نړۍ ډیوي ډېري لوي نازکې او پېچلي مسئلې سره مخ شوه . ددي مسئلې په باره کې اوددې په سهي روی ، اونظریې پوري ډیوي بېلي اوآزادي دنیا حیثیت اوشخصیت تړلی و .

داد ژوند . نشاط ،حوصلې ، عزم ،ترقي ،اوپراختیا دصلاحیتونونه د برخمن تازه دمه غربي تهذیب مسئله وه. کوم چې دبشري تاریخ په څواکمنو اوپراخو تهذیبونو کې شمارل پکار دي او کوم چې په حقیقت کې (که په ژورنظر وکتل شي)دهغو اسبابو اوعواملو قدرتي نتیجه دی چې ډیوي مودي راپدیخوا په تاریخ کې یې خپلو هڅوته په دوام پرمختګ کاو ،څو په مناسب وخت او نوي شکل کې د اوږده انتظار وروسته ځان را څرګند کړي.

اسلامي نړۍ تربل هرچا زیاته ددي ګواښ په وړاندي ده ،ځکه دژوندانه له چارو دپخوانیو ادیانو په ګوښه کېدو اسلام په یواځي سر ددیني اواخلاقي دعوت د یواځیني علمبردار اودبشري ټولني تنها نګران اومحتسب پاتي دی اوهم یې تر ولکي لاندی ښه پراخ سیمه ،اوزرخېزه هیوادونه راغلي ،نو د مادي اوتخنیکي تهذیب دچېلنج لوری په نسبت نورو ولسونوته اسلام پاتي شو.

مرکب تهذیب!

داتهذیب پخپل پراخ شکل کې دعقایدو،خیالاتو ، مفکورووي نظامونو، سیاسي اواقتصادي فلسفو،داجتماعي ،طبعي اوعمراني علوموهم داراز دهغو ځانګړو تجربو عجیبه اوغریبه مجموعه و، کوم چې غربي ولسونو ته دخپلې ارتقا داوږده سفرپه بېلا بېلو پړاونو کې پېښ شوي وه ، داتهذیب په عامه توګه په بشري علم اوپه خاص ډول په طبعي ،تخنیکي اوریاضي علوموکې دپرمختګ یو اړین پړاو و،دطبعیاتو دمفکرانو اوپوهانو دپرله پسې کوښښونو او تجربو لنډیز اوخلاصه و، له دې پلوه هغه دداسي بېلابېلو اجزاؤ اوعناصرو یوه داسي مجموعه وه چې په اړه یې هېڅ کله یودریځ نشي غوره کېدای .

په دې کلتوري اوتهذیبي مجموعه کې دځینو نېمګړو اجزاؤتر څنګ ،ځیني کاملا اجزاء هم راټول وه ، دکټورو اومفیدوموادو تر څنګ یکې مضر مواد هم وه، د صحیح تر څنګ غلط اجزاءیې هم درلودل ، دعلم له داسي بدیهیاتو سره چې هغه د هري شبهې لوړ دي، داسي ناسم قیاسونه ، خطاء خیالونه ،کاږه فکرونه اوله ځانه کړي پرېکړي خلط وي ، چې په هغو کې بحث ،مباحثې غوراو فکر کولو ته بشپړه اړتیا وه ، پکې داسي علمي نتائج هم و، کوم چې دډېر غور ،فکر، مطالعي اوتجربي غورچاڼ وه اوداسي هم و ، چې په اړه یې څه ویل له وخته وړاندي کارو . داسي اجزاء اوعناصرهم وه، چې هغه کوم خاص هیواد اوولس پوري خاص نه و، مثلا . تجربوي علوم! اوداسي هم وچې پکې دغربي تهذیب ځاي روح پوره څرګند و ، اووړباندي دغربي ټولنې او دهغه چاپېریال دژور اغیزدوړي پرتي وي ، اودا دهغو تاریخي انقلابونو اوحوادثو پایله وه، په کومو چې غربیان د خپل عمل ډګر ته رسیدلي وه ، اوداسي اجزاء هم پکې ځای شوي وه چې ددین سره یې سرو کار نه لاره.

ددې تهذیبي مرکب په وجه ددي مسئلې پېچلتیا اواهمیت نورهم وغځیده . اواسلامي نړۍ یې په یوه داسي نازک اوستونزمن موقف باندي ودروله، چې له امله یې داسلامي مفکرانو اومشرانو دذهانت معلومولو امتحان پیل شو.

منفي رويه.

د دی نوي اوپېچلي حالت نه دوتو لپاره په قدرتي تو ګه دري دريځونه غوره کېدای شي لومړی دريځ يارويه منفي اوسلبي (negative) ده مطلب داچې اسلامي نړی ددي تهذيب دټولو فوائدو اولاسته راوړونو نه يومخ انکار وکړي او دهيڅ يوي ښي يابدي خبري اوريدوته يې غوږونه نه باسي، خپل ځان تري لري،بې پرواه اوګوښه کړي، نه ورنه کومه ګټه واخلي او نه يې هغو علومو اوفنونوته لاس وروغځوي، په کومو کې چې غربيانوته تفوق اوبرتري په برخه ده، په طبعياتو، رياضياتواوډيکنالوجي په ځېر علومو کې هم دغرب نه ګټه اخيستل پر ځان حرامه او "شجره ممنوعه" وګرځوي، دنوېو الاتو ماشينونو، دژوندانه دتوکيو اوسامانونو له قبلولو څخه هم انکار وکړي.

ددي دريځ **طبعي اوشرعي حيثيت اوراتلونکي پايلي**:

ددي دريځ قدرتي نتيجه ددي پرته چې اسلامي نړی بېرته پاتي اودژوندانه دروان کاروانه ځان وروسته کړي بله نشي راوتی، په دي سره به دپاتي نړی سره داسلام نړی راشه درشه اواړيکي قطع شي او په يوه محدوده اوحقيره جزيره کې به بنده پاتي شي، چې دشاوخواه دنيا سره به يې هيڅ پيوند نه وي لګيدلی، په بحر کې داسي ګڼي جزيري موندل کېږي، خوپه وچه کې ددغسي جزير وموندل ناشوني دي، او دبشري فطرت سره (چې هغه دخپل چاپېر ياله لړ ډير اغېزمن اوګټه اخلي) په جنګ کولو به هېڅکله هم بری ونه مومي.

ددي ټولو حقايقو څخه علاوه دغه دريځ يارويه دکوتاه لرليد زيږنده هم ده، په وجه يې په فطري ځواکونو اووسائلو کې تعطل راتلای شي اودادهغه دين رښتني ترجماني اوتعبير ندی کوم چې په کائناتو کې دعقل اوتدبر په کارولو زورراوړي، اوپه مفيدو علومو کې داستفادي ترغيب ورکوي، کوم دين چې دساتني اودفاع لپاره دبدنيتو اوسيالوحريفانولخوا دتېري په وړاندي دمحتاط اوسېدو په غرض خپلومنونکوته حکم کړی دی، عظيم الشان قرآن کې الله (ﷻ) فرمايي، ان في خلق السموات والارض واختلاف اليل والنهار لايت لاولي الالباب ٠الذين يذکرون الله قيما وقعودا وعلي جنوبهم ويتفکرون في خلق السموات والارض ربنا ماخلقت هذا باطلا سبحانک فقنا عذاب النار٠(آل عمران ۱۹۰-۱۹۱) پرته له شکه داسمانواوځمکې په پيداښت کې اودشپي ورځې په يوبل پسې راوستلو کې دعقل خاوندانو لپاره (دحق پېژندني) لوي نښی دي. هغه دعقل خاوندان چې په هيڅ يوه حال کې هم دالله (ﷻ) له ياده نه غافل کېږي، په ولاړه، ناسته اوملاسته (په هرحال کې دالله په ياد کې نتوتي وي) اوهغوئ دځمکې اواسمان په پيداښت غور کوي، (ددي ذکروفکر نتيجه داروځي چې په هغوئ دحق پېژندلو دروازي بيرته شي، هغوئ چيغه کړي) اي زمونږ پروردګاره! داهرڅه تا پيدا کړي دي، دابې له شکه بيکار اوعبث ندي پيداشوي يقينا ستا ذات ددي نه پاک دی چې يوعبث فعل وکړي، خدايا مونږ داور دعذابه (چې په راتلونکي ژوند کې راځي) وژغوري!

بل ځای په عظيم الشان قرآن کې دي:

واعدوا لهم مااستطعتم من قوة ومن رباط الخيل ترهبون به عدو الله وعدوکم (الانفال ۶۰)

او(مسلمانانو) څومره چې ستاسي په وس کې وي قوت پیدا کړئ اواسونه تیارساتئ ، ددښمن دمقابلي لپاره، اړوند توکي (سازوسامان) تیارولرئ ، په دغسي مستعد اوسېدو به تاسي پخپلو دښمنانو رعب پربباسئ

په حدیث شریف کې راځي:

الکلمة الحکمة ضالة المؤمن فحیث وجدها فهواحق بها (ترمذي ابواب العلم)

دحکمت خبره دمؤمن ورک شوی مال دی ، هرچېري یې چې ومومي هغه یې حق داردی

اسلام انسان په دي ځمکه دالله تعالی خلیفه ګرځولی ، دچالپاره چې بحروبر شمس وقمر اولیل ونهار مسخر کړل شوي ، هغه که دقال په ژبه یادحال په ژبه دهرضرورت غوښتنه اواظهار کړي دی ، هغه ورته ورکړل شوي دی ، خدای (ﷻ) انسانو ته خپله دالوربنه وریادوي چې هغه دوئ ته فولاد پیداکړي چې پکي زیات کلکوالي دی ، اودانسـانانولپاره پکې ګڼ فوائـد شته دي ، دجنګ تیاری نیول اودجنګ دتوکیو اووسائلولورته توجه ګرځولو په اړه اسلامي امت ته پخپله ددوئ رسول (ﷺ) خپل عملي مثال وړاندي کړی ،چې په احزاب غزوه کې یې دایرانیانو پشان خندک وکندلو. وروسته په همدي مثال علماوو اوفقهاوو استدلال کاو اوپه دي معامله کې دزماني سره یې یوځای او ګه په او ګه تګ کاو، دجنګ لپاره دځانو په تیارولو دوسلوپه کارولو دځپلي دفاع اوګټورو علومو په ترلاسه کولو کې د نړۍ نوروولسونو نه وړاندي وه اوپکې ونډه یې ډیره وه ، اوډیر کرتې یې په دغو ډګرونو کې دخپل تفوق اوامامت نقش هم جوړ کړی دی .

که کوم هیواد غوړونه اوسترګې پټي کړي دنوي تهذیب سره دکلکي ډغري وهلو کوښښ پیل کړي ، یاداچې هغه یومخ رد کړي ، غواړي په ارام خوب وکړي ، اودخپلي محدودي دنیانه بیرون وتوته په هیڅ صورت آماده نه وي ، نوهغه هیواد تر ډیره وخته په معتدل اوډاډمن حالت نشي پاتې کېدای ، هغه به دپرله پسي بغـاوتونو اوانقلابونوسـره لاس اوګریوان وي ، دهغـه هیـواد په بېلا بېلو برخـو کې بـه دنافرمانیو اومخالفتونوشدید تحریکونه اوپاځونونه راولاړیږي ، له دي وجي چې دغه رویه اودریځ دبشري فطرت په ضددي، کوم فطرت چې تل وړاندي ګوري ، کوم چې دهرنوي څېز طلب کوي ، اوپه هیڅ یوه حالت کې دهغه سیر نه پوره کیږي ، عزت ، سرلوړی ، قوت ، خواک اوپه ژوند کې دنوښت مینه یې هروخت په رګونو کې توپونه وهي ، هره لحظه دیوه نوي پړاو په لټون پسې لالهاند وي اودنوي پرمختګ ارزو لري ، یوه نه ستړي کېدونکې هېله مندي ورسره مله وي، دیاس اوناامیدي په ځای ستر امید اوحوصله لري.

ددي ترڅنګ دغه دریځ دتکویني قانون اودکائناتو دمزاج سره هم سرار مخالف دی ، که کوم هیواد دځواک کارولو په مټو غواړي چې دغه دفطرت ضد دریځ غوره کړي ،نودغه تهذیب به دهغوئ کورونو او کورنیو ته په داسي شان ورننوزي ، څنګ چې دقوي سیلاب اوبه دسیند په غاړه پروت کلي یابښار ته ناڅاپه ننوزي اوهغه له هرلوري راپټ اولاندي کړي نوربیا

دعظیم الشان قرآن تاریخ

داسلامي نړۍ نوميالی عالم ډاکټر محمد حميدالله رح

ژباړه : شهاب منصور

وروستي پیغمبر کتاب لپاره عربي ژبه ولې غوره شوه ؟

دمنلو حقیقت دی، چې ژبې کرار ، کرار بدلون مومي ، اردو ژبه واخلئ دنن ځنځه پنځه سوه کاله پخواني اردو ژبې په کتاب مونږ نن په مشکله پوهیږو ، دنورو ژبو هم دغسې حال دی ، دانګریزي ژبې پنځه سوه کاله پخواني لیکوال "چاسیر" (chaucer) په کتاب نن سبا لندن کې دپوهنتون دپروفیسر پرته بل څوک نه پوهیږي ، داحال دنورو پخوانیو اوو سنیو ژبو هم دی ، یعنې په هغو کې بدلون راځي ، او کرار کرار دهري ژبې پر پخواني برکدود دپوهېدو نکو شمېر کمیږي ، کېږي خدای (ﷻ) هم خپل وروستی پیغام په داسې ژربدلېدونکې ژبه نازل کړی وای ، نن به دخدای (ﷻ) درحمت په اقتضاء مونږ دشلمې پیړۍ خلکو ته دیوه نوي کتاب رالیږلو ته اړتیاوه ، څو مونږ پر هغه پوی شوي وای ، ولې دتېرو پیړیو پر کتاب به پوهېدل ګران و ، دنړۍ په ګردو ژبو کې که کومې یوې ژبې ته به دې پلوه استثنا په برخه ده ، چې پکې بدلون اوتغیر نه راځي ، هغه یوازې اویوازې "عربي" ژبه ده .

واقعه داده په عظیم الشان قرآن کې الله (ﷻ) او په حدیث شریف کې رسول الله (ﷺ) کومه ژبه کارولې اوننن له راډیو نه تاسې کومه عربي اورئ ، یا کومه عربي په ورځپاڼو کې لولئ ، ددواړو تر منځ دالفاظو اومفهوم له پلوه ، دګرامر (صرف ونحو) هجې او تلفظ له پلوه هیڅ توپیر نشته ، که رسول الله (ﷺ) نن وای او ما دیوه عرب په حیث په اوسنی عربي خبرې کولای ، رسول الله (ﷺ) به په هر ، هر لفظ پوهیده ، او که یې ماته دخواب ویسو پیروزښه کوه ، زه به هم د رسول الله (ﷺ) په هر ، هر لفظ پوهیدم ، ولې په دواړو کې توپیر نشته ، زه له دینه دا استنباطوم چې په وروستي پیغمبر نازلیدونکې کتاب په یوه داسې ژبه نازلول پکار و ، کومه ژبه کې چې تغیر او تبدیل نشي راتلای ، دیته په پام عربي ژبه غوره کړای شوه ، حاصل دا چې اخري کتاب په یوه داسې ژبه رالیږل پکار و کومه ژبه چې بدلون نه مومي ، په عربي ژبه کې دنورو ځانګړتیاوو لکه فصاحت ، بلاغت او ترنم نه علاوه بله ځانګړتیا داده (مونږ ټول په دې شاهدان یو) چې عربي ژبه تغیر و تبدیل نه قبلوي ، باید په دې مونږ دعربو شکر ګذار اوو سو چې ددې اجازه یې نده ورکړي چې نورې لهجې او اصطلاحات دې ددوئ ژبې ته ننوزي ، بلکې تل یې خپله علمي او تحریري ژبه هم هغه ګرځولې کومه چې د رسول الله (ﷺ) په دور کې وه !

تر کومه ځایه چې دعظیم الشان قرآن پورې اړه لري ، پوهیږو چې ټول په یو کرت ندی نازل ، ځکه چې دتورت په اړه یهودوایي ، چې خدای (ﷻ) په تختو لیکلې رالیږلې و ، ددې برعکس عظیم الشان قرآن په درویشت کلو کې دلږ ، لږ (نجما نجما) نازل شویو اجزاؤ مجموعه دی ، نن چې د "قرآن مجید" په صورت کې مونږ سره کوم الهي کتاب شته ، د نزول شروع یې په کال ۶۰۲ ز ددسمبر میاشت کې هغه مهال وشوه چې رسول الله (ﷺ) په حراغار کې معتکف و ، هلته جبریل (علیه السلام) راغی او رسول الله (ﷺ) ته یې دالله (ﷻ) پیغام ورسلو ، پیغام زیات مؤثر و ، رسول الله (ﷺ) "امي" و ، په لیک لوست قادر نه و ، هغه لومړنی پیغام و "اقراء" یعني ولوله ! اویاد "قلم" صفت ، دلوستلو دحکم وروسته دقلم صفت دڅه لپاره ؟ دقلم په وجه الله (ﷻ) انسان ته دهغو

ځیرونو بنوونه کوي پر کومو چې هغه نه پوهیږي . یاداچې قلم هغه څیز دی چې دبشري تمدن وبشري تهذیب ساتن ځای (depository) دی . ددې لپاره دی چې په واسطه یې پخواني څیزونه خوندي کړای شي . د راتلونکې لپاره نوي زیاتوني وکړي . دبشري تهذیب اوتمدن درتقه راز هم په دې کې دی ، اوپه همدې وجه انسان ته په نورو حیواناتونه تفوق اوبرتري په برخه ده . کنه غورو کړئ ! دنن نه لکونه کلونه مخکې "ځاله" څنګه جوړیده ، نن هم په هغه بڼه جوړیږي . په کې کومه نوي ترقي نده راغلې . خوانسان هغه حیوان دی چې ترسپوږمۍ ورسید هغه دومره ترقي وکړه چې نن په ګرد کائنات حکومت کوي . داټولې پرمختیاوې انسان په دې وجه وکړې چې ورته د راتلونکو خلکوله تجربونه کوم علم په برخه شوی . هغه یې خوندي کړی پر به پسې یې دهغه سره خپلې تجربې یوځای کړلې . اوترې استفادې کوله . تردې چې اوسني هرڅه دقلم په برکت ممکن شوي . دعظیم الشان قرآن په دې ایت ﴿ علم بالقلم ، علم الانسان مالم یعلم ﴾ (۹۶:۵) کې ددې حقیقت په لوړ بیه بلیغه اشاره ده . هر کله چې داقرا سورة (یعني سورة العلق) لومړي پنځه ایتونه نازل شول نورسول الله (ﷺ) غار پریښود کورته راغی . اوخپلې میرمنې (حضرت خدیجة الکبری رضي الله عنها) ته یې وویل زه نن ددسې پېښې سره مخ شوم ، دریږم هسې نه چې کومه ورځ ماته کوم زیان ورسي . حضرت خدیجه (رضي الله عنها) ورته ډاډ ورکړ او ورته وې ویل : خدای (جل جلاله) به تا (ﷺ) نه ضائع کوي . څه دکاک څوی ورقه بن نوفل په دغو خبرو (یعني فرښتې ، وحې اوتورو) پوهیږي . سبا سهار ورزو دهغه به پوښتنه کوو . هغه به تاته ووایي چې داڅه شوي دي ؟ او زه خو خپله په دې خبرو نه پوهیږم . خو په دې یقین لرم چې شیطان هیڅکله تا دوکه کولای نشي . دیوه روایت له مخې : د رسول الله (ﷺ) پوښتنې ته یې نیږدې ملګری ابوبکر (رضي الله عنه) راغی حضرت خدیجة الکبري (رضي الله عنها) ورته ټوله پېښه بیان کړه او هغه ته یې وویل : چې ورقه ته یې بوځي . ورقه بن نوفل چې سپین روږی و ، دستر ګو لید یې لاړ و او په دین نصراني و . کله چې رسول الله (ﷺ) ورقه ته ورغی او خپله کیسه یې هغه ته تېره کړه ، ورقه وویل : ای محمد (ﷺ) داتا چې څه وویل : که رښتیا وي نو دا خو دموسی علیه السلام د "ناموس" سره مشابه دي . "ناموس" لفظ په ډیرو کې دعزت په معنی دی . ښکاره ده چې دلته دغه مفهوم ندی مراد . ځینې مفسرینو دناموس معنی په "قابل اعتماد" کړي . هغه هم دلته مناسب نه بریښي . ځینې لیکي : دجبریل (عليه السلام) نوم دی . خو په "اسلامي ادبیاتو کې هغه روح الامین" دی نو دامعنی هم نده مراد . څه په ذهن کې داراځي چې "ناموس" په اصل کې جنبي لفظ دی . چې دمعرب کیدو وروسته په عربي ژبه کې استعمال شوی . دی دیوناني ژبې لفظ (nomos) نموس دی . په یوناني کې تورات ته "نوموس" وایې ، یعني قانون ورته وایې ، ! . یا دد ورقه بن نوفل خپله وینا ده چې دغه خبرې ته وکړي داخو دموسی (عليه السلام) دتورات سره مشابه دي . او هم دامعنی قرین قیاس ده

دقرآن مجید دتبلیغ اواشاعت په اړه تر ټولو لومړی یادونه داین اسحاق په کتاب المغازي کې شوي . داکتاب ضائع شوی و ، خو ځینې ټوټې یې اوس موندل شوي هم دي ، کومې چې دمراکش دوست لخوا نشر کړل شوي . په هغو کې دیوې نیمې کربې په اندازه لاندې روایت زیات جالب دی ،

" هر کله به چې په رسول الله (ﷺ) دعظیم الشان قرآن کوم یوایت نازل شو ، رسول الله (ﷺ) به هغه نوي دنارینه وو په مجلس کې تلاوت کړ . بیا به یې دمیرمنو په ځانګړې مجلس کې تلاوت کړ "

دا داسلامي تاریخ یوه مهمه واقعه ده . چې رسول الله (ﷺ) میرمنو ته دعظیم الشان قرآن په اوریدو کې لومړه توجه ورکوله . څومره به چې نارینه وو ته وه ! داترټولو یوه پخوانۍ اشره ده . چې دعظیم الشان قرآن دتعلیم په اړه مونږ ته په لاس راځي . له هغه وروسته څه پېښ شول ؟ داویل مشکل دي . خو غالبه داده چې عظیم الشان قرآن حفظول هم ددغه زماني سره اړه لري . کله چې جبریل (عليه السلام) په لومړی وحې کې دقرآن مجید داقرا سورة لومړي پنځه ایتونه رسول الله (ﷺ) ته ورسول . دیوه حدیث له مخې ددې تر څنګ یې دوه کارونه نور هم وکړل : یوې رسول الله (ﷺ) ته استنجا او اودس وښود ، چې لمانځه ته به ځان دجسماني پلوه څنګه پاکوي ؟ بل یې دلمانځه طریقه ورته وښوده . خپله جبریل (عليه السلام) امام او پیغمبر (ﷺ) دمقتدي په توګه ترشاه ولاړ و کتل یې چې هغه (جبریل عليه السلام) څنګه ودریږي ، رکوع ته په څه شان ځي . سجده په څه ډول کوي ؟ او داسې نور . هغه ته یې دکتلو تر څنګ خپله هم همسې کول . او څرګنده ده چې په لمانځه کې یې دعظیم الشان قرآن ایتونه تلاوت کول . کومو خلکو به چې ایمان راوړ رسول الله (ﷺ) به هغوئ ته هم حکم کاو ، چې قرآن دې یادوئ هم اوهره ورځ دې په سونځونو کې تلاوت کوي هم . یعنی هغه مهال مونږ ته دوه خبرې په نظر راځي . یو دقرآن حفظول . بل یې لیکل . دهر شي یادول وخت غوښي . که یو ښکلی عبارت وي . هغه به بیا بیا اولوستل کیږي . یاداچې : دقرآن مجید حفظول او لیکل په یوه زمانه کې پیل شول مونږ تاریخ پوهانو ښکلي : کله به چې په رسول الله (ﷺ) کوم ایت نازل شو دصحابه وونه یو داسې تن چې هغه به په لیک لوست پوهیده ور وغوښته او هغه

یت به یې وبکه. دیم ور داده: دلیکلو وروسته به یې لیکونکي ته ویل. څه چې تا ولیکل هغه بیا ولوله! دادې بیاره که د کاتب نه به کومه تیروتنه راغلې وه، هغه به یې اصلاح کړه. دا د قرآن مجید د تدوین پیل و. رسول الله (ﷺ) صحابه وو ته حکم کاو: هره ورځ په دوه وختیز لمانځه کې عظیم الشان قرآن لولئ، ولې په پیل کې دوه لمونځونه فرض وه. دمعراج وروسته ددوه په ځای پنځه لمونځونه فرض شول. بیا به مسلمانانو ددوه لمونځونو په ځای په پنځو لمونځونو کې تلاوت کاو. ددې یوه عملي لاسته راوړنه دشوه که دیوه سړي حافظه به کمزوري وه او په ټول کال کې یې د کوچني اختر او لوی اختر په لمونځونو کې دحافظې په کومک تلاوت کاو. نا شوني وه چې دهغه یادښت دې ورسره مرسته کړي وای. خو که یو سړی یې هره ورځ پنځه وخته تکراروي، څرګنده ده چې قرآن مجید به دهغه په حافظه کې پاتې وي. ولې یادیږي نه وځي!

الغرض! دعظیم الشان قرآن دلیکلو او حفظولو حکم رسول الله (ﷺ) کړی و. دوړاندینو پیغمبرانو په تاریخ کې مونږ داسې مثال نه مومو. ددې څخه علاوه یوبل نوی کار هم شوی هغه دا چې فرض کړئ ماسره دیوه بکلي نسخه ده. په هغه کې په یو نه یو وجه څیني تیروتنې شته؟ که زه ولګېږم هغه غلطه نسخه حفظ کړم. نو څه حفظ به هم غلط دي. ددې اصلاح څنګه شوني ده؟ رسول الله (ﷺ) ددې لوړ ته هم پام وګرځاو او حکم یې وکړ چې، هر مسلمان به دیوه مستند استاد نه قرآن مجید ووایي! بلکه ده چې د رسول الله (ﷺ) دذات نه به زیات مستند بل څوک وچې په قرآن به زیات پوهیده؟ د دې وجې نه هر مسلمان کوښښ وچې مخامخ د رسول الله (ﷺ) نه قرآن مجید ولولي. که چا سره به لیکلې نسخه وه هغه به یې د رسول الله (ﷺ) په محکې کېښوده، که رسول الله (ﷺ) به وویل: هو! دا نسخه سمه ده! نو بیا یې حفظوله. هر کله چې دمسلمانانو شمېر زیات شو، څرګنده ده چې یو سړی خو ټولو خلکو ته ښوونه او روزنه نشوای ورکولای، نو ددې وجې رسول الله (ﷺ) څو تنه داسې صحابه چې دهغوئ په قرآن پوهنه یې باور و، حکم وکړ چې لوس یې تاسې خلکو ته هم ووئ. لوهغوئ داسې مستند استادان وه چې ورته په خپله رسول الله (ﷺ) ددې سند ورکاوه. چې تاسې لوس نورو ته دښودو وړ تیاری. او دغه لړۍ تر ننه په دنیا کې روانه ده که یو تن دیوه استاد نه قرآن مجید د قرائت اصولو سره بشپړ ولولي. دا استاد لخواه چې شاګرد ته کوم سند ور کول کیږي. په هغه کې ورته استاد بکي: "ما دې فلاني نامي ته د قرآن مجید الفاظ د قرائت اصولو په پام کې نیولو سره بلکل هغسې وښودل. څنګه چې ما ته خپل استاد ښودلي و. او ما ته خپل استاد یاد راکړي و. چې ورته خپل استاد هم دقرآن مجید الفاظ داسې لوستي وه ... او دا سلسله د رسول الله (ﷺ) پورې رسي. او تر ننه لا هم اوږدولای شي!

د اسلامي روایاتو پر ته دنړۍ هیڅ یوه قوم دخپل دیني کتاب خوندي کولو لپاره دغسې اصول ندي غوره کړي. دغه اصول دقرآن مجید دتدوین په باره کې د رسول الله (ﷺ) په دور کې غوره کړای شوي. لوتنها په دې هم بسیا نه شوي بلکې دیوه بل ګام پورته کولو ته هم لړ تیاره. مخکې له دې نه چې زه دهغه یادونه وکړم. لومړی غواړم دعظیم الشان قرآن دلیکلو نسخو په اړه تاسو ته ووایم! چې غالبا دنبوت پینځم کال و. چې حضرت عمر (رض) اسلام قبول کړ، تاسې ددې واقعې نه خبر لړئ. چې هغه څومره د رسول الله (ﷺ) دسر قوي دښمن و او په دې پریکړه کوره وتی و، چې رسول الله (ﷺ) (نعوذبالله) قتل کړي. په لار کې دیوه داسې خپلوان سره مخ شو. چې په پټه هغه سلام قبول کړی و. هغه تري وپوښتل د چاپسې دې توره راخیستې او چېرې درومې؟ دا چې دهغه سره یې دخپلوۍ رشته وه. ورنه پټه یې نکړه. ورته یې وویل: څم محمد (نعوذبالله) قتلوم! داڅه. څه وایې. هغه خپل یې ورته وویل، عمره! ددې په ځای چې خپله قبیله دبني هاشمو سره پر دښمنۍ وړوې. ښه دا ده چې مخکې دخپل کاله خبر واخلې! ستا خور "فطمی" هم اسلام قبول کړی. او دهغې خاوند (سعید بن زید رض) هم مسلمان شوی. لومړی دخپل کور اصلاح وکړه بیا د نورو ... ! حضرت عمر (رض) حیران شو او بیغ دخپلې خور کور ته روان شو. هلته په دروازه کې یې له غوږه شول چې دننه څوک په خواږه غږ څه شی زمزمه کوي. یا په ترنم یې لولي. ده په ډیر زور سره دروازه ور وټکوله. د کور نه یو تن راووت دی دننه لاړ. هلته یې دخور او اوښي سره چې په کومه ترخه لهجه خبري کړي هغه ټولو ته معلومې دي. بالاخره حضرت عمر (رض) خپله خور دې ته آماده کړه چې کوم څه دوئ لوستل هغه ورته وښیي دغسل کولو وروسته یې کوم څه یې چې ورته وښودل. هغه دقرآن مجید څو سورتونه وه. دهغو لوستلو په حضرت عمر (رض) باندې دومره قوي تاثیر وکړ چې آن مسلمان شو. غواړم د دې واقعې په راوړو دې ته اشاره وکړم چې لړ تر لړه دعظیم الشان قرآن څو سورتونه دنبوت له پنځم کال نه وړاندې هم په لیکلي بڼه موجود و. ددې وروسته چې د کومې بلې نسخې په اړه معلومات تر لاسه شوي هغه غالبا دعقبه ثانیه دبیعت وروسته واقعه ده. چې دمدینې منورې څه شمېر خلک راغلل او د رسول الله (ﷺ) په لاس مسلمانان شول. په هغوئ کې د "بني زریق" په نوم دیوه شخص په اړه تاریخ پوهانو په صراحت سره لیکلي: چې هغه ته رسول الله (ﷺ) تر دغه مهال دنازل شویو سورتونو یوه مجموعه وسپارله. هغه مدیني

منورې ته لاړ، دخپې قبيلې په مسجد کې يې هره ورځ په لوړ غږ دهغې تلاوت کاو. داپه ليکلي بڼه دقرآن مجيد دتدوين دويم مثال دی چې تاريخ پوهانو په صراحت راوړی

ماوويل : درسول الله (ﷺ) په حکم ديوه مستند استاد نه قرآن مجيد لوستل لومړی ځانګړتيا وه، په ليکلي بڼه يې خوندي کول دويم خصوصيت و ،څوله ياداښت ونه وځي ، ليکلوته په کتو هرتن کولای شي بيرته خپل ياداښت تازه کړي ،ودريمه ځانګړتيا : حفظول و ،درسول الله (ﷺ) ددي درېوارو خبرو په اړه حکم کړی و، خو په دې کې يوه پېچلتيا به دې پيدوه، چې عظيم الشان قرآن په بشپړ حالت کې په يوه وار نه و نازل کړ شوی ، بلکې کرار کرار د۲۳ کلو په موده کې نازل کړای شو اوبيا رسول الله (ﷺ) په ميکانيکي ډول مدون نکړ ، چې لومړی آيت يې په شروع کې راوړی وای ووروسته نازل شوي ايتونه يې په پای کې راوړي وای، بلکې دعظيم الشان قرآن تدوين يې په الهام ودنبوي حکمت لاندې په يوه جلا ډول وکړ ،دقرآن پاک لومړي نازل شوي آيتونه څنګ چې په اړه يې مو راندې عرض وکړ د "اقرا سوره" لومړي پنځه آيتونه دي ، کوم چې په ۹۲يم لمبر سوره کې دي . قرآن پ ک چې ټول ټال ۱۱۴ سورته دی ، په هغو کې لولنی سوره په ۹۲يم نمبر دی . او کوم سورتونه چې لومړی رانازل شوي دي مثلا :بقره سوره ، لونور دهجرت وروسته په مدينه منوره کې نازل شوي دي ، په بل سپيناوي : قرآن مجيد دترتيب په پلوه نده مدون شوی ،بلکې په يوه جلا صورت دسې مرتب کړل شو چې نن به يو سورة نازل شو ،رسول الله (ﷺ) به وويل : داپه فلانې ځای کې ولیکئ، يايې دهغه فلانې آيت نه وروسته ولیکئ ،يايې په فلانې سورة کې ولیکئ! په دې توګه وربانډې وحت په وخت دويم واري کتنه کېده، دخلکو په ذاتي نسخو هم ددويمي واري کتني او اصلاح په اړه روايت دهجرت وروسته زماني سره تړه لري ، په روايت کې راغلي چې رسول الله (ﷺ) درمضان مياشت کې به هره ورځ دقرآن مجيد څومره برخه به چې نازله شوي وه په لوړ غږ کې ګرځلوله ، کوم صحابه چې په ليک لوست پوهيدل ، هغوئ به دخلکو سره خپلې ذاتي نسخې هم راوړي ودرسول الله (ﷺ) دتلاوت سره به يې مقايسه کولې ،څو که تېروتنې پکې شوې دي ،يادسورتونو په درج کولو کې کومه خطاه شوې وي هغه اصلاح کړای شي ، ديته به "عرضه"ويل کېده ،تاريخ پوهانو لکه امام بخاري (رحمه الله) اونورو صراحت کړی دی چې : درسول الله (ﷺ) دوفات په وروستي کال درمضان مياشت کې رسول الله (ﷺ) ټول قرآن مجيد خلکوته دوه کرته تلاوت کړ ،او وې فرمايل : زه پوهيږم چې زما دوفات وخت نيږدې دی ، ولې چې جبريل (عليه السلام) ماته دقرآن مجيد په باره کې حکم وکړ چې دوه واره قرآن ولولم ،څو که په چا نه پکې تيروتنې شوي وي دهغو اصلاح وشي ، دا وهغه تدابير چې وروستي پيغمبر (عليه السلام) دوروستي الهي پيغام دساتنې لپاره غوره کړې ،او ترموثر پوري يې په داسې داعتماده حالت کې راسولي .

کله چې رسول الله (ﷺ) وفات شو ، په پيل کې دې لورته ډيره پاملرنه ونشوه خلکوته چې کوم څه يادوه هم هغه يې په لمونځونو کې لوستل ، اوورته احترام يې لاره ، خو بيا يوه پيښه وشوه ،دهغې په وجه نه يوازې اسلامي حکومت بلکې ټول مسلمانان مجبور شول چې هغوئ دقرآن مجيد لورته ملاسې خپله توجه وګرځوي ، هغه مهال دقرآن مجيد هيڅ يوه نسخه رسمانه وه لیکلې شوې ، او غالبا دهيڅ تن سره ټول قرآن مجيد په ليکلي بڼه نه و موجود، درسول الله

(ﷺ) دوفات وروسته دېيښه وشوه، چې څوتنه مرتد شول اومسيليمة الکذاب نه يوازې داچې ارتداد وکړ بلکې دنبوت اعلان يې هم وکړ. هغه په دې وجه چې ديوې قوي قبيلې مشرو، په لوی شمېر کې خلک ورسره شول.
حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) دهغه سره جنګ وکړ. جنګ ډېر شديدو. يکې دمسلمانانو شمېر کم و، اوددښمن شمېر ډېرو. لوېل جنګ ددښمن په سيمه "يمامه" کې و، زه هلته لاړېم، ځای خلکوراته وېلې چې دغه جنګ درياض دواسنې ښار په شاوخواکې شوی. په دې جنګ کې ډېر مسلمانان شهيدان شول. اوپه شهيدانو کې دعظيم الشان قرآن څوتنه حافظان هم وه. مسلمانانوبرې ترلاسه کړ. دمديني منورې مسلمانان هم په سوبه زيات خوشال شول. خو په دې چې په شهيدانو کې څوتنه تکړه حافظان هم شهيدان شوي وه دمديني منورې وګړي سخت خفه شول. حضرت عمر (رضي الله عنه) ددې نه دانتيجه واخيسته: که حکومت دقرآن مجيد دحفاظت لورته پام ونه ګرځوي اوپه راتلونکو جنګونو کې نور حافظان هم شهيدان شي يا په طبعي مرګ وفات شول نوبيابه دقرآن مجيد په باره کې به هم هغه ستونزې مخې ته راشي کومې چې دپخوانيو پېغمبرانو کتابونو په لړ کې مخې ته رغلي وې. له دې وجې نوموړی حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ته ورغی اوورته يې وويل: دقرآن مجيد دحفاظت لورته توجه وکړه! د"يمامه" په جنګ کې شپږزره مسلمانان شهيدان شول چې په هغو کې لوی شمېر حافظان هم وه. دحضرت عمر (رضي الله عنه) ددې وړانديز په ځواب کې دحضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) ځواب هم دهغه دسيرت دځانګړي اړخ مظهر دی. وې هغه په رسول الله (ﷺ) فدا و. اوپه رسول دغفلت ځواب پکار هم داسې و. هغه ورته وويل: عمره! (رضي الله عنه) کوم کار چې رسول الله (ﷺ) ندی کړی هغه زه څنګه وکړم؟ حضرت عمر (رضي الله عنه) ورسره بحث وکړ بالاخر دواړه په دې راضي شول چې يو دريم تن حکم وګرځوي. اوهغه چې هره پرېکړه وکړه په هغه به دواړه عمل کوي دواړو دحضرت زيد (رضي الله عنه) په حکم تاکلو اتفاق راغی. هغه درسول الله (ﷺ) دوحې کاتب و. خود حضرت زيد (رضي الله عنه) سملاسي ځواب هم هغه و کوم چې دابوبکر صديق (رضي الله عنه) و، چې کوم کار رسول الله (ﷺ) ندی کړی هغه موږ څنګه وکړو؟ دويم واري بحث شروع شو حضرت عمر (رضي الله عنه) وويل: اې زيده (رضي الله عنه)! که وښکل شي په دې کې حرج څه دی؟ په روايت کې دحضرت زيد (رضي الله عنه) الفاظ دادي چې: واقعاً ماته هم حرج په نظر نه ښکاري: دېوه جذباتي پرېکړه وه چې رسول الله (ﷺ) ندی کړی موږ يې څنګه وکړو؟ خو که وې کړو نو يکې هيڅ مانع امر نشته! هغه فرمائل: کله چې ابوبکر صديق (رضي الله عنه) راته حکم وکړ چې ته داکار سرته ورسوه! نوراته دومره دروند ښکاره شو. کچېرې ماته دقرآن مجيد دتدوين په ځای دا امر شوی وای چې داحد غر په سرپورته کړم هغه به راته ددې نه آسان و...

دعظيم الشان قرآن دتدوين په کې دحضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) احکام ديادولو وړ دي. نوموړي دمديني منورې ښار کې اعلان وکړ چې دهرچا سره دعظيم الشان قرآن څه برخه په ليکلي بڼه وي لوهغه يې درسول الله (ﷺ) په مخکې کې "عرضه" کړي وي، يعنې دهرچا سره چې درسول الله (ﷺ) په مخکې لوستل شوي نسخه وي هغه دې ګومارل شوي ډلې ته وسپاري. په اصطلاح دکميسون مشر حضرت زيدبن ثابت و. اوورسره څو نور همکاران هم وه چې په هغوئ کې حضرت عمر (رضي الله عنه) هم و. دې کميسون ته حکم شوی وچې کومې نسخې ورته وړاندې کيږي. هغه به دوېر داورولو وړ وي. يوآيت چې پرترلېږه په دوه نسخو کې پيداشي ليکل کېږي. کنه رددې کړای شي.

دحضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) په زمانه کې په دې توګه دعظيم الشان قرآن تدوين وشو. اودرسول الله (ﷺ) دوحې ديوه کاتب (حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه) په مشرۍ يې چارې ترسره شوې. داخبره هم بايد هېره نکړو چې درسول الله (ﷺ) دوفات په وخت شوخواپنځوېشت حافظان وه، چې ځېنې يې انصار وه اوځېنې يې مهاجرين وه هغوئ ته ټول قرآن په يادو يادو. په هغو کې يوه مېرمن حافظه (ام ورقه رضي الله عنها) هم وه. دتدوين لپاره دګومارل شوې ډلې مشر

زيد بن ثابت (رضي الله عنه) هم حافظ و . په دې وجې هغوئ هغه څه ولیکل چې پوره باد به یې راغی . او په ذهن کې به یې هم هغسې موجود و . دلته یوه بله خبره ذکر کوم چې هر کله خلکو نسخې وړاندې کولې . حضرت عمر (رضي الله عنه) به هغه ته حکم کاوه چې ته سوګند وکړه چې ته دا کومه نسخه وړاندې کوې . دا هغه ده چې تصحیح یې د رسول الله (ﷺ) په مخکې شوې . هغه به سوګند کاوه او داد به یې ورکاوه چې دا هم هغه نسخه ده . بیا به ایه تری استفاده کېده . هر کله چې ټول قرآن مجید ولیکل شو نو حضرت زید (رضي الله عنه) وایي: چې ما له پیله تر آخره هغه ولوست په هغه کې ما ته یو آیت په نظر کم راغه . د آیت ځم په حافظه کې موجود و . خو په هیڅ یوه نسخه کې مې هم پیدا نکړ . د دې پاره زه په ټول ښار کې وګرځېدم هر کور ته لاړم . د مهاجرینو کورونو ته لاړم خو د یوه سره هم د آیت پیدا نکړ . بیا د انصارو کورونو ته لاړم بالاخر د یوه تن سره مې پیدا کړ . هغه نسخه د رسول الله (ﷺ) په مخکې لوستل شوې وه . خو حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) حکم کړی و څو چې په دوه نسخو کې یو آیت نه وي موندل شوی هغه به نه قبلوئ . او دلته تنها په یوه نسخه کې وموندل شو . د خدای کول چې ، چې اتفاقا دا د هغه سړي سره وموندل شو چې په اړه یې یو ځل رسول الله (ﷺ) د کوم بل کار په اړه فرمائلي و . د دن وروسته به ستا شهادت په دوه شهادتونو حساب وي . نو د یوه آیت لپاره د قدرت لخوا انتظام و . په دې توګه یې هغه یو آیت د یوه تن څخه نقل کړ . هغه وایي . د دې وروسته مې قرآن شریف دویم وار بیا ولوست راته یو بل آیت هم په نظر کم راغی . ممکن چې هغه دیوې واقعې په اړه و او یا دیو آیت په اړه د روایاتو د احتلاف له سه و . په هر صورت هلته هم دریس کیږي ، چې په دغه نوم یوه تن دغه شی بیان کړ . د دغو آیتونو چې مونږ سره یې په صراحت سره ذکر نشته . چې هغه کوم . کوم آیتونه وه ؟ فرض کړئ هغه مونږ ترې خارج کړو نو کوم مهم شی به نه وي ایستل شوی د قرآن مجید د کومو آیتونو لور ته چې د دغه اشاره کیږي د هغو مفهوم په نورو آیتونو کې راغلی دی . خوښه د چې څومره په احتیاط چې د قرآن مجید د تدوین مراحل بشپړ شوي له دې پلوه ورسره د نړۍ د تاریخ د هیڅ یوه کتاب مقایسه نشي کېدای .

یو بله نکته بیانوم او بیا د بنا پای ته رسوم . د څه مودې راهیسې په جرمني کې عیسوي پادریانو سوچ وکړ . چې د عیسی (عليه السلام) په زمانه کې چې کوم انجیل په عبرې ژبه کې و . هغه اوس په دنیا کې نشته . اوس مهال انجیلونه د قدیمو ژبونه یوناني ته . او بیا د یوناني نه نورو ژبو ته ترجمه شوي دي . له دې وجې د یوناني مخطوطو په راټولو لو پیل وکړ څو هغه یو په بل سره کې سره مقایسه کړي . نو څومره نسخې چې په لاس ور غلي د هغو یو بل لفظ یې مقایسه کړل . او بیا چې کوم راپور خپور کړ . د هغه الفاظ دا دي : "څه دوه لکه اختلافي روایتونه یې وموندل "د هغه وروسته دا جمله راغلي : په هغو کې ۸۰۷ مهم دي " دا دا انجیل کیسه ده غلبا د دې راپور د خپرېدو وروسته ځینو خلکو ته د قرآن مجید په اړه حسد ورغی . د همدې جرمني په "میونګ پوهنتون کې د قرآن څیړنې په نوم یوه ټولنه جوړه شوه . د هغې د جوړېدو غرض دا و چې د ټولې نړۍ نه د عظیم الشان پخوانۍ نسخې وپیرې د هغو فوټو کاپي ترلاسه کړي . څنګه چې ممکن وي بیا راټولې او وې پیرې . د ټولو لو دا لړۍ نیږدې تر درې نسلونو پورې روانه وه . په ۱۹۳۳ ز کې چې کله زه په فرانس پوهنتون کې وم . نو د هغه دریم رئیس پریتسل pretzl پاریس ته راغلی و . څو د پاریس په عمومي کتابتون کې چې د عظیم الشان قرآن کومې پخوانۍ نسخې دي د هغو فوټو کاپیانې وباسي . هغه پروفیسر شخصاً ماته وویل : چې اوس مهال (۱۹۳۳) ز مونږ په اداره کې د قرآن مجید دوه څلوېښت زره نسخې شته دي . او د مقابلې کارېې روان دی . په دویم نړیوال جنګ کې د هغه ټولنې په ودانۍ باندې د امریکا بم پرېوت چې له سره یې هغه ودانۍ ړنګه شوه یکې ټول کتابونه او د ټولنې کارکوونکي ووژل شول خو د جنګ شروع کېدو څخه وړاندې چې د دغې ټولنې لخوا کوم عارضي راپور خپور شوی و . د هغه راپور الفاظ دا دي : د قرآن مجید د نسخو د مقابلې کولو کومه لړۍ چې مونږ شروع کړې هغه تر اوسه نیمګړې ده . خو تر دې مهاله چې کومه نتیجه راوتلې د هغه دا ده چې په دغو نسخو کې ځای په ځای د کتابت تېروتنې تر سترګو کیږي . خو د روایت له پلوه یو اختلاف هم نشته ، او په دې دوړو کې چې کوم توپیر دی هغه دا دی چې د "کتابت " تېروتنه په یوه نسخه کې وي په نورو کې نه وي . مثلاً فرض کړئ "بسم الله الرحیم " کې "الرحمن " لفظ نه وي . خو دا لیواځې په یوه نسخه کې دسې دي . په پاتې نورو کې نشته . په نورو ټولو کې "بسم الله الرحمن الرحیم " دی چې د مونږ د کاتب تېروتنه ګڼو . هغه وایي : دغه یو ل څیزونه کله نه کله سهو د قلم یعنې د کاتب نه شوي وي ، خو د روایت احتلاف ، یو توپیر په ګڼو نسخو کې موندل نه شوی دی . دا دی د قرآن مجید د تاریخ لنډیز چې په لوستو یې مونږ ته احساس کیږي . عظیم الشان قرآن کې د الله (جل جلاله) فرمان دی « انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون » (موږ هغه نازل کړی دی او موږ یې ساتونکي یو) څه چې ما تاسې ته وویل دا ټول حرف په حرف د دغه ایت تصدیق کوي... السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

په برتانیه کې

د اسلام ضد خپراوي د مخنیوي هڅې

حسن مومند

وایي : لیوني ته چاوویل -هلکه پام کوه چې درمند ته اوروانه چوي ! لیوني وویل :ښه ده چې مې دې ور ته پام کړ .

موږ هر څه ته دخلکو ورپام کول گټور نه بولو، ډېر داسې ناوړه اومنفي شیان وي چې موږ پرې څه ویل یا الیکل ځکه نه غواړو چې داسې نه په زوره دخلکو ورپام کړو، دغربي کلتور داکثرو پر سوده .نامعقولو او غیر فطري برخو په اړه زموږ همدا دریځ دی خو داسلام دښمنو غربیانو دریځ بیا بېخي ددې برعکس دی ، هغوی چې دخپلو بې شمېره شومو اهدافو دلاسته راوړلو په موخه پرتولې نړۍ غربي کلتور مسلط کول غواړي اسلام په دې لار کې دیواځني خنډ په توګه پېژني نو ځکه یې پرې عسکري او کلتوري دواړه یرغلونه کړیدي او ددې اسماني او آفاقي دین پرضد په هر څه کې دډېر تعصب او مبالغې نه کاراخلي . برتانیا په دې روښه کې ده اوربښتیا داده چې دیوشمېر نورو غربي هېوادونو په څېر په دې هېواد کې هم داسلام خلاف ډېر څه ویل کېږي ، لیکل کېږي او نشر کېږي چې ورسره په عاموبرتانویانو کې داسلام دلاربښوونو دځان خبرولو لېوالتیا ورځ تربلې زیاتېږي او داسلام دلاربښوونو دمتأثره کېدلو له امله یې بیاګڼ شمېر اسلام قبلوي نو ویلی شو چې داسلام دمخنیوي په هڅو دوئ په خپلو تبر ګو خپلې پښې وهي.

داسلام پرضد دپوچو تبلیغاتو له امله خو یقیناً چې په لویدیځ کې مېشتو مسلمانانو ته ډېرې ستونزې راولاړې شویدي ، په جوماتونو او دینې زدکړو په مرکزونو یې حملې زیاتې شویدي په منارو او حجاب بندیزونو ته لار برابره شوی او پر مسلمانانو محدودیتونه ورځ تربلې ډیرېږي خو د اسلام پرضد دپوچو تبلیغاتو یو ستر هدف چې په لویدیځ کې داسلام دسریع اشاعت مخنیوی دی نو نه

يواځې داچې ترلاسه نه شو بلکې برعکس دلته اسلام لازيات په خپرېداشو نو حقيقت دادی چې دوئ په خپلولاسونو دې درمندته ددې لېونو ورپام کړ.

داانساني فطرت دی اودلويديځوالوخوخانګړی عادت چې دکوم شي پر ضد اواز پورته شي اويايې په اړه دنفرت خپرولو هڅې کېږي نوخلک ورته دتجسس په نظر ګوري او په اړه يې دمعلوماتو ترلاسه کولو او حقيقت ته يې درسيدلو هڅې پيل کړي نو نتيجه داشي چې هغه شی که رښتيا هم دنفرت وړ وي نو وګړي ورته دنفرت په نظر ګوري خو که د نفرت وړ نه وي بلکې يو مثبت ، پرحقايقوولاړ او ګټورشی وي نو طبيعي ده چې معتدل مزاجه ، حق خوښونکي ، دااحساس ښتنان اوډېرپکړو اهل خلک دحق اوصداقت پرضد داپوچ تبليغات ردوي او په ډيرجرأت ددې حق دقبلولو پرېکړه کوي چې لويديځ اوپکې داسلام پر ضد پوچ تبليغات اوپر تعصب ولاړ اقدامات ددې ژوندی بيلګه ده.

په افغانستان کې دروسانو دماتې نه راپدېخوا او بيا خصوصاً د ١١ سـتمبر د پېښې نه پس په ټول لويديځ او په خانګړې توګه په امريکا او دامريکا په نېږدې اتحادي ملکو وهېوادونو کې چې د دستر پيغمبر ، قرآنکريم ، اسلامي شعايرو دتوهين ، دمسلمانانو سره دناوړه سلوکونو او داسلام پر ضد د تعصب او دښمنۍ نه دکوپوچو تبليغاتو نه ختمېدونکې لړۍ پيل شوېده نو هغه زمورمخې ته ده او بيان ته يې هيڅ اړ تيا نشته خوپوښتنه داده چې آيا داسلام دښمنانو ددې هڅو نه ګيني مطلوب هدف ترلاسه کړای شو ؟

هو ! دوئ له دې لارې مسلمانان په رواني لحاظ ډير وځپل ، دهامو لويديځوالو په زړونو کې يې داسلام او مسلمانانو پر ضد دکرکې زياتوالي ته لاربرابره کړه اومسلمانان يې تر ډيره حده په لويديځه نړۍ کې بدنام کړل خوپوښتنه داده چې ددې هڅوچې کوم اصل هدف وياني په لويديځ کې داسلام داشاعت مخنيوی هاغه ګيني ترلاسه شو؟

نه! هيڅکله هم نه بې له شکه چې ددوئ ددې ناوړه هڅو په نتيجه کې نه يواځې داچې هدف ترلاسه نه شو بلکې برعکس اسلام لازيات خپور شو او هغه څه رامنځته شول چې لويديځوالو يې هيڅکله هم تمه نه لرله اومخنيوی يې ددې هڅو يو ستر هدف و.

څکه چې په مغرب کې داسلام اومسلمانانوضد تبليغاتو او اقداماتو متجسس خويه لويدځوال داسلام مطالعې ته وهڅول چې ورسره د اسلام داصل حقيقت نه ناخبره ډېر غربيان داسلام نه خبر شول او ددې دين دفطري اودانسانانو لپاره دخير اخواهی نه ډک لارښوونونه يې داغيزمن کېدلو له امله ښايسته ډېر منصف مزاجه اوحق خوښوونکي وګړي په دې اسماني دين مشرف اوهميشني کاميابي يې په برخه شوه.

چې دالجزیرې په نوم دمشهورې اطلاعاتي اداري له لوري دیو نوي څېړ شوي راپور ته یې بنه اندازه لګیدای شي .

دنوموړي اداري په دې نوي څېړ شوي راپور کې راغلي دي چې دتېرو لسو کلونو راهیسې په بر تانیه کې داسلام اشاعت تیزشوی دی اودهر تېر نه په راتلونکي کال کې زیات بر تانویان مسلمانېږي . راپور کې راغلي چې دتېر کال نه ورانديي په تېرو نهو کلونو کې د ۲۰ زره نه زیاتو بر تانویانو اسلام قبول کړی دی چې ددې پر ته یواځې په تېریو کال کې په دې هېواد کې ۵ زره او ۲ سوه کسان مسلمانان شویدي .

دیادولو وړ ده چې دالجزیرې له لورې څپاره شوي ارقام ټول هغه ارقام دي چې کوم دنویو مسلمانو شویو بر تانویانو په اړه د swan sea نومې بر تانوي پوهنتون له لوري په څېړ شوی راپور کې راغلي دي .

دنوموړي پوهنتون په دې تازه څېړ شوي راپور کې راغلي دي چې په نویو مسلمانو شویو بر تانویانو کې زیاتره یانې ۶۲٪ ځوانې مېرمنې دي چې عمرونه یې د ۳۰ کلونونه کم دي اوزیاتره دپوهنتونونو محصلانې دي .

راپور کې راغلي دي :حیرانوونکې خبره داده چې په کومو شپوور څو کې اسلام ته په لویدیځ کې ددین (چې دڅوند دټولواړ خونو لاربنوونې یکې دي) نه بلکې یواځې دیو مذهب (چې یواځې دعبادت طریقې وربنایې) په نظر کتل کېدل اوپه وړاندې یې نفرت دېر کم و. هغه مهال دلته دومره ګڼ شمېر خلک نه مسلمانېدل . ځواوس چې په لویدیځوالو کې داسلام سره د کر کې څپر ولودېر کوبښونه کېږي . په رسنیوو کې د اسلام پر ضد بنه ډیر تبلیغات کېږي . په اړه یې تربل هروخت زیات منفي مواد خپرېږي اوداسلام نه دخلکو دویر ولوهڅودیو تحریک شکل غوره کړیدی نو په لویدیځ کې تربل هروخت زیات خلک مسلمانېږي ؟!

راپور زیاتوي په بر تانې کې چې پر مسلمانانو ځومره زیات انتقادونه کېږي دبل یو مذهب په پیروانو هم دومره انتقادونه نه کېږي . په تېرو ۵ کلونو کې چې په بر تانیه کې ځومره ادبي اوعلمي مواد څپاره شویدي یکې ۳۲٪ داسلام ضدمواد دي چې دادیره لوړه فیصدي ده یانې په ټول هېواد کې دټولو خپروشویوادبي او علمي موادو کابو دریمه بر خه جوړوي خوبیاهم په دې هېواد کې په تېرو ۵ کلونو کې هر کال نېږدي ۵۰۰۰زره بر تانویانو اسلام قبول کړیدی اوداحال یواځې دبر تانیانه دی بلکې په راپور کې کې راغلي دي چې په فرانسې او المان کې دتر سره شویو سر وېکانونه هم داجوته شویده چې ددې دواړو هیوادنونه په هر هیواد کې هم هر کال کابو ۴ زره تنانواسلام قبول کړیدی .

په سندی ټایمز نومې مشهور بر تانوي اخبار کې راغلي دي چې د کومه نه چې په المان کې دحجاب پر ضد دبندیز لپوړلو بحثونوزور اخستی دهماغه وخت نه په دې هېواد کې اسلام طرف ته میلان هم زیات شویدی او حیرانوونکې خبره داده چې دیک شنبې په ورځ کلیساوته دعبادت لپاره دراتلونکو عیسویانو په شمېر کې ورځ تربلې کموالی راځي خودجمعې په ورځ دومره زیات مسلمانان دجمعې لمونځ لپاره راځي چې جوماتونو کې نه ځایېږي اودلمونځ داداکولو په مهال په سر کونو ولاړ وي .

دڅېړ شوي راپور له مخې دنویوزیاتر ومسلمانو شویو تنانوپخواني مذهب عیسویت دی او اکثریت یکې دمېر منودی څکه خو دلندن ریجنټس پارک جامع مسجدته دجمعې دلمانځه داداکولو لپاه دسر ونه په ۴

برابره زیاتې مېرمنې راځي ، دې مېرمنو کې دزیاترو عمرونه د ۲۰ کلونو نه کم دي او اکثرې یې دپوهنتونو شاګردانې دي چې دپوهنتون دمحصلۍ په دوره کې مسلمانې شویدي . په دوئ کې چې دهرې یوې سره مرکه شویده نو دایې ویلې دي چې زه په داسې کور کې زېږېدلې او ستره شوی یم چې پکې څوک داسلام دنوم سره هم نه و بلد ، چې کله موږ راسترې شو نو درسینو سره دبلدیانه پس مو داسلام دنوم سره بلد تیاوشوه او داسلام پرضد منفي موادو او تبلیغاتو ته دلاس رسي نه پس راته اسلام یوناغوره مذهب ښکارېدلو خوچې کله مو پوهنتونو ته دراتلو سره سم داسلام مطالعه وکړه نو پوه شو چې داسلام پرضد خپرېدونکي منفي مواد په حقایقونو ندي ولاړ او بیاموچې داطمینان ، راحت ، قلبي سکون ، کیف او وفانه بې برخې ژوند ته وکتل او دمسلمانومحصلینودخوبنې ، اطمینان ، قلبي سکون اوپخپلومنځونو کې دمینې محبت او وفانه ډک ژوند ته مو نظر وکړ نو یقین ته موپرېوته چې اسلام یو آفاقي ، اسماني اوفطري دین دی چې پکې دانسانانوټولو فطري غوښتنوته مثبت ځواب ویل شویدی اوانسان پکې دحقیقتي خوښۍ ، اطمینان اوسکون نه برخمن کېږي نو ځکه مو اسلام قبول کړ او چې مو قبول کړ نو په ریښتیاهم ژوندمو دداسې خوښۍ ، اطمینان ، قلبي راحت نه ډک شو چې داسلام نه وړاندې یې موږ په اړه تصور هم نشو کولای . .



په راپور کې داهم راغلي دي چې نویو مسلمانو شویو مېرمنو کې زیاترو دا ویلې دي چې داسلام دمطالعې پرمهال داسلام دوفانه ډک ازدواجي نظام ، دخپلو لیو پاللو ، درشتو لحاظ دګاونډیانو سره دغوره سلوک ، دمېرمنو بې حده زیات احترام او دعامو انسانانو سره دښه رویې او داسې نورو غوره لارښوونو نه اغیزمنې شوي یو دکوم نه چې موږ بې برخې وو او دبې اعتمادۍ ، بې اطمینانۍ ، بې وفایۍ او خودغرضۍ نه په ډک چاپېریال کې مو شپې ورځې تېرېدلې .

دلته یوه یادونه ضروري بولم او هغه داچې په برتانیه کې په تېرو کابو ۹ کلونو کېږو مسلمانو شویو کوم ارقام موږ وړاندې ذکر کړل داهغه ارقام دي چې دبرتانې Swan sea نومې پوهنتون په یو راپور کې خپاره کړیدي ، ضروري نده چې همدادې دنویو مسلمانو شوو حقیقي شمېره وي ، حقیقي شمېره شاید ددې څو برابره وي ځکه چې کابو ۵ میاشتې وړاندې مې دبرتانې دیو ځېږ نیز مرکز (چې نوم یې راته اوس هېر دی) نه په خپور شوي راپور کې لوستلي وچې په برتانې کې چې په تېرو ۸ کلونو کې یواځې دکتاب لوستلو او انټرنیټ له لارې کوم تنان مسلمانان شویدي شمېره یې د ۱۰۰ زرو نه اوړي .

بسم الله الرحمن الرحیم

تعلیم و تربیه ستون فقرات کشور میباشد

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم(طلب العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمة)[او کما قال علیه السلام]

چو شمع از پی علم باید گداخت　　　　که بی علم نتوان خدا را شناخت

در جهان امروز تمام جهانیان و ممالک روبه انکشاف بر معارف و نصاب تعلیمی خویش متکی بوده و تعلیم و تربیه را از زیر بنای مملکت داسته پیشرفت و ترقی ممالک خود را در رشد آن تلقی مینماید

موږ د دونو به انکار نه وی کړی چې تر ټولو مو ستاسو په شپږ حیاء او فاحشه ټولنه نه وه چې وروڼو و دو یکي له منځه تللي او ټول ګډې یکې حیل جنسي حو اهشات ورنا له لارې پوره کوي. موږ دوه وړې وړې او خلور خلور ووینه کور او مېرمن مو را ته ښه ډېر بېچې راوړي. شکروی د خوا بانو کمي نشته او نه د وینو په لارکې د قربانۍ ورکولو جذبې او احساس کمي شته زموږ په خوابانو وین او خپل مقدسات د خپلو ځانونو نه ډېر ګران دي ځکه خو یې خپلې تنکۍ ځوانۍ قربانوي. تاسو چې پېپله د دې شي (په وینو قربانۍ ورکولو) نه بې برخې یاست ور انرې به پرې نه پوهیږئ خو اوس به پرې ډېر ښه پوه یاست! نو زموږ د وینو او مقدساتو پر ضد چې هر اقدام کوئ ستاسو اصل څېره به را ښکاره کیږي او ستاسو سره به زموږ ځوانانو نفرت زیاتیږي. سینو کې به یې د انتقام اور بلیږي، دا او به تاسو ته سرایت کوي او به یکي لوبه کیږئ لکه چې یکي لوبه شوئ!

غزنی

راټولونه: میرویس "طارق"

جغرافیه او لنډ تاریخ دعلامه رشاد صاحب له خولي

غزنی دافغانستان له لرغونو ولایتونو څخه دی. چې د جغرافیایي موقعیت له پلوه د شمال عرض البلد په ۳۳درجو او ۳۳دقیقو همدارنګه د ختیځ طول البلد ۲۸ درجو او ۲۵دقیقو کې پروت دی.

غزني دپایتخت(پلازمیني) کابل په جنوب غرب ۱۴۵ کیلومتري کي د کبل قندهار پرلویه لارپروت دی چې د ۳۴۵۵ کلیو له یوخایوالي څخه منځته راغلی دی

د غزني ولایت شمال لوري ته د وردګ او بامیان ولایتونه. ختیځ ته یې د پکتیا ،پکتیک او لوګر ولایتونه. جنوب ته یې هم د پکتیا ولایت او لویدیځ ته یې د زورګان او زابل ولایتونه پراته دي

د دې ولایت پراخوالی ۲۲۷۹۷ کیلومتره مربع بوول شوی دی. د وګړو شمېر یې د ۱۹۷۸م کال د سرشمېرنې له مخې ۷۰۱۰۰۰تنه. د ۱۹۹۹م کال د سرشمېرنې له مخې ۷۷۰۲۸۴ تنه او د ۱۳۷۹ل کال د حصایې له مخې ۹۲۵۵۷۲ تنه اټکل شوی دی. البته اوس کېدی شي د دې ولایت د وګړو شمېر یو ملیون ته رسېدلی وي، ځکه د وخت په تېرېدو سره د وګړو په شمېر کې زیاتوالی یوه طبیعي خبره ده.

په غزني ولایت کې د تېلو، اوسپنې او مالګې زیاتې زېرمې هم شته. چې له بده مرغه د شرایطو د ناسموالي او د فني کدرونو د نه شتون له کبله یې د راایستنې کار په ټپه ولاړ دی

دغرونو دمختلفو لړیو د موجودیت له امله غزنی اقلیم لري. زیات سوړ او اوږد ژمی لري په ژمي کې یې دحرارت درجه تر منفي ۲۰-۳۰ پورې رسیږي . دې ولایت هوا په دوبي کې توده او په ژمي کې خورا سړه وي. د ناورسیمه چې د ټول کال په وړدو کې یې تودوښه د سانتي ګراد له ۲۰ درجو څخه نه لوړېږي، له خورا یخو سیمو څخه ګڼل کېږي



د کال په اوږدو کې بې ۱۸۸ورځې نسبتا ګرمې او د اکتوبر د میاشتې له ۱۲مې نېټې څخه د اپرېل تر لسمې پورې یې هوا سړه او بارانې وي. د دې ولایت د کلني اورښت منځنی اندازه ۲۲۹۲ملي متره اټکل شوې ده او ځمکه یې د سمندر له سطحې څخه ۱۸۰۰متره لوړوالی لري

د غزني په ولایت کې دري غټ قومونه مېشت دي پښتانه، تاجک او هزاره.

له بله پلوه غزنی تر اسلام مخکې هم دفاعي اهمیت درلود او له ډېرو ستونزمنو مقاومتونو سره مخ شوی په را وروسته وختونو کې دعلاوالدین جهانسوز له خوا سوځول شو. د چنګېزیانو لخوا وران شو. خو هغه مهال چې سلطان محمود غزنوي واک ته ورسید. ده او کورنۍ یې د(۹۶۳تر ۱۱۸۶ م)کلونو په منځ کې دافغانستان په ګډون په ایران او دهند په لویه وچه امپراتوري درلوده او غزنی یې مرکز و، همدا راز د نامتو دیني علماوو او شاعرانو ټاټوبي پاته شوی.

د سلطان محمود غزنوي په وخت کې غزني دزیات پرمختګ او ریاتو ښکلو ابادیو د لرلو له امله دعروس البلاد په نامه ونومول شو.

دې دونې ور ده چې په ۲۰۰۷ زیږدیز کال، د اسلامي هېوادونو د اطلاعاتو و کلتور وریرانو په خپله یوه ناسته کې چې د لیبیا په مرکز طرابلس کې جوړه شوې وه، غزني په ۲۰۱۳ م کې د اسلامي نړۍ د تمدن د مرکز په توګه اعلان کړ کیدای شي غزني ولایت ته د اسلامي ثقافت او تمدن د پلازمېنې په نوم ورکولو سره، د غزني اصلي او تاریخي څېره رابرسېره شي.

دغزني ولایت تاریخي ځایونه اوزیارتونه

تاریخي ځایونه

1. بالا حصار
2.
3. منارونه
4. دمسعود ماني
5. بند سلطان
6. سردار تپه
7. د جواهر فروشي بازار

زیارتونه.

1. حضرت شمس
2. سلطان محمود غزنوي
3. سنايي
4. حکیم صاحب
5. دبهلول دانا
6. دشمس العارفین
7. سبکتګین مقبره

د غزني ولایت اداري ویش

شمیره	ولسوالي	مساحت	ژبه
۱	غزني مرکز	۵۳۳کیلومتره مربع	پښتو دري
۲	زنه خان	۲۵۴	پستو
۳	ده یک	۷۲۴	پستو
۴	خواجه عمري	۲۱۷	پښتو
۵	ناور	۵۹۸۳	هزارګي
۶	جغتو	۱۲۱۷	پستو
۷	جاغوري	۱۸۳۲	هزارګي
۸	مالستان	۱۹۷۵	هزارګي
۹	قره باغ	۱۸۱۰	پستو هزارګي
۱۰	مقر	۸۰۹	پستو
۱۱	ګیلان	۱۰۴۵	پښتو
۱۲	اب بند	۱۱۳۱	پښتو
۱۳	اندړ	۸۱۸	پښتو
۱۴	ګیرو	۸۵۲	بستو
۱۵	ناوه	۲۵۴۱	پسنو
۱۶	رشيد ن	۱۵۵۸	پسو-هزارګي
۱۷	واغظ	۱۲۹۴	پسو- هزارګي
۱۸	خوګیاني	۱۸۳۷	پسو هزارګي



8. جمع ولـ،

داوبو بندونه :

1. اب استاده
2. دسلطان بند
3. د سرده بند
4. دزنخان بند
5. دزرسنگ بند

تاريخ

دغزني ولايت په اړه دعلامه رشاد صاحب څېړنيز بيان:

۳۵۱ هـ ق کې د سامانيـو يو سپهسالار، چې الپتګين نوميده، د سمانيانو په مقابل کې بغـوت وکړ، د غزنوي دولت تېره يې کيښوله او غزني يې خپل مرکز وګرځاوه. د دعې کورنۍ پاچهي تقريبا دوه سوه کاله دوام وکړ، عرسي د غزنويانو په دوره کې تر ((ری)) او ((اصفهانه)) پورې تقريبا دوه سوه او ديرش کاله، د لوی فغـنستان مرکز و.

سلطان محمود غزنوي غازي (رح) په دې ښار کې دومره آبادي وکړې، چې په هغه زمانه کې دې ښـار تـه عروس لبلاد ويل کيده. په غزني کې د غزنوي پاچاهانو د څو تنو قبرونه معلوم دي د سلطان محمود غزنوي قبر با زيارت د روضې په نامه له کېله. چې خې د غزني په مدحل کې واقع دی. د ده د پلار سبکتګين قبر د غزني له بوې منارې سره نږدې شته او د سلطان محمود غازي د خورا توريـلي او پهلوان زوی سلطان مسعود قبر هم معلوم دی.

په دغو پاچاهانو کې، چې درته و مې ويله. سلطان سبکتګين په ۳۷۸ هـ ق کې مر دی او بيا، چې سلطان محمود پاچا شو، درې ديرش کاله پاچهي يې وکړه. په ۴۲۱ کې هغه هم وفـات شو او تر ده او محمد وروسته، چې د ده زوی و، مسعود پاچا شو، لس کالـه هغـه پاچهي وکړه، هغه په ۴۳۲ کې شهيد شو.

د لويو فرهنګيانو په سلسله کې د سنايي صاحب قبر هم هلته شته. حکيم سنايي د شپږم هـ ق قرن د لومړی نيمايي د ېر لوی فـرسـي شـاعر دی، د ده حديقه جهاني شهرت لري په دغه ښـار کې د علي لالا په نامه هم يو زيارت شته، چې هغه د غزنويانو د اوايلو لوی عارف تېر شوی دی .

د غزني له ښاره څخه بهر د دهک په نامه يو کلي دی، په دغه کلي کې د غوريانو د ستر

غاري سلطان شهاب لدين غوري (رح)، چې په ۶۰۲ هـ ق کې شهيد شوی دی، د هغه زيارت شته دهک د غزني جنوب شرقي خوا ته واقع دی.

که د سلطان محمود غزنوي دورې ته نظر واچوو، د بوه خورا لوی افغانستان نقشه به مو په ذهن کې ترسيم شوې وي. په ايران کې ((اصفهان)) او ((ری))، چې اوس يې تهران بولي، د ده تر تسلط لاندې و او دی، چې مړ کېده، د ده مشر زوی سلطان مسعود د ((ری)) او ((صفهان)) نايب السلطنه و او اوسنی پاکستان ټول د هغه وخت د غزنوي سلطنت جز و او د هندوستان په جنوب کې، تر سومنات پورې د ده فتوحات رسيدلي وو.

سومنات د کمبيت په خليج کې د بحيره عرب پر غاړه له بمبي څخه شمال ته واقع دی و په شرق کې د سلطان محمود د پاچهۍ اثرات تر قنوجه پورې رسيدلي وو.

قنوج د گنگ د سيند پر غاړه واقع دی او دا سيمې، چې د ده په پاچهۍ کې شاملې وې، د اوسني فغانستان په معلوم شهنشيو کې غالبا دوهمه شاهنشاهي ده. څکه يوازې موږ د کنشکا په زمانه کې وينو، چې د افغانستان بعنې د اوسني افغانستان سلطه د لوی کنشکا د پاچهۍ په وختو کې په ايران تر نيشاپور رسيدلې وه. او اوسنی پاکستان د هغه په حدودو کې شامل و. شمالي هندوستان هم د بنګال تر حدودو پورې د کنشکا د دولت جز و او په منځنۍ آسيا کې د چين



غربي ايالت، چې دی او هغه ته سنکيانګ وايي، چې دوی يې پخپله په چيني ژبه شين کيانګ بولي. په شين کيانګ کې د تورفان تر ترېحي ښاره پورې د ده د پاچهۍ اثرات رسيدلي وو او کاشغر او ختن د ده د دولت په ساحه کې شامل وو. پس له هغه څخه په اوسني افغانستان کې لويه شاهنشاهي. د سلطان محمود غزنوي په دوره کې موږ وينو.

تر اوس ۱۴۲۱ کاله دمخه يو چيني زاير، چې هيوان څانګ نومېده، له چين څخه د هندوستان په سفر، له فغانستان څخه تېر شوی دی. ۱۴ کاله يې په هند کې تېر کړي دي او بودايي دين کې يې خپل تحقيقات بشپړ کړي او بيا بيرته د افغانستان له لارې څخه چين ته ګرځيدلی دی. هغه د غزني ذکر په چيني تلفظ هوسينه ليکي. چينيان عموما د (غ) توری په هباندې وايي، چې ده په همدې شکل يعنې هوسينه ضبط کړی دی نو د د غزني، غزنه، عربين و عرنی په صورتونو د دې کلمې تلفظ راغلی دی حتی ځينې کسان وېي، چې د دې يو تلفظ ګرنه هم دی. غالبا (ګ) چې اوس يې په عوض کې (غ) راغلی دی، دا به د عزني تر تلفظ محکينی تلفظ و. څکه موږ وينو، چې (ګ) په پښتو ژبه کې او يا په ځينو نورو هندو اروپايي ژبو کې، چې دلته رواج دي، په (غ) باندې وړي، مثلا د ګر کلمه، چې موږ يې غر بولو د ګيري کلمه په سانسکريت کې د غره په معنی درې زره کاله مخکې مروجه وه. ګره اوس هم په روسي کې غره ته وايي. په فارسي کې د کوه کلمه، چې له اوستا سره راغلې کلمه ده، مخکې تر دې چې بايي په زړه فارسي کې، تر هغه لا وړاندې دا د ګر په شکل تلفظ کېده. خو اوس په

فارسي کې یوه کلمه د ګرېوې په مفهوم شته، ګرېوه په په فارسي کې غونډۍ ته وايي، چې د (وه) يې په اخر کې د تصغير لپاره راغلې ده، يعنې کوچنی غر يا غرګوتی .

غزني، د غزنويانو په دوره کې د مدنيت داسې مرکز و، چې هغه مدنيت تر خوارزمه رسيده. ماوراالنهر يې تر تسلط لاندې و، ايران بندې يې تسلط درلود. اوسنی پاکستان خو تول په کې و، دا داسې يو مدنيت و، چې دې سيمو د ټولو مدنيتونو د هندوستان تر سومناته او قنوجه پورې د دې له اشعو او وړانګو څخه په اصطلاح فيض موندلو او مخصوصا د اسلام دين پس له محمد بن قاسم ثقفي څخه، چې د لومړي قرن په وروستي لسيزه کې په سند کې اسلام راوست، تر هغه وروسته نو بيا د اسلام د دين د خپرولو او د اسلامي مدنيت د خپرولو ډير مهم اتل او قهرمان سلطان محمود غازي و. د غزني مدنيت هغه وخت په دې ټولو اطرافو او اکنافو کې د غزنويانو د سلطنت مخصوصا د سلطان محمود غزنوي په دوره کې خپل اثرات درلوده.



غزني هغه وخت يو فرهنګي مرکز و، زه نپوهيږم، چې تاسې علي هجويري پيژنئ که نه. علي د غزني د هجوير اوسېدونکی و، د هغه قبر په لاهور کې دی. هلته يې ډير خلک زيارت ته ورځي او هغه (داتا ګنج بخش) بولي.

دې سړي د کشف المحجوب په نامه عرفان او سلوک کې تر ساپي د مخه، خورا ډېر اثار ليکلي. چې يو يې همدا کشف المحجوب دی. هجويري په عرفان او سلوک کې ډېر لوی نوم لري مور که د غزنويانو پر فرهنګي فعاليتونو بحث کوو، له دې يو بيل فصل او داستان جوړيږي

په دغه دوره کې د فرسي ادب په باب مونږ بايد د ابوالقاسم فردوسي ذکر وکړو. چې د سلطان محمود غزنوي په دوره کې يې، رر کاله مخکې، شاهنامه فردوسي ليکلې ده او د سلطان محمود له درباره يې د چار مقاله عروضي په قول شپېته زره طلاوې سله موندلې ده او د سلطان محمود غزنوي د دربار د لويو شعرانو لکه عنصري بلخي، فرخي سيستاني او نورو مرکز و، عنصري بلخي د سلطان محمود د دربار ملک الشعرا و، د غزني شهرت د عزنويانو په دوره کې د مرکز په حيث هغه خپل نهايي اوج ته رسيدلی وو

ماخذونه

۱-افغانستان پیژندنه   ۲-هوسي مجله

۳-غزني بلاک   ۴-لونګ بلاک   ۵-ویکیپیدیه

" مژده "

و... کشتار غیرنظامیان قانونمند شد!

بعد از امضای قرارداد استراتژیک میان باراک اوباما و کرزی، خبر از ادامه بمباران های کور بر روستا های افغان می رسد. یک روز بعد از امضای این توافق نامه، بمباران نیروهای خارجی در ولسوالی شاه جوی ولایت زابل، موجب کشته شدن چهار غیرنظامی شد. در همان روز در اثر بمباران در ولسوالی الهسای ولایت کاپیسا، چهار غیرنظامی دیگر جان باختند. روز بعد این واقعه، در بمباران دیگری یک مادر با شش کودکش در ولسوالی سنگین ولایت هلمند کشته شدند. بعد از آن حمله، هوائی در ولسوالی بالامرغاب بادغیس به کشته شدن چهارده غیرنظامی و مجروح شدن تعدادی دیگر انجامید.

این درحالیست که فرمانده نیروهای امریکائی در افغانستان از سربازان کشورش خواست تا دست به کارهائی نزنند که تاثیر منفی داشته باشد. وی که در فورت بنینگ جورجیا خطاب به سربازان سخن می گفت به نقش رسانه ها در انعکاس رسوائی سربازان کشورش در افغانستان اشاره کرد و گفت:

فقط چند ثانیه کافیست تا یک عکس به خبر اول روزنامه های دنیا مبدل گردد. چنین اخباری می توانند بر ماموریت نیروهای ما تاثیر منفی برجا گذاشته و وجهه نیروهای ما را در جهان خدشه دار سازد و به قیمت جان نیروهای ما تمام شود. پانتا از سربازان خواست تا بزعم خودش به ارزش های نظامی ارتش امریکا احترام بگذارند. وی در ادامه گفت که من از تک تک شما و از همقطاران تان تقاضا دارم که عزم راسخ داشته و از خود نظم و یک پارچگی نشان دهید.

بعد از این اظهارات پانتا بود که نیروهای امریکائی روز جمعه 4 می در نتیجه، بمباران های هوائی، تعداد زیادی از غیرنظامیان افغان را کشتند. تنها در یک مورد، یک مادر با پنج فرزندش زمانی کشته شدند که طیارات امریکائی بمبی را بروی خانه، آنان پرتاب کردند. این کار طبق معمول به مخالفت کرزی موجه شد و گفت که اگر کشتار غیرنظامیان ادامه یابد، توافق نامه، استراتژیک مفهومی نخواهد داشت. طرفداران امضای موافقت نامه، استراتژیک با امریکا همیشه می گفتند که باید حضور نظامیان امریکائی در افغانستان قانونمند شود. اکنون که بقول آنان امضای این قرارداد موجب قانونمند شدن این حضور شده است. پس باید از این بعد کشتار غیرنظامیان در افغانستان را کشتار قانونمند دانست. آقای کرزی که خودش این توافق نامه را امضاء کرده است حق اعتراض را در این مورد ندارد!

یک محقق امریکائی که تاثیر کشتار غیرنظامیان بر جنگ را مورد تحقیق قرار داده است در مصاحبه با یکی از رسانه های بین المللی گفت که در افغانستان در برابر کشته شدن یک غیرنظامی، بصورت اوسط ده نفر به صف مخالفین مسلح می پیوندند.

این تحلیلگر امور نظامی می گوید که در برابر هر مخالف مسلح که در افغانستان هدف قرار می گیرد، 140 غیرنظامی بیگناه قربانی می شود وی گفت که مردم امریکا از حقایق جنگ در افغانستان بدور نگهداشته شده اند

برگردیم به سخنان لئون پانت وزیر دفاع امریکا که سخنانش می تواند سرمشق خوبی برای سربازان امریکائی باشد! وی چندی قبل در یک مصاحبه گفت که جنگ افغانستان بر بنیاد نظر سنجی صورت نمی گیرد وی این سخن را بعد از آن ابراز نمود که در اوایل ماه حمل سال جاری طی یک نظر سنجی رسانه ای، 69 درصد از مردم امریکا با جنگ کشور شان در افغانستان مخالفت کردند

این سخن پانتا به شکل حیرت آوری شباهت به سخن لیندن جانسون یکی از روسای جمهور امریکا در دوران جنگ ویتنام دارد در آن زمان مردم امریکا علیه جنگ کشور شان در ویتنام دست به تظاهرات گسترده می زدند وقتی از جانسون در مورد این تظاهرات خیابانی سوال شد. وی گفت سیاست امریکا در خیابان ها تعیین نمی شود اگر خیابان ها تعیین کننده، سیاست امریکا می بودند. امریکا از میان می رفت.

شباهت میان این دو سخن که به فاصله زمانی دهها سال بیان می شود نشان می دهد که امریکای امروز همانست که در دوران جنگ سرد بود نظر مردم در امریکا دیموکرات همانقدر دارای ارزش و ارج است که در دوران جنگ ویتنام بود.

نظر سنجی اخیر در مورد جنگ افغانستان که از سوی روزنامه نیویارک تایمز و شبکه تلویزیونی سی بی اس انجام شده. نشان میدهد که شصت و نه درصد مردم گفته اند ایالات متحده باید در جنگ افغانستان دخیل نباشد این تعداد چهار ماه پیش به 59 درصد می رسید.

قبل از آن در نیمه، دوم ماه حوت سال 1390 در انگلستان در یک نظر سنجی که از طرف (کامرس) برای شبکه، تلویزیونی آی تی وی صورت گرفته بود. 73 درصد مردم بریتانیا مخالف حضور سربازان کشور شان در افغانستان بودند و 55 درصد از آن خواهان خروج فوری این نیروها هستند جالب اینجاست که اکثریت مردم این کشور، روایت های رسمی حکومت شان در مورد نیاز به حضور این نیروها در افغانستان را نمی پذیرند و به این باور اند که جنگ افغانستان موجب کاهش خطر تروریسم در جهان نشده است.

اکنون سوال اینست که در تصمیم دولت ها برای جنگ. جایگاه نظر و رای مردم آن کشور ها کجاست؟ وقتی جانسون می گوید که سیاست امریکا در خیابان ها تعیین نمی شود و پانتا می گوید که امریکا تصمیم خود را برای جنگ را بر بنیاد نظر مردم امریکا نمی گیرد پس به همان نظر می رسیم که فقط گروهی اندک در امریکا حق تصمیم گیری در مورد مسایل مهم را دارند

نظر مردم امریکا در مورد جنگ افغانستان ناشی از سیاست های غلط پنتاگون است که از ابتدا راه اشتباه را انتخاب کرد و در جستجوی مراکز تروریست ها در روستا های افغانستان شد و سلسله، این کشتارها بعد از امضای قرارداد استراتژیک هم ادامه دارد و در آینده هم ادامه خواهد یافت.

د میرمنو فرائض اووظائف

سهار

په ټولو مخلوقاتو کې الله (ﷻ) انسان غوره او "اشرف المخلوقات" پيدا کړی ،څنګه چې دانسانيت غوښتني وا اړتياوي له حسابه وتلي او بيرون دي .الله (ﷻ) پخپل غوره دين (اسلام) کې هغه ټولي پوره کړي . او په اړه يې منصفانه اصول اومعيارونه ټاکلي

داچې بشريت ددوه جلا صنفو څخه عبارت دی چې يو يې نرينه او بل يې ښځينه دی ، الله (ﷻ) دانسانيت ي بشريت دغه وبش خپل بالغه حکمت ته په پام داسي کړيدی چې ددواړو حقوق او فرايض يې ددو ړو جلا ،جلا کتنه تعين اوټاکلي دي، جسماني ساحت اوجوړښت سره په نارينه چې دمضبوط جسم څښتن دی، فريض يې اووظايف يې ورته هم سحت اوسنتونرمن ټاکلي ، اوښځينه چې دجسماني ساخت اوجوړښت د پلوه کمزوري اوناړکه ده فرايض ورته هغسي اسان اونرم تعين کړي دي

او اسلام يوا ځينی دين دی، چې دښځو حسنه اعمال يې په زرينو کلماتو کې ستايلي دی ، ومیرمنوته يې ددي چانس اوموقع ورکړي ده، چې په ځينو معاملاتو کې دنارينه وو سره سيالي او آن ورنه سبقت و کړي ، په دي اړه ګڼ مثالونه اونموني شته .چې ميرمنو دنارينه وونه مخکې سبقت کړيدی ، اونرينه دهغوئ نه وروسته پاتي دی، تاريخ په دي شاهد دی چې ترټولو لومړی په رسول الله (ﷺ) باندي ايمان راوړونکي "خديجة الکبری (رض)" ترټول امت سبقت کړی دی. هم دارنګه داسلام په لار کې د شهادت جام ترټولو اول هم يوي ميرمني (حضرت سميه (رض)) نوش کړی اومخکې نرينه تري وروسته دي . داسلام ددويم خليفه حضرت عمر (رض) په اسلام قبلولو کې مؤثر رول دهغه دخور (فاطمة بنت الخطاب (رض)) و ،حضرت عايشه صديقه (رض) په خپل ذات کې داسلامي علومو لويه عالمه اوجامعه وه ، حضرت فاطمه (رض) دصبر او استقامت نمونه وه. ددي نه علاوه دداسي نورو صحابياتو نمونه هم شته ، چې ټول ژوند يې دښوښندارو کارنامونه عبارت وه ،اوتن ورباندي دتاريخ پاڼي ښانسته دي

اسلام دميرمنو لپاره کوم فرايض ټاکلي. نن سبا هغه ميرمني چې لږي ډيري زده کړي يې کړي وي دخپلو فرايضو دسرته رسولو په اړه ډيره کمه فکرمندي لري ، بلکې دحقوقو ترلاسه کولو په فکر کې ښکيل دي ، هرکله چې ميرمني خپل ټاکلي فرايض په ښه توګه ادا کوي .له امله يې په ټولنه تاثير هم مثبت وي ، او دميرمنو حقوقوته به ډير درناوی کيږي

اوکه داتاره (چې ميرمني دي دنارينه وو سره اوګه په اوګه چاري پرمخ بوځي) اومنل شي نوبيا ولي الله (ﷻ) نارينه اوښځينه په دوه جلا ،جلا صنفو ويشل؟ يقينا په دي کې دا ستر حکمت په نظر رځي چې هرکله دجسماني جوړښت اوساخت له پلوه دواړه ديوه بل سره توپيرلري پکار ده چې ددواړو دعمل ډګرونه هم بايد جلا وي ، ددواړو مسؤليتونه دي ديوه بل سره توپيرولري ، که ددي سربيره بيا هم ددواړو دعمل اومسؤليت ډګر يوشي نوناشوني ده ،چې په ټولنه کې توازن برخاى پاتي شي. هغه څه به وشي کوم چې په لويديځ کې وشول. هلته نارينه اوښځينه دکار اومسؤليت له پلوه برابردي ،خودي کار نارينه ووته دهغو فرايضو داداکولونه برائت ورکړی کوم چې په شرقي اوپه ځانګړي توګه اسلامي هيوادو کې دبوي ميرمني دميړه په ذمه دي ، هلته ميرمن مجبوره وي چې

خامخا به کارکوي او ښځه به په خپله دوډۍ پیدا کوي ، په میړه باندي د هغې نفقه ، کالي او کور نشته. هغه به خپله ښځې ته نفقه کالي وکور پیدا کوي . بل به کورنی نظام رنګ شي لویدیځ کې نن خانداني نظام رنګ شوی ، میرمنې د یوې مړۍ ډوډۍ موندلو لپاره ډیر سخت نه سخت کارونه سرته رسوي

حال دا چې الله (ﷻ) د میرمنې خبره د نرمې ختې نه اغیزلې . او هغه یې د شرم او حیا سیمبول جوړه کړې ،او نارینه یې د کلک زړه څښتن کړی ، ځو د کاله څخه بیرون درانه کارونه سرته ورسوی . میرمنې ته یې د مور ،لور ، خور ، ود میرمنه کیدو مرتبې ورکړي . او نارینه ته یې د پلار ، ورور ، خوی او خاوند مراتب ورکړي او د کورنۍ د ننه د نظم ونسق چارو تنظیمولو مشري یې میرمنې نه سپارلې . او ددې کار د سرته رسولو ځواک او طبیعت یې هم ورکړی ، اوس که نارینه د میرمنې په دې مسؤلیت مونګلي ځبنی کړی . او هغه یې سرته رسول پیل کړی ، نو ټول کورنی نظام به رنګ شي ، الله (ﷻ) میرمنې ته د مور مرتبه ښلې او بیا یې د پلار په مقابل کې د مور ثواب دري واره زیات کړی ، د په دې چې مور ۹ میاشتې ماشوم په خیټه ګرځوي ، د لنګون درد او مشقت زغمی ، هغه نه د پیو وورکولو زحمت تیروي ، د ماشوم د روزني او پالني لومړی مدرسه د مور غیږده ،هغه چې څنګه ماشوم تربیه او وروزي په ټولنه کې به د هغه نقش او رول هم هغسې وي ، د اسلامي حکمونو له مخې مور به د اولاد پالنه کوي ، په دې سره خپله د کاله ښیښه ګرځي ، په دې سره به کورنی نظام په کلکو بنسټونو ودریږي دا د میرمنې دنده ده

که میرمنې په میدانونو کې د نارینه وو سره څنګ په څنګ ګډون ولري او په دفترونو کې په کارکولو بوختې شوي یا هغه مقام ته شي موندلی ، کوم چې دنیا دار تیاوو پوره کولو لپاره دی ، پکار ده نارینه او ښځینه په خپلو حلالو کرونو کې کار وکړي . او هر یو دې خپل جلا منصبي فرایض او وظایف وپيژني ، په اسلامي شریعت کې کورنی ته د یوې "اداري" په بڼه کتل شوي او د اداري چارو واګې یې د میرمنې په لاس کې ورکړي دي . او هم دا یې د مسؤلیت د یره ده

په حدیث کې راغلي :هغه قوم به هیڅکله هم نجات و نه مومي کوم چې د خپلو چارو ذمه واري ښځو ته حواله کړي . دیته په پام د یو لک څلور ویشت زره انبیاوو له مخه یو هم ښځه نده رالستول شوی ، هم داسې په لمونځونو کې د ښځي د امامت نه شریعت منع راوړي او هغه یې د دې لپاره اهل نده ګرځولي . نو بیا څنګه کیدای شي چې نارینه و ښځینه دې دواړه یو ځای او ګډ په اوګه کار وکړي ، "د اسلام د لارښوونو له مخې هغه میرمن کمیابه ګڼل شوې ده کومه چې دین زده کړي او بیا یې نورو ته هم وښایي ، او خپل منصبي فرایض په ښه شان سرته رسوي ، په دې باندې په عمل کولو کې د ټولو ګټه او خیر دی ، او که میرمنې خپل دغه فرایض ترک کړي او ځان د دې په شور وزوږ کې ورګډ کړي ، نو ټولنه به وربږي او کورنی نظام به تباه شي

باید ښځه په کور کې پاتې شي . او خپل منصبي فرایض ادا کړي ، او د نارینه سره یو ځای د کار کولو نه ډډه وکړي ، میرمنې باید د کور و د ننه نظام ورغوي ، په دې سره به هغه به یواځې خپل کور خوشال کړي بلکې ټولنه به هم د جنت پشان ښایسته کړي ، او که کله دغو فرایض شاته کړي نو په دې سره به ټولنه جهنم کړي ، د لویدیځ نمونه زموږ په مخکې ده ، په هغه ټولنه کې نارینه او ښځینه کوم تو پیر نلري ،له دې وجې هغوئ اوس د ستړو ناحوالو او ستونزو سره مخ شوي ، د هغوئ تر منځ د فطرت کورنی ژوند رنګ شوی ، الله (ﷻ) دې موږ د دغسې حالت د ر تلو نه په خپل امان کې وساتي او هر چا ته دې د خپلو فرایضو او وظایفو د ادا کولو توفیق ورکړي (امین)

شهامت دار الافتاء

د قرآنکریم په ختم کې خوراک . غمناک اویسي اخستل

الاستفتاء : السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

زما پوښتنه دا ده چې د قرآنکریم د ختم نه وروسته چې د کور مالک هغو کسانو ته چې د ختم لپاره یې راوستي وي ډوډۍ ، چای او یا هم څه اندازه روپۍ ورکوي آیا دغه په شریعت کې جواز لري؟ او په دې باره کې کوم حدیث راغلی ؟

الجواب حامدا ومصلیا وبعد دقرآن کریم له ختمه وروسته چې خلکوته ډوډۍ ، چای یا روپۍ ورکول کیږي په ظاهره داجرت تو هم خیني کیږي چې باید جائزشي مګر فقهاوو لیکلي چې لمړی خو دغه تو هم باید خیني ونه شي . بلکې دغه عمال یې دثواب په خاطر وګڼو . او که اجرت هم شي بیا دې خبرې ته نظر وکړو چې دقرآن کریم په تلاوت داجرت داخستلو په موضوع کې هم دعلماوو اختلاف دی خیني علماء لکه علامه ابن نجیم صاحب دبحرالرائق ، صاحب فتاوی الکاملیة ، صاحب السراج الوهاج ، صاحب الفتاوی الفریدیه او داسې نورو نظر دادی چې په دې زمانه کې دقرآن کریم په تلاوت باندې اجرت اخستل جائز دي . او دوئ یې په ممت او نورو هغو اعمالو ورقیاسوي چې عبادات دي وشریعت کې ورته داجرت اخستلو اجازه ورکول شوې

کمافي البحر ۲۲۸\۵ قلت لایدل لان صاحب الاختیار علله بان اخذ الشئ بالقرآءة لایجوز لانه کالاجرة فاف د انه مبني علی غیر المفتی به فان المفتی به جواز الاخذ علی القراءة الخ وفي موضع آخر ۲۰۱۸ هذا في عرفهم من في عرف فیجور ذلک ومثله في الفتاوی الکاملیة ص\۲۹۲ - ۲۹۱ والاشباه النظائر ۲\۱۲۹ مع شرحه للحموي وفیض الباري . وانوارالبري اوفتح الملهم البته علامه شامی رحمه الله په ردالمحتار کې ناجائز ګڼلي قال التاج الشریعة في الشرح ان القرآن لایستحق الثواب لاللمیت ولاللقاري . وقال العیني في شرح الهدایة ویمنع القاري للدنیا والآخذ والمعطي آثمان فالحاصل ان ما شاع في زماننا من قرآءة الاجزاء بالاجرة لایجوز لان فیه الامر بالقراءة واعطاء الثواب للآمر والقرآءة لاجل المال الخ

او دتفصیل لپاره یې وګورئ شفاء العلیل في الختمات په هرصورت دغه یوه مختلف فیها مسئله ده شدت باید پکې ونه شي او په داسې مسائلو کې شدت حیله یو منکر دی چې ازاله یې واجب ده والله تعالی علم

که دلمونځ کونګي پايڅي له ښنګرونه کښته وي نولمونځ يې مکروه تحريمي دی

الاستفتاء - که ديوه سړي پايڅي تربيډ يو (بجلکو) کښته وي نولمونځ ورسره مکروه کيږي اوکنه؟ اوکه لمونځ ورسره مکروه کيږي نو که دامام پايڅې تربيډ بو کښته وي دمقتديانو لمونځ هم ورسره مکروه کيږي اوکنه؟
بينوا مولوي عبد لقدير

الجواب حامدا ومصليا وبعد که پايڅې تربيډ يو (بجلکو) کښته وي نودنارينه ولمونځ ورسره مکروه تحريمي دی. اوکله چې دامام لمونځ مکروه شي دمقتديانو لمونځ هم ورسره مکروه کيږي، ځکه مقتدين تابع دي وتابع دمتبوع په حکم کې دی او ددې لمونځه بيرته اعاده ضروري ده

في الموسوعة لفقهية ٢٣٣\١٢ وحكمه لكراهة. لما روي أنّ النبيّ صلى الله عليه وسلم قال «من جرّ ثوبه من الخيلاء لم ينظر الله إليه» وعن بن مسعود قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول «من أسبل إزاره في صلاته خيلاء فليس من الله جلّ ذكره في حلّ ولا حرم» وحديث أبي سعيد الخدريّ يرفعه «لا ينظر الله يوم القيامة إلى من جرّ إزاره بطراً».

وفي رد المحتار ٢\٩٢ كل صلاة أديت مع الكراهة سبيلها الاعادة اه. قلت أي لانه يشمل وجوبها في الوقت وبعده، أي بناء على أن الاعادة لا تختص بالوقت

وظاهر ما قدمناه عن شرح التحرير ترجيحه، وقد علمت أيضا ترجيح القول بالوجوب، فيكون المرجح وجوب الاعادة في الوقت وبعده، الى قوله ثم هذا حيث كان النقصان بكراهة تحريم وفي البحر ٢\٣٧٧ قولهم كل صلاة أديت مع الكراهة فسبيلها لاعادة وجوب الخ ومثله في احسن الفتاوى ٣\٢٧٥

دشغار نکاح ؟؟

الاستفتاء: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

زما پوښتنه د شغار په باره کې ده، آيا په اسلام کې شغار شته او کنه؟ که وي نو دليل سره يې واضح کړئ! او که نه وي، نن ورځ په افغانستان کې ولې عام رواج ګرځيدلی او حال دا چې خلک يې له ډيرو مشکلاتو سره مخ کړي دي وهغه زنانه چې دوئ په بدل کې ورکول کيږي هغوئ هم د ژوند تر پايه پورې ناراضه او له ژوند نه بيزاري وي

الجواب حامدا ومصليا وبعد وروره ستاسو دپوښتنې ځواب بايد لمړی له دې ځايه واضح کړم چې شغار دې ته وايې چې يو تن دبل سړي لور يا خور په دې ډول په نکاح کړي چې دغه کس بې ځپله لور يا خور هغوئ ته ورپه نکاح کړي نوله دوئ نه هره يوه نجلۍ دبلې مهر وګرځوي

دشغار حکم:

د شعار دمنعې په هکله صريح حديثونه راغلي، فقهاؤ ليکلي دي چې شغار مکروه دی، اونکاح صحيح کيږي. البته دشغار په صورت کې منعقده شوي نکاح کې دهمدغه منکوحو لپاره په خاوندانو مهرمثل لازم ګرځي

او پاتې شوه دا خبره چې شغار په افغانستان کې عام ګرځيدلی دی، نودا خبره سمه نه ده ځکه دشغار صورت تاسو ته معلوم شو چې مطلق يوه نجلۍ دبلې نجلۍ مهر وګرځوي، بعينه دا صورت په وطن کې نشته، بلکې هغه علماء چې دهمدې ډول نکاح عقد کوي نو په همدې مهال ضرور مهرونه متعين کوي، که څه هم اقل مهر وي وپه

ځینو سیموکې بې ددغه مهر په مقابل کې پلار ماورور تحوتو ته د کورسامان احلي چې دابې په مهر کې حساب وي یادغه دکور سـامان دمهرمقاصاة [ادا په اداکیدل] په دول وي

اوکه چیرته شاذا بعینه دشعار صورت واقع شوی وي نو هلته خومهر مثل په زوج باندي لازم دی خوکه میرمن یې خاوند ته ددعه مهر مثل عفوه وکړي نو بیا هم دغه کراهیت له مینځه ځي

في لمشکوة ۲۹۲\۲ عن ابن عمر رضی الله تعالی عـه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی عن الشعار والشغـر ان یـزوج الرجـل ابنتـه علی ان یزوجـه الآخر ابنتـه ولـیس بینهماصـداق متفـق علیـه قـال الشـرح لغورغوشتوي رح ووجه قول ابي حیفة رح ومن وافقه ان کلا منهما سمی مالایصلح صد قا فیصح لنکح ویلغو لـسمیة لعدم صلاح البضع صداق ویجب مهر المثل کمااداتروج وسمی الحمر اوالحنزیر وتروج بشرط نفی المهر اوتزوج بلاذکر المهر الح

في الهدایة ۳۴۵\۲ باب المهر وبصح النکاح وان لم سـم فـه المهر لان لنکاح عقدانضمام و زدواج لغة فیتم بالزوجین ثم المهر واجب شرع ابانة لشرف المحل فلایحتاح الی ذکره لصحة لنکاح الح

وفي الهندیة ۳۱۲\۱ للمرأة ان تهب ملها لزوجها من صداق دخل بها زوجها اولم یدخل الخ

وفي رد لمحتار ۳۲۱\۲ مطلب في نکح الشغار وحاصله انه مع ایجاب مهر المثل لم یبق شعرا حقیقة و ن سلم فالنهی علی معنی الکراهة الخ

وفي الفتاوی لفریدیه ۴۲۲\۴ ولان نکاح الشعار منهی عنه مادام کان شعرا والامر ن نکاح الشمار یلزم فیه مهر المثل فینقلب الی النکاح الشرعي

که څوک خارج ته په غیرقانوني توګه ځي . سمندرکې لاهو یاووژل شي نوشهیدورته ویل کیدلای شي ؟

لاستفت ، محترم مفتي صاحب پوښتنه مو داده چې ځیني افغانان په ن قانونه توګه خ رح ملکونو ته ځي چې ځیني یې کفري اوځیني غیرکفري هیوادونه دي ؟ دغه ناق نونه نگ افغانان دي ته ارباسي چې په خورا ستونزمونو لارو سفرونه وکړي . چې له ملهیې مرګ ژوبله رامینځ ته کیږي . نواوس دغه افغانان که دکفارو یا دیوه مسلمان ملک دپولیس تونکو لخو ووژل شي ب په سمندرکې دوب شي اوداسي نور نو شهیدان ورته ویل کیږي اوکنه ؟ همدغه موضوع له یوه ملګري سره په اوږدو بحثونو کې شکیل کړم که مهرباني وکړئ موږ ته په دي ره معلومات راکړئ خکه وس زموږ حکمان تاسو یاست ؟ درور مو عبدالکریم شیخ

الجواب حـمدا ومصلیا وبعد : لمړی باید باید داوپیږنو چې کفري هیوادونو ته دپیسو ګټلو لپاره سفرونه کول که سخته ارتیا نه وي نه دي جائز ، همداراز دیوبل اسلامي ملک د دخول اوخروج قوانین مراعاتول هم ضروري دي ،اوکه هغوئ اجازه ورنه کړي باید ورنه شي.

خو بیا هم ددي باوجود چې هغوئ بوناجائز عمل سرته رسوي که په لاره کې غرق شي یادهغوئ له لوري وویشتل شي ب په نوردعـي ورته عواملو بې مرګ رامینځ ته شي نوشهید ورته ویل کیدلای شي ودحکمي شهیدانو په لړ کي داخل دی.

في البحوث في القضايا الفقهية ص\٣٢٩ وكذلك ان اضطر المسلم بسبب انه لم تتيسر له في بلده وسائل المعاش الضرورية التي لابد له منها ولم يجدها الافي مثل هذه البلاد فانه يجوز ذلك ايضا بالشرط المذكور [هو ان يحفظ بفرائضه الدينية والايبتعد عن المنكرات المحرمة]

الى قوله اما اذا كان الرجل تيسر له وسائل المعاش في بلده المسلم على مستوي اهل بلده ولكنه هاجر الى بلاد الكفر للاستزادة منها والحصول على محض الرفة والنعم فان ذلك لايخلو من كراهة لمافيه من عرض النفس على المنكرات الشائعة هناك الى قوله واخرج ابوداود عن سمرة بن جندب قال اما بعد قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من جامع مشرك وسكن معه فانه مثله الخ . واخرج ابوداود والترمذي عن جرير بن عبدالله ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اني بريئ من كل مسلم يقيم بين اظهر المشركين قالو يارسول الله لم؟ قال لاترأى ناراهما . قال الخطابي فلايجوز لمسلم ان يسكن الكفار في بلادهم الخ

في رد المحتار ٤٣٧\٢ ش وطبع اخرى ٢٧٣\١١ وطبع اخرى ٢٧٤\٢ من غرق في قطع الطريق فهو شهيد وعليه إثم معصيته وكل من مات بسبب معصية فليس بشهيد . وإن مات في معصية بسبب من أسباب الشهادة فله أجر شهادته وعليه إثم معصيته . وكذلك لو قاتل على فرس مغصوب . أو كان قوم في معصية فوقع عليهم البيت فلهم الشهادة ، وعليهم إثم المعصية انتهى الخ

دير غلګرو په پيسو مسجدونه جوړول اوآبادول ؟

الاستفتاء: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته !

محترم مفتي صيب زه دا دوه پوښتني لرم هيله ده چې د شريعت مطهره په رڼا كې به يې ځواب راكړئ! وله پوسته دپې آرټي (prt) په پيسو د جومات او مدرسي جوړول روا دي كه نه؟ كه څوك دپې آر ټي په پيسو جومات جوړ كړي بيا پكې ع مو ته لمونځ روا دي كه ناروا؟ مولوي حبيب ننګرهار

الجواب حامدا ومصليا وبعد په اسلام كې د مسجد د تعمير او مرمت په سلسله كې د كفرو پيسو قبلولو او اخستلو څخه په كلكه منعه شوي . لكه په تفسير خازن كې يې د دې آيت ماكان للمشركين ان يعمروا مساجد الله ، سورة توبه ١٧ ، لاندې ليكلي دي

واختلفوا في المراد بالعمارة على قولين ، احدهما ان المراد بالعمارة العمارة المعروفة من بناء المسجد وتشييده ومرمتها عند خرابها فيمنع من الكافر . حتى لو اوصى ببناء المسجد لم تقبل وصيته . [تفسير جدي ١\٣٩٧] ژباړه له عمارت څخه څه مراد دي؟ نو په دې مسئله كې د مفسرينو دوه قوله دي . يو قول دا دي چې له عمارت څخه د مسجد جوړول ، او دهغه بيارغونه مراد ده ، نو څكه كافرته دغه شي ممنوع دي ، آن داكه كوم كافر د مسجد جوړولو وصيت وكړي . نو دهغه دغه وصيت قبول نه دي .

همدارنګه زمونږ فقهاو ليكلي دي چې د مسجد اقصى نه علاوه په نورو مساجدو كې د كافر نو مرستي اخستل نه دي جائز . او د مسجد اقصى د ترميم يا اعمار مرستي هم په ډيرو قيد نو مقيد دي دي مثلا دعه كوران به همدغه مرستي خالص د ثواب په نيت وركوي دوهم نه دا اند يښنه هم نه وي چې بيا به دوئ د چپلو عبادتځو د مشرك نه رسم ورو ج لپاره له مسلمانو څخه مرسته غواړي . باداچې له دا دول اعمالو څخه به دوئ د مسلمانو زړونو ته لاره نه پيدا كوي چې ورسره مينه وكړي . اوداسي نور

في ردالمحتار په كتاب الوقف : ان شرط وقف الذمي ان يكون قربة عندنا وعندهم كالوقف على الفقرآء وعلى مسجد القدس بخلاف الوقف على البيعة فانه قربة عندهم فقط ، اوعلى حج اوعمرة فانه قربة عندنا [شامي كتاب الوقف المجلد الثالث] ژباړه: دنامسلمانو دوقف قبلولو لپاره داشرط دي چې هغه په زموږ اوددوئ دواړو په عقيده سره دخير كاروي، لكه بيوزلو اوغريبانو سره مرسته ، اودمسجداقصى لپاره وقف ، په خلاف له كليسا ، ځكه دايوائې ددوئ په اند دثواب كاردى، يادحج اوعمري لپاره ،ځكه دابيايوائې زموږ په نزد دثواب كاردى.

وفى مجمع الانهر ٣٤\٤ وشرط صحة وقفه أن يكون قربة عندنا وعندهم فلو وقف على بيعة فإذا خربت كان للفقراء لم يصح وكان ميراثا لأنه ليس بقربة عندنا كالوقف على الحج والعمرة لأنه ليس بقربة عندهم بخلاف ما إذا وقف على مسجد بيت المقدس فإنه صحيح لأنه قربة عندنا وعندهم

اوپه حديث شريف كې راغلي: عن عياض رضى الله تعالى عنه انه اهدى للنبي صلى الله عليه وسلم هدية له ناقة فقال النبي صلى الله عليه وسلم اسلمت فقال: لا ، قال: فاني نهيت عن زبد المشركين. بخاري باب ماجاء في قبول هدايا المشركين.

وفي فتح الباري ١٣٢\٥ وجمع غيره بان الامتناع [اى امتناع قبول هدايا الكفرة] في حق من يريد بهديته التودد والموالات الخ.

وفى المحيط ٧١\٨ ومتى الحالة هذه لايجوز قبول الهدية لان سبيل المسلم ان يكون غليظا شديدا على الكفرة الخ په فتاوى حقانية ٣٤١\٥ كې راغلي: دكافرانو شيان اخستل په دي شرط جائز دي چې اسلام اواسلامي اقدارپه ځيني متاثرنه وي. والله تعالى اعلم

خوپه اوسني حالت كې چې يرغلګرودافغانستان په حريم يرغل كړى دي ،اوهغوئ په دغه ډول مرستوسره خورا ډير فاسد اغراض ،اوناوړه عزائم لري

مثلا هغوئ غواړي چې په دغه اعمالو سره دمسلمانانو زړونه خپل لوري ته ورمائيل كړي ، له جهاد څخه يې لاس په سر كړي ، اوبالاخرة يې خپل تسلط اوبيا يهودية اوعسويت ته دعوت كړي نوپه داسي حالاتو كې دهغوئ هرډول مرستي اخستل ناجائز دي څه معنى داچې ديره سپيڅلي مكان يعني مسجد لپاره ؟

په قرآن كريم كې لوى خداى جل جلاله فرمايي: إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ... 36 الانفال

بل ځاى كې الله تعالى فرمايي: وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ (113) هود دمعارف القرآن دتفسير په ١٢\توك ٥٨١ مخ راغلى: بَلْ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ ( ) النمل

يعني كله چې سليمان عليه السلام دملكه بلقيس هدايارد كړي نو.... دمسئلي تحقيق دادى چې كه دكافرانو دهدايا وپه قبلولو كې دمسلمانانو په كوم مصلحت كې خلل راتلل ،يا دكافرانو په حق كې دمسلمانانو په رايه كې كمزوري راتله نوبيا يې دهديو قبلول جائز نه دي ، بحواله روح المعاني

اودوهمه خبره داده چې كه يرغلګرو كوم چاته مسجد ورجوړكړى هم وي نوهغه شرعي مسجدنه ګڼل كيږي ، يعني دجماعت دلمانځه ثواب نه لري ،اعتكاف په كې صحت نه لري ،اوداسي نور ، ځكه ددغه اعمالو لپاره شرعي مسجد شرط دى اوديرغلګرو جوړشوي مساجد شرعي نه دي. كماتقدم والله تعالى اعلم

خامخا به کارکوي او ښځې ته به پخپله دوې پیدا کوي ، په میره باندې دهغې نفقه ، کالي او کورنشته، هغه به خپله ښځې ته نفقه کالي او کور پیدا کوي ، بل به کورنی نظام رنګ شي لویدیځ کې نن خانداني نظام رنګ شوی ، میرمنې دیوې مرې دوه دې موندلو لپاره ډیر سخت نه سخت کارونه سرته رسوي

حال دا چې الله (ﷻ) دمیرمنې خمیره دنرمې ختې نه اغیزلي ، او هغه یې دشرم او حیا سیمبول جوړه کړې ،او نارینه یې دکلک زړه ښتن کړی ، ځو د کاله څخه بیرون درانه کارونه سرته ورسوی ، میرمنې ته یې د مور ،لور ، خور ، او دمیرمنه کیدو مرتبې ورکړي ، او نارینه ته یې د پلار ، ورور ، خوې او خاوند مراتب ورکړي او د کورنی دننه دنظم ونسق چارو تنظیمولو مشري یې میرمنې ته سپارلې ، او ددې کار دسرته رسولو څواک او طبیعت یې هم ورکړی ، او س که نارینه دمیرمنې په دې مسؤلیت مونګلې ښتبي کړی ، او هغه یې سرته رسول پیل کړی ، نو ټول کورنی نظام به رنګ شي ، الله (ﷻ) میرمنې ته دمور مرتبه بښلې او بیا یې دپلار په مقابل کې دمور ثواب دري واره زیات کړی ، دا په دې چې مور ۹ میاشتې ماشوم په خیټه ګرځوي ، دلګون درد او مشقت زغمي ، هغه ته دپیو وورکولو زحمت تیروي ، دماشوم دروزنې او پالنې لومړی مدرسه دمور غیږده ،هغه چې څنګ ماشوم تربیه او وروزي په ټولنه کې به دهغه نقش اورول هم هغسې وي ، داسلامي حکمونو له مخې :موربه داولاد پالنه کوي ، په دې سره خپله دکاله ښتنه ګرځي ، په دې سره به کورنی نظام په کلکو بښتونو ودریږي دادمیرمنی دنده ده

که میرمنې په میدانونو کې دنارینه وو سره څنګ په څنګ ګډون ولري او په دفترونو کې په کارکولو بوختې شوي یا هغه مقام نشي موندلی، کوم چې دنیا دارتیاوو پوره کولو لپاره دی ، یکارده نارینه او ښځینه پخپلو جلا ډګرونو کې کارو کړی ، او هریو دې خپل جلا منصبي فرایض او وظائف وپیژني ، په اسلامي شریعت کې کورنی ته دیوې "اداري "په بڼه کتل شوي او داداري چارو واګې یې دمیرمنې په لاس کې ورکړي دي ، او هم دا یې دمسؤیت دایره ده

په حدیث کې راغلي :هغه قوم به هیڅکله هم نجات ونه مومي کوم چې دخپلو چارو ذمه واري ښځو ته حواله کړی ، دیته په پام دیولک څلورویشت زره انبیاوو له منځه یو هم ښځه ندی رااستول شوی ، هم داسي په لمونځونو کې دښځې دامامت نه شریعت منع راوړي او هغه یې ددې لپاره اهل نده ګرځولي ، نو بیا څنګه کیدای شي چې نارینه او ښځینه دې دواړه یو ځای او ګډ په اوګه کارو کړي ، ؟داسلام دلارښونو له مخې :هغه میرمن کامیابه ګڼل شوې ده کومه چې دین زده کړي او بیا یې نورو ته هم وښایي ، او خپل منصبي فرایض په ښه شان سرته رسوی ، په دې باندې په عمل کولو کې دټولو عافیت او خیردی ، او که میرمنی خپل دغه فرایض ترک کړی او ځان ددنیا په شور او زوږ کې ورګډ کړي ، نو ټولنه به ونړیږي او کورنی نظام به تباه شي

باید ښځه په کورکې پاتې شي ، او خپل منبصبي فرایض اداکړي ، او دنارینه سره یوځای دکار کولو نه ډډه وکړی ، میرمنې باید دکورو دننه نظام ورغوي ، په دې سره به هغه نه یوازې خپل کورخوشال کړي بلکې ټولنه به هم دجنت پشان ښائسته کړي ، او که کله دغو فرایض شاته کړي نو په دی سره به ټولنه جهنم کړي ، دلویدیځ نمونه زمونږ په مخکې ده ، په هغه ټولنه کې نارینه او ښځینه کوم توپیر نلري ،له دې وجې هغوئ اوس دستړو ناخوالو او ستونزو سرونه ټکوي ، دهغوئ ترمنځ دفطرت کورنی ژوند رنګ شوی ، الله (ﷻ) دې موږ ددغسې حالت دراتلو نه پخپل آمان کې وساتي او هرچا ته دې دخپلو فرایضو او وظائفو دادا کولو توفیق ورکړي (امین)

انتقام

(معتصم)

اخلــو اخلــو انتقــام پــه ســپینو تــورو
تــل ســاتلي مــو خپــل قــام پــه ســپینو تــورو

دا کیســـه ده لـــه ازلـــه نـــوې نـــه ده
ځلیــدلي زمــوږ نــام پــه ســپینو تــورو

دپاخـــه تکـــل پخـــې مینـــې زلمیـــانو
رســـولي ده اســـلام پـــه ســـپینو تـــورو

دتــاریخ پــاڼې چې ګــورم څــومره خوښ شم
هــر داســتان مــو دی تمام پــه ســپینو تــورو

مقتـــدي دشـــازلمو دانقـــلاب یـــم
بیــا مــو کــړی دی قیــام پــه ســپینو تــورو

ازادي بـــه ورنـــه اخلـــو معتصـــمه
جــوړوو بــه حــق نظــام پــه ســپینو تــورو

له کمره چیغې خیږي

هدایت الله "هجران"

بیــا دپــورې غــره لــه ســره چیغې خیژي
دهـــرنـــاولـــه هر کـــمره چیغې خیژي

شپنه مره شوه که شپونکې پـــه بم وروخوت
درمـــــــودشپـــې لـه بـره چیغې خیژي

دهوسې ستر ګوکې ډنډ ډنډ اوښکې راغلې
دغرڅـه لـه مـاتـه ښـکره چیغې خیژي

ربـه بیـاڅوک شهیدشوی سیندکې راغـــی
پیـــغلې ژاړي لـــه ګـــودره چیغې خیژي

پـه نـامـه دالـقاعـده وړې څوک باګرام تـه
دچـــورلـکې لـــه وزره چیغې خیژي

دالنـصـــاف شـــو دایساف زمونږ دکلي
مسجد وران شو لـــه ممبره چیغې خیژي

پـه تنـــکې تنـــه یـــې بیاچاره کش کړه
ســـوې ســـوې لـــه نـبنتره چیغې خیژي

بنایـــي غـــم بـه د(هجران) ورسره مل وي
دغـــزل لـــه زیـــر اوزوره چیغې خیژي

پـنـد

قاري عبدالوکیل نیازی

تابعدار چې څوک دنفس او دشیطان شي — خواهشاتو ددنیا پسې روان شي
بیا تمیز دحق باطل کولی نه شي — هر روا او ناروا ورته اسان شي
پاک الله ترینه توفیق دتوبې واخلي — جوړ په زړه یې تور داغونه دعصیان شي
که هرڅومره لوی بزرګ او پرهیزګار وي — دبلعم غونډې رسوا په ټول جهان شي
خلاص به نه شي څوک په علم له دې دامه — اې نیازیه نابغه که دزمان شي

خيالي زلميه

ملا عبدالعلي تسل

حريت دې عقيده کې رابنکاره شي
دتقليد په سلسله کې رابنکاره شي

تاچې واغوستله زغره دباړوتو
ميړتوب دې اراده کې رابنکاره شي

ترڅو مې دې واړه لاندې تر قدم کړي
سباوون دې په شمله کې رابنکاره شي

چې دې وزغملي سختې په زندان کې
لوړ همت دې په پنجره کې رابنکاره شي

دښمنان دې سيني څخه وروباندې کيږدي
ستا توپک چې په دره کې رابنکاره شي

اې په توره ګړنګ کې ناست خيالي زلميه
استقلال دې په څيره کې رابنکاره شي

دتسل ګلي په تا داسې ښايسته شي
لکه ګل چې په باغچه کې رابنکاره شي

خواجه عبدالله انصاري رحمه الله

الهي !!
اګر مجرمم مسلمانم واګر ګنهکارم پشيمانم
واګرعقابم خواهي مطيع فرمانم
واګررحمت فرمايي مستحق آنم . . .

شعر

(عرفان الله عرفاني)

يهود په تيښته شوې اربانانه ئې نور بلسو
ګلک عزم مودې کړی له هر خوانه ئې نور بلسو

نعرې دالجهاد دي شوې بيا ملي پاڅون دي
غازيان مو قهريدلي امريکانه يې نور بلسو

هر خواته انګازې دي د بلال د آذان غږ دی
ناتو شوه دړې وړې کليسانه يې نور بلسو

کاروان د مجاهدو طالبانو وريسې دی
آسيا خو په ځای پريده اروپانه يې نور بلسو

چې څه نه وه دوی وکړه اوس نمبر زمونږ راغلی
بلاد المسلمين او له صحرانه يې نور بلسو

دوښمنو او د او بښکو په بدل ضرور ترې اخلو
دخوږ ژوند او مستی هم له خندانه يې نور بلسو

نرې شوه پرې راتنګه ترې چاپير زمونږ زلمي دي
سرتيتي شرميدلي له دنيانه يې نور بلسو

رګونو کې مو وينه بيا راغلې په غورځنګ ده
عراق او فلسطين او له لبيانه يې نور بلسو

دحق لښکر راوتی ځی روان دی مخ په وړاندې
ډنمارک هم جرمن او کاناډانه يې نور بلسو

رپاند به سپين بيرغ په فرانسه او برطانيه کړو
دلوی برې اعظم او افريقانه ئې نور بلسو

خبر شي افغانانو راتلونکې ازادي ده
داوايم عرفاني سر له سبانه ئې نور بلسو